سبحان اللہ وبحمدہ سبحان اللہ العظیم



الاطمئنان رسم المفتی

ازافادات :

شیخ الحدیث والتفسیر حضرت مولانا مفتی عبدالروف

(اطمنان) صاحب حفظہ اللہ تعالی

خویدمه: عاکف ٮصری

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

دمرتب عرض:

الحمد لله رب العلمين ، الذى شرح صدر من شاء من عباده للفقه فى الدين ، ووفق لاتباع آثار السلف الصالحين وأشهد ان لااله الاالله وحده لاشريک له ، ولاند ، ولامعين ، وأشهد أن سيدنا ونبينا محمداً عبده ورسوله الصادق الأمين ، وخاتم الأنبيآء والمرسلين صلى الله تعالى عليه وسلم

امابعد:

ومالى لا أشكر الله تعالى عزوجل وهو الذى وفقنى لجمع هذاالأمالى وتأليفها « وَمَا كُنَّا لِنَهتَدِىَ لَولَا أَن هَدَانَا اللهُ» فهذه نعمة منه وفضل « وَاِن تَعُدُّوا نِعمَتَ اللهِ لَا تُحصُوهَا » اللهم ماكان بى من نعمت او بأحد من خلقک فمنک وحدک لاشريک لک فلک الحمد والشكر

دغه رساله په اصولو دفتوى يا افتاوى وركولوكې ترتيب سوى ده لهذا ترټولو ښه استفاده هغه ځوک ځيني کولی سی چې د تخصص فی الفقه په فن کې دمهارت واله وي په سنه ۱۴۴۴ هق کې داماليي په بڼه ليکل سوی ده له مشکوة د شيخ الاصول والفروع حضرت مولانا مفتى العصر الحاج ابو عبد الرحمن مفتى عبد الرؤف الاطمئنان حفظه الله وتعالى څخه او په مذکور کال تقريباً ۱۲۰۰ متخصصينو دغه رساله په يادکړي فلهذا ددغه غرض لپاره دغه رساله ستاسو تر لاسه دروررسيدل ترڅو دالله تعالى ددين خدمت نور هم وسيع سى هيله منديوچې سالمه ګټه ترى پورته کړي ترڅو دنيا اوآخرت مو ښائسته او روښان سي الله تعالى دي خپل دين ته نفعه ورباندي عامه کړي .

دوهمه خبره داده چې کيدلای سی په دغه رساله کې څه ناڅه نيمګړتيا وي موجودي وي په هره برخه کې نو له تاسو محترمو معزمو لوستونکيو څخه زه احقر « عاکف بصيرى » داهيله کوم چې لطفاً په لاندې آدرسونو موږ مطلع کړي ترڅو په اصلاح کې يي تاسو هم مأجور وبلل سئ او کوم ځای که سهوه راغلی وى نسبت يي ما لره دي فقط

MohammadSalimakef@gmil.com: ايميل ادرس

+93706845832: ټليفون

+93786138340: واتس آپ

ډالي:

په اول قدم کې: زما مشفق اوربانې استاد حضرت الحاج مفتي صاحب ته
دوهم: زما مهربان او مخلص مور، اوپلارته
دریم: زما ټولو همکارانو ته

اولٰہ مرحلہ

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبى بعده ط

امابعد:

📖 « اول فصل »

📖 **[اول بحث دفتوى لغوي او اصطلاحي معنا]**

فَتوى په فتحه (زرو) دحرف « فا » او فُتوى په بضمه (پيښ) دحرف « فا » ويل کيدلاي شي هکذا في تاج العروس .

ليکن اول (په فتحه؛ زور د حرف فا سره يي تلفظ او استعمال) مشهور دي .

فُتيا په ضمه د حرف فا فَتوى په فتحه دحرف فا د دغه دواړو جمعه په الفتاوِي (په کسره دحرف فا) او الفتاوَى (په فتحه د حرف واو او الف مقصوره) سره راځي دغه دواړه جمعي دعلماء وو په کلام کې استعمال لري.

لفظ د (الفَتوى) او لفظ د(الفُتيا) داوړه داستعمال وړ دي لکه حاصل دمصدر د باب ثخه د أفتى، يُفتي ، إفتاءً په لغت کې يي معنا دحاصل بالمصدر جواب والى ده* *معنا دمصدر معلوم جواب کول معنا دمصدر مجهول جواب کيدل دي*. جواب کول او جواب کيدل د دواړو مصداق په خارج کې جواب ترخوله وتل دي بس البته جواب والي (معنا دحاصل بالمصدر)غځيږي دزمان دغځيدلو سره اوس هم درى څلور کاله وروسته هم تر قيامته پورې جواب والى وي مطلب دا چي فتوى په لغت کې بنا په معنى دحاصل بالمصدر جواب والى ته وايي که تعلق ترا حکامو شرعيه وو پورې لري او که ئي نه لري .

شاهد : اول ؛ الله تعالی خپل په سپيڅلي کتاب قرآن کريم کې حکايت دمصر له پاچا داسي کوي اوفرمايي « يأَيُّهَا المَلَأُ أَفتُونِى فِى رُءيَيَ إِن كُنتُم لِلرُّءيَا تَعبُرُنَ » سورة يوسف : 43.

يعنی ماته فتوی(جواب، تعبير) دخوب راکړئ .

دوهم :حکايت په بند کې ديوسف عليه وعلي نبينا الصلاة والسلام دملګري الله تعالي کوي فرمايي : *(يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ أَفتِنَا فِى سَبعِ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأكُلُهُنَّ سَبعٌ عِجَافٌ وَسَبعِ سُنبُلَةٍ خُضرٍ وَأُخَرَ يَابِسَتٍ لَّعَلِّى أَرجِعُ إِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُم يَعلَمُونَ) سورة يوسف:46.

يعنی موږته فتوی(جواب تعبير) دخوب راکړئ.

دريم : الله تعالي خپل په سپيڅلي کتاب قرآن کريم کې دسبأ دقوم د ملکې (بلقيس) حکايت داسي کوي او فرمايي: *(يَأَيُّهَا المَلَأُ أَفتُونِى فِى أَمرِى مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمرًا حَتَّى تَشهَدُونَ)*. سورة النمل : 32.

يعنی ماته فتوی(جواب) راکړئ زما په کار کې .

په ذکر شويو مواضعو(ځايو نو) کې دفتوی لفظ استعمال شوي دمطلق سوال په جواب کې تر احکامو شرعيه وو پوري کوم تعلق نه لري.

***دوهم فتوی په اصطلاح* کې: يوه مخصوصه شوي کلمه ده کوم چي دسوال شرعي په جواب کې راځي .**

شاهد : په دغه معنی دالله تعالی په کتاب قرآن کريم کې هم استعمال شوي الله تعالي فرمايي:

(وَيَستَفتُونَكَ فِى النِّسَآءِ قُلِ اللهُ يُفتِيكُم فِيهِنَّ) سورة النسآء : 127.

دوهم الله تعالي فرمايي: *(يَستَفتُونَكَ قُلِ اللهُ يُفتِيكُم فِي الكَلَٰلَةِ)* سورة النسآء: 176.

يعنى دوي ستا څخه طلب دجواب شرعي كوي دبنځو سره په شرعي معامله كې او په تقسيم دميراث دكلله كې هغه څوک چي (اصول او فروع نه لري) .

او په ذخيره داحاديثو مباركانو كې هم شاهد لرو پيغمبر صل الله تعالى عليه وسلم فرمايي:

***[أَجرَؤُكُم عَلَى الفُتيا أَجرَؤُكُم عَلَى النّارِ]* اخرجه الدارامي : ١/ ١٧٩ .**

يعني هرڅوک ستاسو چي په ديني جواب جرأت كوي هغه دجهنم په اور جرأت كوي.

مطلب دجهنم اوريي خوښ دي. العياذ بالله.

خلاصه: دا چي اصلي معنا اصطلاحي د فتوى جواب دمسئلې ديني څخه

***تنبيه :* مخكي دمطلق سوال جواب وو هغه ډېر عام وو اوس دسوال شرعي جواب دي داڅېر خاص دي البته بيرته يي څه تعميم وكړي دسوال ديني جواب. شرعي ئي ځكه ونه ويل چې احكام په كې شته اعتقادات نه شته او په ديني كې دواړه شته ځكه مفتي كله دشرعي كله داعتقادي مسائلو اوكله داحاديثو مباركانو دمعنى يا سند (چي په كتاب كې وي) ياإسناد (چي ته يي وائي) وغير ذالک مسائلو جوابونه وركوي.**

مطلب دادي چي مفتي هغه څوک دي چي په قران او حديث پوهيږي قرآن اوحديث پوه

دوهم بحث اقسام دفتوى

دفتوى اوإفتآء دكلمې اطلاق په اصطلاح دعلماء وو كې په دريو معناوو كيږي

نو موږ فتوى درى قسمه ته تقسيمه ولاي شو

اول :فتوى تشريعيه.

دوهم : فتوی فقیه.

دریم : فتوی جزئیه.

اول : فتوی تشریعیه

داهغه فتوی ده چي دشارع څخه صادره وي په وحي متلو په قرآن کریم کې یا په وحي غیر متلو په حدیث شریف کې په جواب کې د سوال یا په جواب کې دیوې پیښې (حادثې ؛ که څه هم نزول دآیات په اعتبار دحاثې خاص وي البته مفهوم یي عام وي) په زمانه دپیغمبر صل الله تعالی علیه وسلم کې او هغه شریعت عام گرځیدلي وي.

فائده : دقرآن کریم اواحادیثو مبارکانو فرق څه دي ؟؟؟؟؟؟؟؟

استفاده : قرآن کریم لفظ او معنا دواړه دالله تعالی دي.

حدیث لفظ دپیغمبر صل الله تعالی علیه وسلم یا دجبرائیل علیه السلام دي معنا ئي دالله تعالی ده .

شاهد : الله تعالي فرمایي : (وَيَستَفتُونَکَ فِی النّسآءِ قُل اللّهُ يُفتِيكُم فِيهِنَّ) سورة النسآء : 127.

دوهم : الله تعالي فرمایي : (يَستَفتُونَکَ قُل اللّهُ يُفتِيكُم فِي الكَلَالَةِ) سورة النسآء : 176.

دریم : الله تعالي فرمایي (يَسئَلُونَکَ عَنِ الأَهِلّةِ قُل هِيَ مَوَاقِيتُ للنّاس وَالحَجِّ) سورة البقرة : 189.

دا نو تشریعي استفتاء وي او جوابونه دي ترقیامت پورې دغه شریعت دي .

اوهمداراز دهرسائل هر سوال ته جواب نه دي لازم او که داسي سوال کوي چي اخروي او دنيوي منفعة ورباندې مرتب نه وي لکن بليغ ته دا پکار ده چي داسي جواب ورکړي چي سائل خپله په دي پوه شي چي دغه سوال په دغه طريقه نه وو مناسب . بلکې داسي ذهنيت ورکړل شي چي ستا سوال بايد په دغه طريقه واي لکه مائي چي جواب وکړي لکه الله تعالي دوي ته جواب په حکمت ورکړي او داسي ئي ورته وفرمايل : (يَسئَلُونَکَ عَنِ الأَهِلَّة قُل هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاس وَالحَجِّ) سورة البقرة : 189. مطلب تاسي ئي علت څه کوي مقصد د تغيراتو دسپوږمۍ دادي چي په آيات مبارک کې ذکرسو.

دغه پورته ذکر شوي آياتونه مبارکان په جواب دسوال کې راغلي دي .

دريم: الله تعالي فرمايي: (يَسئَلُونَکَ عَنِ الشَّهرِ الحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ قُل قِتَالٌ فِيهِ کَبِيرٌ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ اللهِ وَکُفرٌ بِهِ وَالمَسجِدِ الحَرَامِ وَاِخرَاجُ أَهلِهِ مِنهُ أَکبَرُ عِندَ اللهِ وَالفِتنَةُ أَکبَرُ مِنَ القَتلِ) سورة البقرة :217.

دغه آيات شريف په نازله(حادثه)کې نازل شوي په باب دهغه سريي کې چي پيغمبر صل الله عليه وسلم استولي وه ديومعيين هدف لپاره

څلورم الله تعالي فرمايي: (يَسئَلُونَکَ عَنِ الخَمرِ وَالمَيسِرِ قُل فِيهِمَا إِثمٌ کَبِيرٌ وَمَنٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثمُهُمَا أَکبَرُ مِن نَّفعِهِمَا يَسئَلُونَکَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ العَفوَ کَذَالِکَ يُبَيِّنُ اللهُ لَکُمُ الآيَتِ لَعَلَّکُم تَتَفَکَّرُونَ) سورة البقرة:219.

پينځم الله تعالي فرمايي: (يَسئَلُونَکَ عَنِ الأَنفَالِ قُلِ الأَنفَالُ لِلهِ وَالرَّسُولِ فَاتَّقُوا اللهَ وَأَصلِحُوا ذَاتَ بَينِکُم وَأَطِيعُوا اللهَ وَرَسُولَهُ إِن کُنتُم مُؤمِنِينَ)* سورة الأنفال : 1.

معترضه غنيمت، فيّ ، نفل.

غنيمت: هغه دي چي په زور(اوجنګ) سره ګير شي په دي کي څلور حصي دمجاهدينو غازيانو شوي يوه حصه په اختيار اوتسلط کي داامام ده چي په مساکينو يې ويشي او که په عام المنفعة ځايو کي وغير ذالک.......

فيّ : هغه دي چي په زور ګير شي دوي بيريري البته جنګ ونه شي يا په صلحه کي روپۍ ورکړي کافر د دغه ټول صلاحيت داامام سره دي.

نفل: هغه دي چي اميريي دجنګ دباعث توب لپاره مجاهد ته ورکړي

تنبه: په قرآن عظيم الشان کي دادرى سره يو دبل په ځاي استعمال کيدلاي شي.

شپږم: الله تعالي فرمايي: *(قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ)* سورة المجادلة : 1.

دا دخوله بي بي چي زوجه دأوس ابن الصامت رضى الله عنهما په شان کي نازل شو واقعه يانازله ده .

ظهار خامخا کفاره غواړي.

په احاديثو مبارکانو کي دتشريعي فتوى مثال: عن ابن عباس رضى الله تعالى عنه: «« ان امرأة جاءت الى النبي صل الله تعالى عليه وسلم فقالت ان امي نذرت ان تحج فماتت قبل أن تحج أفأحج عنها ؟ قال: نعم حجي عنها »» رواه صحيح البخاري کتاب الحج باب الحج والنذر عن الميت.

دغه نو فتوى په حديث ده

دغه نوعه فتوى (تشريعي) فتوى دپيغمبر صل الله عليه وسلم په رحلت سره منقطع شوي ده

دوهم فتوى الفقهية ده

دا هغه فتوى ده چي تفرع دفروعاتو مجتهد مطلق يامجتهد في المذهب كوي ديوي فرعي په مثال کې ووايي تر يو خاص جزئيي مسئلې پور تعلق ونه لري بلکې تر عامي مسئلې پورې تعلق ولري او يا که جواب دسوال ښخه وي هغه هم دعام سوال ښخه جواب وي دخاص ښخه نه وي دزيد ښخه سوال نه وي دانسان ښخه سوال وي مثلاً: استنباط دحکم دلفظ دصرحتک دي چي تريو معلومي واقعي پوري تعلق نه لري.

دريم قسم فتوى جزئيه ده

داهغه فتوى ده چي جواب دسوال ښخه په واقعه معينه کې ورکړل شي مطلب په داسي طريقه سره چي جزئيه يي ترکليه لاندي کړي وي مثلاً زيد مړسو چي رجل معين دي ورثه يي دي والدين ، زوجة ، ابن، بنت ،نو د دوي ميراث ښنګه تقسيمېږي :
الجواب مسئله د۲۴ ښخه بناءده

پلاره ته سدس رسيږي ۲۴/۴.

مور ته سدس رسيږي : ۲۴/۴.

زوجه ته ثمن رسيږي ۲۴/۳.

زوي اولور ته : لذکر مثل حظ الأنثيين.هريو مذکر ته د دوو مؤنث حصه رسيږي.

تنبه: ډيرڅله دفتوى دلفظ اطلاق په هم دغه فتوى جزئيه کيږي البته په فتوى فقهيه يي هم اطلاق کيدلاي شي.

تمت بعون الله تعالي

📖 (دوهم فصل)

(اوله) مـــــاده:

📖 «طبقات دفقهآوو کرامو رحمهم الله تعالی علیهم دي»

په شپږ قسمه دي .

« اجـــــــــمــــــــــــالاً »

- ✓ اول: مجتهد مطلق (مجتهد مستقل)
- ✓ دوهم: مجتهد في المذهب (مجتهد غير مستقل)
- ✓ دريم : مجتهد في المسائل.
- ✓ څلورم: مجتهد: في التخريج .
- ✓ پينځم: مجتهد في الترجيح.
- ✓ شپږم: مجتهد في الفتوى.
- ✓ اووم: نو مقلدين دي.

تـــفـصيـــــــــــــلا

1. (**اول طبقه**)

مجتهد مطلق (مجتهدمستقل) ؛ هغه دي چي اساس د قواعدو اوتفرع دفروعات كولاي شي.

مثال: أئمه دمذاهبو اربعه وو دي

امام ابوحنيفه،امام شافعي ،امام مالک ،امام احمد رحمهم الله تعالى عليهم.

2. (**دوهم طبقه**)

مجتهد غير مستقل (مجتهد في المذهب)-: هغه هغو ته وايي چي أساس د قواعدو نه شي كولاى البته تفرع دفروعاتو كولاى شي.

مثال يي : علامه شامي په تنقيح الحامديه (ص63) . منحةالخالق (ص 83) درالمحتار (ص57ص6 جلده) شرح دعقودرسم مفتي (ص 14) په امام ابو يوسف،امام محمد،امام زفر، امام حسن ابن زياد رحمهم الله تعالى عليهم ويلي دي لكن دا خطآء ده

بلكي امام ابو يوسف،امام محمد،امام زفر، امام حسن ابن زياد رحمهم الله تعالى عليهم په مرتبه كي دمجتهد مطلق دي دوي هم اساس د قواعدو كولاي شي.

اعتراض: نوچي دوي اساس د قواعدو كولاي شي نو ځان ته ئي مذهب ولي نه جوړوي؟

الجواب: له دوو وجهو څخه

اول : مرعات دادب ئي کړي د استاذ سره

دوهم : ياخو تواروو دنظر راغلي تواروو دنظر دي ته وايي: مثلاً امام صاحب خپل په ځاي اجتهاد وکړي امام محمد صاحب خپل په ځاي اجتهاد وکړي لکن وروسته ئي چې مسئلي راواخستلي د دواړو مسئلي غيبي يوشان وی.

نو د دوهمي طبقې مثال كې : امام ابن الهمام ،امام طحاوي صاحب شرح معاني الآثار،امام كرخي رحمهم الله تعالى عليهم دي .

دارد چاكړي؟ شاه ولي الله په انصاف (80 ص) . تقريرات رافعي علي هامش ردالمحتار(11 ص) . مصباح دشيخ الاسلام (211ص). نافع كبير عبدالحي لكنوي صاحب (11 ص).

3. (**دريم طبقه**)–

مجتهد في المسائل : هغه نو هغه دي چې نه اساس دقواعدو كولاي شي او نه تفرع دفروعاتو كه يوه نوي مسئله پيښه شي دنظائروڅخه ئي رايستلي شي جزيه تركليه لاندې كولاي شي.

مثال: علي البزدوي صاحب،شمس الائمه الحلواني،شمس الأئمه السرخسي،قاضيخان.

4. (**څلورم طبقه**)–

مجتهد في التخريج: هغه ته وايي چې په يوه مسئله كې دصاحب المذهب څخه دوه قوله رانقل شوي وي محتمل دمعنيينو وي معلوم نه وي چې دصاحب المذهب مراد كومه يوه معنى ده دي راولاړشي تعيين ئي وكړي.

مثال يي كرخي ، او جصاص رحمهما الله تعالى دي .

5. (پينځم طبقه)

مجتهد في الترجيح دي :هغه ته وايي چي نه اساس دقواعدو کولاي شي او نه تفرع دفروعاتو کولاى شي او نه جزيه رايستلي شي لکه مجتهد في المسائل اونه تعيين داحتمال کولاي شي دمحتمل بلکې داسي کولاي شي چې د صاحب المذهب قول ته ترجيح ورکولاي شي او کلمات دترجيح کارولاي شي لکه به يفتى وعليه الفتوى..... وغيرذالک.

د دي په مثال : کې علامه شامي په تنقيح الحامديه (ص 63) منحةالخالق په (ص83) شامي په(ص57) عقود شرح رسم المفتي په (ص 15).مثال يي په قدري او هدايه ملا صاحبانو وايي خولکن بيا سخت خطآء وتلي ځکه صاحب دقاضيخان هم عصره دي تر قاضيخان يي رتبه زياته ده کمه نه ده نو هدايه په مجتهد في المسائل کې ده.

دغه خطآء شاه ولي الله په انصاف (ص80) کې په تقريرات رافعي علي هامش ردالمحتار(ص11/ج1) مصباح (ص211) نافع کبير(ص 11).

لکه ابوالحسن قدري ، علامه اسبجابي، علامه ابن کمال بادشاه دي.

6. (شپږم طبقه)

مجتهد في الفتوى -: د دغه طبقي فرق دمجتهد في الترجيح سره ډېر کم دي هغوي په ډاډه زړه سره داويلي شي چي هو الاصح وبه يفتي ... وغيره ذالک لکن مجتهد في الفتوى په ډاډه زړه نه شي ويلي بلکې ښه قول رانقل کولاي شي

لکه اصحاب دمتونو معتبرو مصنف دکنز،مختصرالقدري ، مختار ،وقايه،ملتقى الابحر ، مجمع البحرين.

دغه شپږ طبقي دمجتهدينو شوي

تنبيه : په مابين داولو دوو طبقو کې تباين دي مطلب مجتهد مطلق مجتهد في المذهب نه شي کيدلاي مجتهد في المذهب مجتهد مطلق نه شي کيدلاي البته نورې طبقې داسې نه دي

هر اعلى ادنى کيدلاي شي.

7. (**اووم طبقه**)

مقلدين دي : مقلدين حضرات هغه څوک دي چي دمخکی تيرو سويو طبقاتو الفقهاءووپه وظائفو کی يوه وظيفه هم نه سی اجراء کولای .

لکه امی مسلمانان.

ردالمحتار (ج۱/۵۷)

اصول الافتاء (۱۱۱)

شرح عقود رسم المفتی (۸)

تمت بالخير.

(المبحث الاول طبقات فقهآء الحنفيه)

حضرت امام العلامة ابن العابدين الشامي رحمه الله تعالى په شرح دعقود رسم المفتى كې ذكر كړي چي طبقات د فقهآء الحنفيه په څو طبقاتو كې دي او ابن كمال باشا په اوو طبقو كې منحصر كړي دي.

اوله طبقه دمجتهد فى الشرع: لكه ائمه الاربعه اوهغه څوک چي تګ يي كړي په مسلک د دوي په تأسيس دقواعدو اواصول اوپه استنباط دأحكامو تفريعي وو كې له دلائلو اربعه وو څخه(قرآن، حديث، اجماع، قياس) بي له تقليد څخه ديو چا نه په فروع كې اونه په اصولو كې

دوهمه طبقه مجتهد في المذهب: لكه ابى يوسف امام محمد او نور أصحاب دابى حنيفه رحمهم الله تعالى هغه چي قادر وو په استخراج دأحكامو له ادله اربعه وو څخه په طريقه دهغه قواعدو چي ددوي استاذ دوي ته مقرري كړي وي كه څه هم دوي دامام صاحب مخالف دي په بعضو فروعو كې البته په اصولو كې به خامخا تقليد دامام صاحب كوي.

دريمه طبقه مجتهدين فى المسائل: دوي مسائل راباسي داسي مسائل چي په هغه كې دصاحب المذهب څخه روايت نه وي لكه خصاف، ابي جعفر الطحاوى وابى الحسن الكرخى شمس الائمه الحلواني،اوشمس الأئمه السرخسي ، او فخرالاسلام البزدوي، فخرالدين قاضي خان او داسي نور دوي نه دي قادر په مخالفت دامام نه په أصولو كې او نه په فروعو كې البته دوي أحكام له مسائلو څخه استنباطه ولايشي هغه أحكام چي په هغه كې كوم نص نه دي راغلي په طريقه دهغه أصولو چي دوي مقرر كړي دي او په مقتضى دقواعدو كوم چي دوي دهغه بحث كړي يعنى ده دوي داستاذ په هغه قواعدو يي راباسي

جناب حاجي شيخ صاحب العالم المتبحر فرمايي : چي دوي نه په أصولو اونه په فروعو کې مخالفت کوي بلکې په نويو مسائلو کې يي راباسي

دمجتهد في المذهب چي دوهمه رتبه وه هغه داسي کول چي امام صاحب خپل په مسائلو سل تفريعات کړي دي دوي بيا دوزره تفريعات کړي په هغه أصولو اوقواعدو باندي

اودمجتهد في المسائل په زمانه کې نوی مسئله پيښه شوي ده د رائيستلي ده

څلورمه طبقه دأصحاب التخريج له المقلدينو څخه: لکه إمام رازي او دده مبارک امثال دوي په اجتهاد اصلاً قادر نه دي لکن دوي إحاطه په أصولو لري او مأخذ يي هم په ياد دي دوي قادر دي په تفصيل دقول مجمل هغه مجمل چي ذي وجهين وي او دهغه حکم په تفصيل چي محتمل دامرينو وي چي رانقل شوي وي دصاحب المذهب څخه او يا يو دأصحاب المجتهدينو څخه په رأى اونظر د دوي اومقايسه کولاي شي په أمثالو اوپه نظائرو له فروعو څخه اوهغه چي په هدايه شريفه کې راځي چي وايي(کذا فی تخريج الکرخي) و (تخريج الرازي) دهمدغه قبيلې څخه دي

مطلب دوي نه مسئله رائيستلي سي نه په نوی مسئله کې جواب ورکولاي شي لکن له دوي څخه مخکي مجتهد ين که صاحب المذهب وي او که دهغه شاګردان وي دهغه پرمذهب دوي تفرعات کولاي سي تعين دمحتمل يي کولاي شي که مجمل وو تفصيل يي کولاي سي که يي دوې معنى وي لرى ديوي معنى تعين يي کولاي سي.

پينځمه طبقه دأصحاب الترجيح ده له مقليدينو څخه : لکه أبى الحسين القدوري صاحب دهدايه او ددوي امثال د دوي شان دادى چي تفضيل دبعضو رواياتو په بعض آخر کولاي شي لکه داسي((هذا أولى)) يا ((هذا أصح روية)) يا ((هذا أوضح)) يا((هذا أوفق بالقياس)) يا هذا ارفق للناس)) .

شپږمه طبقه هغه مقلدين چي دوي قادر وي په تميز(فرق) په مابين دأقوی، قوی، ضعيف،ظاهرالرواية، ظاهرالمذهب، اوالنادرالروايت لکه: أصحاب دمتونو معتبره وو په مثال دصاحب (الکنز)او صاحب(المختار) اوصاحب د (دالوقايه) او صاحب د (المجمع)

ددوي شان دادي چي دوي خپل په کتابونو کې مردود أقوال او روايات ضعيفه نه راوړي.

اوومه طبقه دهغو مقليدينو ده چي دوي قادر نه وي په هغه چي ذکر شول دوي فرق په مابين دغث (ډنګر) اوسمين (چاغ ، تيار) کې نه شي کولاي اوفرق دشمال(چپ) يمين(راسته) نه شي کولای بل کې چي پيدا کوي يي راجمعه کوي يي لکه هغه سړي چي دشپي بوتي راټوله وي «« فالويل لمن قلدهم کل الويل »» ويل په جهنم کې يوه شله ده چي جهنم خپله پناه ځيني غواړي

(ويل) چي هر ځاي راشي مستحق يي وي.

(ويحه) چي هرځاي راشي غير مستحق يي وي.

کومي طبقی چي ابن کمال باشا صاحب ذکرکړي دي زياتو متأخرينو علماء کرامو په هغه أخذ کړي بي له کوم نقد اوتثبيت څخه لکن دراسخينو علماء کرامو يوه ټولي په دغه تقسيم دابن کمال باشا انتقاد کړی ځکه چي دابن کمال باشا په کلام کې ملاحظات شته له ډېرو وجوهاتو څخه خپله شامي ملا صاحب په نقل کی تثبت نه دی کړي نو همدا وجه ده چي هلته په رسم المفتی کې زموږ مشفق او مهربان استاذ عالم المتبحر مفتی ابو عبدالرحمن مفتي إطمنان صاحب پوره تحقيق راته کړي هلته يي مطالعه کړي هلته دوه ملاحظات شته

اول ملاحظه: ابن کمال باشا رحمه الله تعالى امام ابويوسف او امام محمد بن الشيباني رحمهما الله تعالى دواړه دمجتهدين فى المذهب څخه شمارلي دي هغه مجتهدين فى المذهب چي هغه تقليد دخپل امام کوي او علامه شهاب الدين المرجاني په دغه خبره سخت رد کړي په خپل کتاب (ناظور الحق) کې اومولانا الشيخ عبد الحي اللکنوي رحمه الله تعالى فى مقدمه د (الجامع الصغير) او په (عمدة الرعاية) کې په دی باندي چي مخالفت ددوي دواړو دامام صاحب سره په أصولو کې غير قليل دي حتى امام غزالي رحمه الله تعالى په خپل کتاب (المنخول) کې ذکر کوي چي يارانو مبارکانو دامام صاحب دوه ثلثه دمذهب په اختلاف کې دي

همدارنګه ثابته کړي داخبر العلامة المرجاني رحمه الله تعالى او وايي په شان ديارانو او امام زفر رحمهم الله تعالى وايي (چي ددوي حال په فقه کې که څه هم تر امام مالک، اوامام شافعي رحمهما الله تعالى اعلى (لوړنه) دي البته ادنى (کښته)هم نه دي نو چي دوي مجتهد مطلق دي ياران مبارکان هم مجتهد مطلق دي او داخبره مشهور شوي ده دخلکو په خولو کې که مخالف دي او که موافق او جاری شوی په أمثالو کې داقول ددوي(چي ابو حنيفه أبويوسف) ابويوسف اوبوحنيفه دي په دي معنى چي بالغ وهغه درجي قُصوى ته په فقه کې ابويوسف دي أبويوسف ابو حنيفه دي .

اونقل کړي دي امام نووي رحمه الله تعالى په (تهذيب الاسمآء) کتاب کې له ابو المعالى الجويني څخه – چي هرڅه مختاره کړي مازني زه هغه وينم چي هغه تخريج ملحق په مذهب دي نه دي لکه امام ابويوسف او محمد ځکه دوي دواړه مخالف دي په أصولو کې دخپل صاحب –

مطلب دادي يودادي چي مازني مختاره کړي دي اخراج دي داسي چي په مذهب پوري ملحق دي او امام محمد صاحب او امام ابويوسف صاحب چي کوم إختلاف کړي

هغه داسي دي چي سړي دمذهبه باندي وزي داسي اختلاف يي کړي چي بلکل اصل يي مخالف دي

له همدغه وجهي څخه ويلي دي حضرت مولانا عبد الحي اللکنوي رحمه الله تعالى حق دادي چي داسي وويل شي ياران مبارکان مجتهدان مستقلان دي او دوي مرتبي ته دمجتهد مطلق رسيدلي دي نو مذهب يي ولي جوړ نه کړي؟

جواب: ځکه چي دوي دخپل استاذ سره حسن تعظيم درلودي او زيات اجلال اوعزت يي داستاذ کوي دوي دواړو کيښبودي اصل دخپل استاذ اودوي متوجه شول ونقل ته دخپل مذهب او دوي ځانونه منسوب کړل خپل استاذ ته دوي خپل داستاذ اصل کيښبودي

داسي شول لکه ده چي دوي دواړه کرځولي وي دمجتهدينو منسوبينو څخه نه داسي لکه مجتهد في المذهب او مجتهد منتسب يو قسم مستقل دي له جملي دفقهآء کرامو نه او ابن کمال باشا دانه دي ذکر کړي رحمه الله تعالى

لنډه خبره: مجتهد في المذهب: هغه چاته وايي چي فروع کولاي شي دوي دوه ياران مبارکان ځکه مجتهد في المذهب نه شول چي أصول يي ايښي دي لکن ځان ته يي مستقل مذهب هم نه کړي مختاره نو مجتهد مطلق هم نه شو ځکه چي يو خو توارد دنظر وو يا اجلال داستاذ وو توارد دامعنى ددوي مبارکانو په ذهن کي به چي کوم أصل راوګرځيدى هغه به دامام صاحب سره موافق وو نو ځکه يي مذهب جلا مذهب نه شو بلکى دوي منتسبين شول

خلاصه نه مجتهد في المذهب شول ځکه تر مجتهد في المذهب يي رتبه لوړه شوه اونه مجتهد مطلق يا مجتهد مستقل هم نه شول ځکه دوي دخپل استاذ سره ادب وکړي او خپل ځان استاذته منسوب کوي

بهرحال دوي اختلاف کړي په مصداق کې دمجتهد منتسب په دريو اقوالو کې:

اول : هغه قول دي چي شيخ عبد الحي اللکنوي رحمه الله تعالی ذکر کړي چي مجتهد المنتسب په حقيقت کې مجتهد مطلق دي نه په أصولو اونه په فروعو کې دهيچا تقليد نه کوي لکن ځان دوي استاذ ته منسوب کړي لپاره دعزت او اجلال دخپل استاذ

دوهم: هغه دي چي امام نووي رحمه الله تعالی ذکر کړي دابن صلاح رحمه الله تعالی څخه چي مجتهد منتسب مجتهد مطلق دي لکن نسبت يي مجتهد مستقل ته ځکه کيږي چي دهغه طريقه په اجتهاد کې چله وي او دابو اسحق الإسفراييني څخه حکايت دي چي دوي تګ کړي دامام شافعي رحمه الله تعالی مذهب ته داسې نه چي دهغه تقليد دوي کوي بلکې دوي چي کله د هغه طريقې پيدا کړي په اجتهاد او قياس کې هغه طريقې اسد الطروق وي مطلب بنائسته طروق اودوي ته لابدي هم نه وه په اجتهاد کې له دغه طروقو څخه دوي وچله وله طريقه دإمام شافعي رحمه الله تعالی اوطلب يي کړل معرفت دأحکامو په طريقه دشافعي صاحب

اوذکر کړي ابو علی السنجي رحمه الله تعالی همدارنګه دی وايي چي موږ اتباع کړي دإمام شافعي رحمه الله تعالی دبل چانه ځکه دي موږ پيدا کړي ارجح الاقوال او اعدالاقوال داسي نه چي موږ دده تقليد کړي وي .

حاصل دادي چي مجتهد منتسب منسوب کيږي و مجتهد مستقل ته ځکه دده اجتهاد موافق دي دهغه چا داجتهاد سره چي دهغه انتساب په لويو مسائلو کې دلره وي داسي نه دي چي په أصولو او فروعو کې يي دهغه تقليد کړي داخبره مختاره کړي ده ابن الصلاح ، او سيوطی رحمهما الله تعالی

دمنتسب دوه تفسيره شه پيادکړئ

اول منتسب هغه دي چي سم دم ټول اصول يي اينبولي شول خو داسي دوی نه دي کړي استاذ ته يي ځان منسوب کړي لپاره دعزت دخپل استاذ.

دوهم: دادي چي اصول يي خپل په طبيعت ابنبی دی لکن په څلور امامانو مبارکانو کې يي دشافعي صاحب أصول خوښ شول په دي وجه يي نه دي خوښ کړي چي دی يي مقلد دي په دي وجه يي خوښ کړي چي اجتهاد يي وکړي که شافعي صاحب بلکل نه واي هم به مادغه أصول خوښ کړي واي.

حضرت امام سيوطی صاحب په مابين دمجتهد مستقل او مجتهد مطلق کې نسبت دعموم او خصوص وايي نو هر مستقل مطلق دي لکن هرمطلق مستقل نه دي.

دمطلق يو فرد منتسب هم دي نو دمطلق دوه فرده دي

يو مستقل اوبل مطلق دواړه افراد دمنتسب دي دمجتهد في المذهب څخه ووتل منتسب هم ووتي مستقل هم ووتي موږ مجتهد مطلق يوازي مستقل بللو اوس مجتهد مطلق هم منتسب شو او هم مستقل.

دريم قول: عبدالوهاب الشعراني ذکر کړي دي رحمه الله تعالی ټول هغه څوک چي دعوه داجتهاد مطلق کوي يعنی په متأخره عصرو کې مراد دهغه مطلق منتسب دي هغه چي دخپل امام له قواعدو څخه نه وځي لکه ابن قاسم،اواصبغ سره دامام مالک، او محمد اوابی يوسف، سره دامام ابو حنيفه او مزنی اوربيع سره دامام شافعي رحمهم الله تعالی

دغه کلام په دي اګاهي ورکوي چي شيخ شعرانی رحمه الله تعالی ګرځولي دي مجتهد منتسب مقلد دخپل امام په اصولو کې او حال دمنتسب داسي دي لکه حال دمجتهد في المذهب په هغه کې چي ابن کمال باشا ذکر کړي لکن شعرانی رحمه الله تعالی منتسب مجتهد مطلق ګرځولي نو ښايي چي مراد يي هغه څه وي چي شيخ ولي الله

الدهلوي رحمه الله تعالى ذکر کړي په انصاف کې چي مجتهد منتسب يو قسم دي په مابين دمجتهد مطلق او مجتهد في المذهب کې

منتسب ددوی په مابين کې واسطه ده

پوه شه چي دغه مجتهد يعنی مجتهد مطلق کله کله مستقل وي او کله کله منتسب مستقل لره وي او مستقل هغه دي چي له نورو مجتهد ينو څخه راجلا وي په درى خصلتونو سره: لکه ته چي داويني په امام شافعي صاحب کې ظاهرا

اول: چي تصرف کولای شي په اصولو او قواعدو کې هغه اصول او قواعد چي له هغه څخه فقه مستنبطيږي لکه دغه خبره ذکر ده په اوائلو دام کې.

دوهم: جمعه کوي أحاديث او آثار حاصله وي يي احکام او تنبيه ورکوي لپاره دأخذ دفقه له أحاديثو او آثارو څخه او جمعه کوي مختلف يودبل او يو په بل ترجيح ورکوي بعضو ته په بعضو او معين کوي دبعضو محتمل دأحاديثو.

دريم: چي تفريع کوي هغه تفريعات چي وارد شي په ده باندي له هغه څخه چي ترده مخکی وال نه وي کړي په جواب کې په دغه مسئله کې له هغه قرونو څخه چي مشهود بالخير دی (صحابه، تابعين، تبع تابعين)

مطلب داسي جواب وکړي چي دده ترمخ جواب چانه وي ورکړي.

څلورم خصلت دادي: چي له آسمان څخه قبول ورته رانزل شوي وي.

مجتهد مطلق هغه شو چي په اصولو او قواعدو کې تصرف کولای شي له ځانه قاعده اينبولي شي بيرته يي غلطه ولي شي بيرته بله رائيستلي سي.

دوهم حديث راجمعه کولاي سي اثار راجمعه کولاي شي احکام ځيني رائيستلي شي تطبيق ترجيح ټول کولاي شي يوراجح بل مرجوح ګرځولي شي يو ناسخ بل منسوخ ګرځولي شي او که چيري محتمل راغلي دهغه تعين هم کولاي شي.

دريم په ټولو فروعاتو باندي دي داسي جواب ورکولاي شي چې په خير القرون کې داسي جواب چا نه وي ورکړي.

څلورم چي له آسمان څخه قبول ورته راغلي وي

په هغه درى وجهو کوم تعريف چي وشو ډير مجتهدين ځيني لاندې شول البته په اخري قيد چي له اسمانه تائيد ورته نازل وي په دغه قيد سره ټول ووتل فقط څلور پاتي شول چي اوس أئمه دمذاهبو اربعه وو دي او مذاهب تشکيل شول

ومجتهد مطلق منتسب: هغه دي چي مقتدي وي اوتسليم يي کړي وي په خصلت اولى کې چي جارى مجراى دده په خصلت ثانى کې وي

مطلب دا چي اقتدآء يي په اول امام پسي وکړل لکن دي مسلم دي په خصلت اولى کې وايي زما لاس پر سر دي په يوه لاهم نه پوهېږم او په خصلت ثانى کې جارى مجراى دي په دوهم ځاي کې په خصلت دمجتهد مطلق کې يعني په اول کې لاس پرسر دامعنى چي بلکل قاعده نه شم ايښودلي او په دوهم کې زهم فروع راباسم لکن ستا پر طريقه يي راباسم په قواعدو کې کار نه لرم فروع ستا پر طريقه راباسم

نو يارانو مبارکانو همداسي کړي چي په اصولو کار نه لرو لکن فروع ستا پر طريقه راباسو.

مجتهد في المذهب: هغه دي مسلم دي په اول اوثاني کې اوجارى مجرى دي په تفريعاتو کې پر طريقه دخپل امام

اول اصول ایښودل وو دوهم داحادیثو مبارکانو جمعه وه تطبیق ترجیح ناسخ منسوخ دغه شیان وو دریم تفریعات وو

مجتهد منتسب اول نه شي کولاي دوهم او دريم کولاي شي .

اومجتهد فی المذهب اول او دوهم دواړه تسليم کړي البته دريم کولاي شي

اوهغه چي ظاهره شوي دي له کلام څخه دشيخ محدث الدهلوي رحمه الله تعالی چي مجتهد منتسب تقليد دهغه چا کوي چي هغه ته منسوب دی په وجهو دأستنباط اساسيه وو کې لکه حجتيت، مرسل او عدمها ترجيح على اساس صحت الاسناد او په اساس دفقه درواة او ديته ورته نور اصول کوم چي ثابت شوي دي له مجتهدينو څخه په صراحة سره که څه هم هغه مخالف دخپل امام وي په بعضي أصولو مذکوره وو کې په مثال دجمعي په مابين دحقيقت او مجاز او چي مجاز خلف دحقيقت دي په تکلم او حکم کې او معظم ددغه اصولو نه دي ثابت له فقهاوو څخه صراحتا بلکې أصولويون راولاړسوي دغه يي استنباط کړي له هغه فروعاتو څخه چي له دوي مبارکانو څخه مروي شوي دي او هغه چي په هغه کې إختلاف دصاحبينو دي دامام صاحب سره هغه په مثل ددغه مسائلو کې دي چي اوصولي مسائل ورته ويل کيدلاي شي او په دي کې مجتهد منتسب کله کله دخپل امام څخه مخالفت کولاي شي هرچي مجتهد في المذهب دي هغه په هيڅ شي کې هم مخالفت نه شي کولاي له اصولو څخه بلکې مسائل خپل دامام دقواعدو موافق تقريع کوي

خلاصه دا چي شاه ولي الله الدهلوي رحمه الله تعالی فرمايي چي مجتهد منتسب په قواعدو اساسيه وو کې بلکل دخپل امام څخه مخالفت نه سي کولای مثلا دامام صاحب قول مرسل حجت دي که هغه وويل دوي هم وايي چي مرسل حجت دي اوکه نه وو بيا دوي هم په هغه (نه) قائل دي

حديث كه مقدم كوي په إعتبار دتعامل او كه په اعتبار دعرف او كه حديث مقدم كوي په اعتبار دسند دصحة داسناد او كه په إعتبار دفقه درواة يي مقدم كوي په اعتبار دعلو دسند يي مقدم كوي كه په اعتبار دتصحيح دسند يي مقدم كوي په دي ټولو كې دوي دامام صاحب سره هيڅ نه وايي

لكن په اصولو فقه كې بياختلاف ورسره كوي لكه جمعه په مابين دحقيقت كې وغير

📖 **نو دوه قسمه اصول راغلي**

- ✓ اول چي ثابت وي صراحتا.
- ✓ دوهم چي ثابت وي غير صراحتا.

په اول كې مجتهد منتسب او مجتهد في المذهب مخالفت نه كوي په دوهم كې مجتهد منتسب مخالفت كوي البته مجتهد في المذهب يي نه كوي

او ظاهره خبر داده چي امام زفر صاحب هم دیارانو مبارکانو له جملي څخه دي .

نو دمجتهد في المذهب څخه بايد شمار کړل شي امام ابو جعفر الطحاوی، اوامام الشيخ ابن الهمام صاحب دفتح القدير، او امام ابو الحسن كرخي رحمهم الله تعالى داحنافو څخه او امام ابو اسحاق مروزي، اوامام غزالي له شوافعو څخه اوقاضي ابو بكر ابن العربي او ابن عبد البر دمالكيه وو څخه او ابن عبد الهادي، اوابن رجب د حنابله وو څخه ځكه چي دوي مخالفت خپل داامام څخه كوي په بعضو فروعو كې لكن په أصولو كې يي بياتقليد كوي .

دوهمه ملاحظه : چي بعضي ددغه طباقاتو اقسام متباينه دي لكه مجتهد مطلق مجتهد في المذهب او بعضى بيا داسي نه دي امكان لري چي جمعه والي يي په شخص واحد كې وشي لكه مجتهد في المسائل، او أصحاب الخريج او أصحاب الترجيح

مجتهد في المذهب په تول عمر كې دمجتهد مطلق سره نه شي جمعه كيدلاي او مجتهد مطلق هغه مجتهد مطلق دي مجتهد في المذهب نه شي ورته ويل كيدلاي

البته دانور بيا يو بل كيدلاي سي يو شوك چي مجتهد في المذهب وي هغه مجتهد في الترجيح او تخريج هم كيدلاي شي

او دغه تقسيم دوظيفو تقسيم دي داشخاصو تقسيم نه دي.

دريمه ملاحظه: ويلي دي إمام اللكنوي رحمه الله تعالى وروسته تر هغه چي ده پوره وويلو كلام دابن كمال باشا اوذكر يي كړل ډير هغه شوك چي ترده وروسته يي دده تقليد كړي وو او داخل كړي يي فقهاء مذكورين لاندي تراقسامو مختلفه وو چي په دي كې له ډيرو وجوهاتو شخه نظر شته

اول: دغه قول ددوي په خصاف او طحاوي كې چي دوي قادر نه دي په مخالفت دامام خپل كې نه په اصولو اونه په فروعو كې رده وي دغه نظر ددوي په احوالو اوطبقاتو مذكوره وو كې دطبقاتو حنفيه وو كى اقوال ددوي راى ددوي هغه چي مأثوره دي په كتبو فرعيه او اصليه ددوي كې په دي كې دوي خطا وتلي دي

اوبله داچى دوي حساب كړي ابابكر رازي الجصاص له هغه كسانو شخه چي دى قادر نه دي په اجتهاد مطلق باندي دغه خبره ډيره بعيد ده سره له دي چي دوي حساب كړي شمس الائمه الحلواني او السرخسي او البزدوي او قاضي خان په مرتبه دمجتهدينو فى المذهب كې كيدلاي شي چي مراد يي مجتهدين فى المسائل وي سره له دي چي امام رازي تر دوي اقدم دي په زمانه كې او اعلى دى تردوي شانا او اوسع دي تر دوي علما او ادق دي تردوي سرا.

اوبله دا چي شان دقدوري اجل دي ترقاضي خان او تر صاحب دهداييي كه تردوي اجل نه شي نو ادنى هم نه دي نو ګرځولي يي دي قاضي خان په مرتبه ثالثه كې او را كښته

کړي يي قدوري او صاحب دهدايي له دغه دريم مرتبى چي مجتهد فى السائل دي دا نو ليس مما ينبغي خبره ده .

علامه مرجاني وايي چي کله وو په فقهاوو دعراق کې ساده والی په لقبو کې او عدم تلون په عنواناتو کې نو دوي امتياز په ساده نو مانو کولو چي په هغه به تولو پيژندل او دوي يي منسوبه کول وصناعتو لره لکه خصاف(موچي) جصاص(دګچ بنآء) قدوری(منسوب کټوی ته يا کټوي جوړه وونکی) ثلجي(يخ يا هغه وطن چي واوره په کې کيدل)صيمري دوي معنى وي لرى (بوي ناک- يا خو منسوب به سوي څرمن دي ډير ډنګر وو) وغيرها

لکن غالب په اهل خراسان خصوصاً په ماوراءالنهر لکه غلوه وه لکه دوي يادوي فخر الاسلام شمس الائمه السرخسي شمس الائمه الحلواني وغيره.

ډير وخت استدلال په نباهة داوصافو په نباهة دموصوف وي هم دغه وجه ده چي دغه حمل دي په انکار دماعدای او په استخفاف درجال الله سوای هم.

څلورمه ملاحظه: هغه چي ذکر کړي ابن کمال باشا رحمه الله تعالى په طبقه سابعه مراد دده هلته مؤلفان دهغه کتابو دي چي په هغه هيڅ اعتماد نه شته په فتوى کې لکه قنيه او قهستاني وغير ذالک په همدې وجه وايي ويل لمن قلدهم کل الويل .

تمت بالخير :

(دريم فصل)

دتقليد اقسام .

تقليد خپل په كوركې په څلور قسمه دي .

«اجـــــــمـــــــالاً»

- ✓ **اول: تقليد دعامي.**
- ✓ **دوهم: تقليد دعالم متبحر.**
- ✓ **دريم: تقليد مجتهد في المذهب.**
- ✓ **څلورم: تقليد مجتهد مطلق.**

«تـــفـــصيـــــلا»

_ دعامي تقليد دادي چي داما م صاحب په قول عمل كوي نور پوښتنه د دليل نه كوي .

_ دعالم متبحر تقليد عالم متبحر هغه ته وايي چي په ماهر استاذ يي تخصص كړي وي دكتابو مطالعه ئي كړوي الله پاک ملكه وركړي وي په صحيح او غلط دمسائلو پوهيږي كتب معتبره اوغير معتبره ټول پيژني

حكم: نوده ته حكم كول په ضعيف قول هم روادي او دبل چاپه مذهب فتوى هم ورته روا ده خو دي به خپل داما م په قول كوي كه داحاديثو مخالف نه وو كه داحاديثو مخالف وو بيا به عمل په احاديثو كوي لكه اما م صاحب واي كه زما مذهب دحديث مخالف وو نو په حديث عمل وكړئ زماقول پريږدي داخبره نو هر چاته نه كوي بلكي عالم متبحر اومفتي ته ده.

_ تقليد مجتهد في المذهب : دي مقلد دي دمجتهد مطلق په اساس کې دقواعدو

_ تقليد د مجتهد مطلق دي : امام صاحب يو قول کړي په قياس خو هغه دصحابي دقول مخالف دي اوس به خپل قول پريږدي دصحابي په قول به عمل کوي مطلب داچي امام صاحب يوقول کړي وي خو د صحابي دقول مخالف وي نو هلته ترجيح قول دصحابي لري په قول دامام صاحب امام صاحب به خپل قياس پريږدي عمل به په قول دصحابي کوي لکه دجمعي مبارکې دلمانځه وروسته شپږ رکعاته سنت کبيري وايي چي اول به څلور رکعاته کوي وعليه الفتوى (151ص) دغه قول دامام صاحب په قياس دي دليل نه ايات شته نه حديث بله خوا حضرت علي رضي الله تعالى عنه اوحضرت عبدالله ابن عمررضى الله تعالى عنه قائلين د دوو رکعاتو د تقديم دي

اصول الافتاء (ص ۹۸) ، مصباح (ص ۲۰۹ الى ۲۱۰)

📖 دتقليد لپاره درجات دي

اوله درجه: تقليد دعامي ده هغه عامي چي نه وي دلره معرفة په قرآن او آحاديثو مبارکانو کې اونه تبحر(ننه وتل) لري په علومو متشعبه (هغه چي اقسام اقسام دي) چي عبارت دي له قرآن او احاديثو څخه

په دوي کې داخل دي هغه خلک چي دوي وتلي له مدارسو او جامعو دينيه وو څخه او دوى ته ملکه نه ده حاصله شوي چي دهغه ملکي په سبب سره دوي مقارنة دقرآن اوحديث په رڼا کې راولي په مابين دآراوو دفقهاّء کرامو مبارکانو کې (داهغه خلک دي چي فقط لنګوټي ئي تړلي وي نورنه په قواعدو،نه په قوانينو، او نه په اصولو خبروي نه دآراوو معلومات ورته کيږي نه طرف ديو چادقول ورته معلوميږي امام صاحب يو قول کړي وي ده ته دا نه معلوميږي چي دا اوس شارع دي که شارح شارع خو الله او دالله

تعالى رسول دي او امام صاحب چي داخبره كوي دا اوس يوځاي شته اوكنه او دشافعي صاحب قول ته چي ترجيح دامام صاحب په قول وركوي داوس حديث دي قياس دي څه شي دي نو دغه خلك هم په عاميانو كې داخل دي نو دفاضل تقليد هم دعامي تقليد دي مطلق به دامام صاحب په قول كوي وبس

فائده: دجناب حاجي شيخ صاحب مقوله: علم په اصولو كې دى په خولو كې نه شته

حكم د دغه خلكو دادي چي دامام دمذهب معين التزام به كوي او د دوي دامامانو څخه ماسوى به په بل قول يادبل عالم په قول اخذ نه كوى ځكه ددوي دامام قول ددوي په حق كې لوي دليل دي اودوي دا هم نه شي كولاي چى حكم وكړي په خپل مجرده رأيه چي فلان اوفلان قول د دوي دامام دقرآن اوحديث معارض دي ځكه له دوي سره داسي علم متوافر موجود نه دي چي دغه استعداد په كى پيدا شي او دغه رد دوي وكړاي شي

دوهمه درجه: تقليد دعالم متبحر دي؛ عالم متبحر هغه څوك دي چي كه څه هم دي درجې كليه داجتهاد ته نه دي رسيدلي البته دپيراخوالي او زياتي احاطي دعلم په وجه يي په علومو دقرآن او احاديثو كې،اوپه تبحر ده د په مذهب دخپل امام كې، اوپه طول دممارسي په فقه او فتوى باندي دماهرو استاذانو سره حاصله وي دلره قوي ملكه په نظر كولو كې په دلائلو كې دأحكامو فقهيه وو كې نو مثل ددغه عالم كه څه هم دي مقلد دخپل امام دي په معظم ابوابو دفقهي كې لكن چي دي كله پيدا كړي دخپل امام قول په داسي حال كي چي هغه معارض دصريح نص وي او پيدا نه كړي سره له دى چي ده

زيات کوښښ هم کړي وي معارض ددغه نص نو دلر روادي چي دخپل امام قول ترک کړي په وجه ددغه نص صريح

او همدارنګه چي کله په مثل دعالم متبحر خبر شي چي په مذهب دخپل امام په فلان مسئله کې حرج شديد دي او هلته حاجة عامه هم موجود وي نوددفعي ددغه حاجت عامه په سبب دغه عالم متبحر لره روادي چي فتوی ورکړي او عمل وکړي په قول دمجتهد آخر چي په ماسوی دده دامام کې وی لکه احنافو مبارکانو په مسئله دزوجة الفقود او په نور مسائلو کې په ماسوی دخپل مذهب فتوی ورکړي ده چي هم دا يي وجه ده البته احتياط دادي چي په نن زمانه کې په هغه مسائلو کې چي بلوی په کې عامه ده استبداد ونه کړي يو سړي په خپل جلا رأيه کې بلکې دعلمآء کرامو سره مشوره ددغه مسائلو په مورد وکړي او فتوی عامه ورنه کړي مګر وروسته تر اتفاق دعلمآء کرامو چي هغه درسوخ مرتبي لره رسيدلي وي

فائده: زه موږ دافغانستان مسئله دزوجة الفقود نه ده

زوجة الفقود هغه ته وايي چي په عامو حالاتو کې ورک شي غالبا يعنی په سل ۱۰۰٪ کې نوی ۹۰ فصده ګومان دژوند وي بيا ورک شي

په يوه جزئيه به سړي قاعده نه خرابه وي هغه داسي حضرت عمر رضي الله تعالی عنه په ځلور کاله ښځي ته إجازه ورکړل چي بل ميړه وکړي په صحيح سند ثابت امام مالک صاحب هم له دغه ځاي څخه اخذ کړي هغه ښځه راغلل او ده مبارک ته يي وويل چي اميرالمؤمنين ميړه يي ورک دي غړ يي نه دي راته کړي نفقه يي نه ده پري ايښي أميرالمؤمنين په بيت المال کې نفقه ورته وټاکل بيا يي ورته وويل چي ته ځلور کاله تير کړه ځلور کاله يي چي تير کړل ترهغه وروسته يي ځلور مياشتي او لس ورځې دعدي تيرولو حکم ورته وکړي ترهغه وروسته يي د نکاح کولو اجازه ورته ورکړه هغه ښځې بل

ميره وکړي اولادونه يي پيدا شول بيايي هغه اول ميره راغلي ښځي ته يي بيرته حکم وکړي چې داول ښځه يي نکاح ددوهم سره نه ده صحيح سوي لکن په وجه دشبهي په دغه اولادي کې نسب ددغه دوهم سړي ثابت دي اوس دا يوه جزئيه پيښه شول چې په زرو کې که يوه پيښه شي او له دغه خبري هيڅوک هم وانه وښتل فلهذا ۹۹۹ ښځې ديو جزئي لپاره سړي نه زړه وي مفقود هغه دي چې مثلاً يو سړي ايران ته ځي په لار ورک شي دغه مفقود دي او که په جنګ کی ورک شي داصرف دامير معلومات غواړي امير دي دامر وکړي چې دغه خلک زموږ دمعلوماتو په اساس شهيدان شوي دي قاضي چې خط ورکړ فقط څلور مياشتي اولس ورځي عده غواړي هغه څلور کاله هم نه شته چې امير دا امر وکړي نو په قاضيانو دالازمي ده چې داسي وکړي هغه معلومات چې ته يي د دغه سړی په اړه لري هغه مستثنی دي

دعالم متبحر وظيفې زيات څه کولای شي دده رتبه مجتهد في المذهب خوده البته يوځاي ته چي نظر وکړي دمجتهد مطلق پر طرز څکه نه دي چي دي دهغه قواعدو څخه نوی قواعد راباسي .

دريمه درجه تقليد دمجتهد فی المذهب ده: که څه هم دي په أصولو کې دخيل امام مقلد دي لکن د ته يو نوعه اجتهاد په فروعو او نوازلوکې حاصل وي په دي کې مندرج ياداخل دي أصحاب التخريج و الترجيح او مجتهدين فی المسائل دغه نوعه د اجتهاد حاصله وي مطلق په فروعو کې چي دامجتهد فی المذهب دي څوک بيانوازل کولای سي چي دا بيا مجتهد في المسائل دي څوک بيا تعين دمحتمل کولاي شي چي دوي

اصحاب التخريج دي څوک بيا صرف ترجيح کولاي سي چي هغه أصحاب الترجيح دي داټول يو دبل مقلدين دي

څلورمه درجه تقليد دمجتهد مطلق دئ : که څه هم دي مستقل دي په استنباط دأحکامو شرعيه وو له کتاب اوسنت څخه البته دلره هم ديو څه تقليد څخه خلاص والى نه شته هغه دا سي چي خپل دسلفو اقوالو ته به نظر کوي چي هغه دخير القرون خلک دي او په اقوالو دسلفو به تمسک کوي په شرحه دأحکامو کې دقرآن او احاديثو ډير وخت يو صريح نص نه وي موجود نه په قرآن اونه په أحاديثو کې لکن دصحابه ياتابعينو په أقوالو کې دغه معنى موجوده وي نو دهغه تقديم به په رأى خاص خامخا کوي کله امام صاحب په ډيرو ځايو کې اخذ کوي په قول دإبراهيم النخغى، او امام شافعي بيا أخذ کوي په قول دابن جريج او امام مالک صاحب اخذ کوي په يو داوو فقهاءسبعه دمديني منورې حضرت علامه ابن قاسم رحمه الله تعالى فرمايي په باب دمجتهد مطلق کې چي کله کله دمجتهد مطلق تقليد دبل چامنافى نه دي دى وايي چي ته به پيدا نه کړي يو امام دأئمه وو څخه مګر دي به مقلد وي دهغه چا چي ترده أعلم وي په بعضو أحکامو کې إمام شافعي رحمه الله تعالى يو ځاى وايي په باب کې دکتاب الحج کې «« قلته تقليداً لعطآء »»

اعلاء الموقعين: ۴ / ۱۹۷

کمال دسړي دادي چي کله يي مسئله غلطه وي وروسته پوه شي چي حق په دغه خبره کې نه دي کوم چي ماکړي ده بيرته رجوع ځيني وکړي دغه کمال دي

مسئله : غوټو چي لاندي تير سي دچرګ يادپسه پروا کوي؟ جواب يا (نه) که هري خواته سي

شامي په ۲۰۷ صفحه کې ۵ جلد په چپه لاس کې وايي: که چيري هغه خواته رګونه وي پروانه کوي که دي خواته وي نو پروا کوي

لاندي تردغه تقريرات رافعي وګوره وايي چي دا دتولي دنيا په مشاهده ثابته شوي چي هغه خواته هم رګونه شته

حيکم الأمة وايي چي ما مرارا په إمدادا التفاوی کې دافتوی ورکړل چي دامکروه دي خوليکن خطآء وتلي يم په علانيه وايي سخت خطآء سوي يم

مولانا محمد شفيع صاحب وايي چي ما قبرته نږدي لمونځ مکروه بلي چي راغلم حکيم الأمة ويل نه دي مکروه ما هم وويل نه دي مکروه وروسته چي ظفر أحمد عثمانی ته موږ اعلاء السنن ورکړي چي هغه په إعلاء السنن کې وويل چي مکروه تحريمي دي حکيم الأمة هم واوښتي زه هم واوښتم

شيخ الاسلام محمد تقی عثمانی دماپښين په څلورو رکعاتو کې چي مخته کيږي په دوو په جمعه کې وعليه الفتوی په عثماني فتاوی کې وايي لکن په انعام الباري، اودرس ترمذي کې بيرته يی خپله فتوی واخيسته چی داخبره خو مقابل داثر دصحابي ده


امام صاحب تروفات مخکی دري ورځي رجوع دمسئلي کړي وقول ديارانو ته په باب دغوښو دآس کې چي مکروه دي تحريماً ۲۱۴ صفحه ۵ جلد چپه لاس ردالمحتار.

تمت بالخير

 (څلورم فصل)


طبقات الروايت.

دري قوله په کې دي



 **عند الجمهور**

طبقات الروايت په درى قسمه دي.



– ظاهر الروايت: هغه دي چي امام محمد صاحب په تواتر دامام صاحب څخه رانقل کړې وي يا په مشهوره طريقه لکن په دغه شپږو کتابوکې به ځيني روايت کړې وي

اول : مبسوط. دوهم : جامع الصغير. دريم : جامع الکبير. څلورم : زيادات. پينځم: سير صغير. شپږم : سير کبير

تنبيه: دغه شپږ کتابونه حاکم شهيد راجمعه کړل په يوه کتاب کې نوم يي دکافي ورباندي کيښود په کافي باندي شرحه مبسوط وکړه چي په ديرش جلده کې دي همدا وجه ده چي موږ په فقه حنفي کې تر مبسوط اعلی کتاب نه لرو ځکه مبسوط ټول په ظاهر الروايت جوړدي ملحوظ مبسوط دسرخسي صاحب دي

شعر

وكتب ظاهر الروايت أتت ستا وبالأصول ايضاً سميت

صنفها محمد الشيبانى حرر فيها المذهب النعمانى

الجامع الصغير و الكبير والسير الكبير والصغير

ثم الزيادات مع المبسوط تواترت بالسند المضبوط

ويجمع الست كتاب الكافى للحاكم الشهيد فهو الكافى

أقوى شرحه الذى كالشمس مبسوط شمس الائمة السرخسى

– نادرالروايت : هغه دي چي امام محمد صاحب دامام صاحب څخه په تواتر اومشهور نه وي رانقل کړې په دغه شپږو کتابوکې نه وي دابيا هغه دي چي امام محمد صاحب په څلورو کتابونو کې ذکرکړي وي

اول : كيسانيات.دوهم : هارونيات.دريم : روقيات.څلورم: جرجانيات . اويا امام حسن ابن زياد ذكر كړي وي په خپل كتاب مجرد كې يا امام يوسف صاحب ذكر كړي وي په امالي كې .

– نوازل : بيا هغه نوي مسائل دي چي دامام صاحب ښخه په كې كوم قول نه وي رانقل شوي وروسته علماء كرامو ئي استنباط داصولو دمذهب ښخه كړي وي يا يي نظير په نظير قياس كړي

په دي كې ترټولو اول كتاب ابو الليث سمرقندي صاحب په كې جوړ كړي په نامه دنوازل وروسته واقعات په نامه كتاب ناتفي او په نامه دواقعات حاكم شهيد هم جوړ كړل په دي كې روايتونه دي ابن رستم، ابن سماعه دامام محمد صاحب شاګردانو دي

«شاه ولي الله صاحب وايي طبقات الروايت څلور دي»

- ✓ **اول : يابه دامام صاحب ښخه رانقل شوي وي په تواتر نوداظاهر الروايت دي سل په سل كې يي منو داظاهر الروايت دي.**

- ✓ **دوهم: كه دامام صاحب ښخه رانقل شوي ووپه نادرالروايت نه په ظاهرالروايت نو**

په اصولو يي عرض وو كه موافق وو منويي كه مخالف وو نه يي منو.

- ✓ **دريم : هغه مسائل چي تخريج يي متأخرينو علمآء كرامو كړي وي او اتفاق دجمهورو**

علماء كرامو باندي راغلي وي نو په داسي مسائلو عمل اوفتوى وركول كيدلاي سي دشاه صاحب په مذهب

✓ **څلورم : که دامام صاحب څخه نه ظاهر الروایت وو او نه نادر الروایت بلکې**

متأخرینو علمآء کرامو په یو مسئله کې خبره کړي وه نو ګورویي چې داصولو سره موافق ده اوکنه

که موافق وه منویي که نه وه موافق نو نظیر ورته پیدا کولاي شو چې پرې قیاس ئي کړو که مو

پیدا کړي منو یي اوکنه وو نې منو.

« حضرت مولانا عبدالحي اللکنوي رحمه الله تعالی فرمايي چې طبقات پينځه دي »

✓ **اول طبقه : هغه ده چې مسئله په آیات یااحدیث سره ثابته وي خومقابل به نه لري**

داسل په سل قبل قبول ده.

✓ **دوهم طبقه: هغه ده چې یو طرف ته هم حدیث شریف دي بل طرف ته هم لکن ته يي**

فرض کړه اثبات يي په قوي حدیث دي نفي په ضعیف . داهم قابل دقبول اوعمل باندي

ضروردي.

✓ **دریم طبقه: هغه طبقه ده چې اثبات ئي هم په قوي دي نفي هم په قوي ده ترجیح يي**

هم نه معلومیږي

اوس نو که موږ اوتاسو وو لاادري راباندي فرض دي لکن که عالم متبحر وو هغه به کوښښ کوي چې ترجیح ثابته کړې که يي ترجح نه کړه ثابته ورته اجازه ده چې په هريو فتوی کوي

✓ **څلورمه طبقه : که امام صاحب قول کړي وو دحدیث مخالف وونو متبحر عالم به دامام**

صاحب قول پرېږدي په حديث به عمل کوي.

✓ پينځم طبقه: امام صاحب يو قول کړي نه په ايات نه په حديث نه په قياس جلي اونه په خفي دي نه په استحسان خوبيا يي هم موږ تقليد کوو دي ته نو تقليد شرکي وايي چي داسي څه زموږ په مذهب کي نشته.

اصول الافتاء (ص ۱۳۴ الی ۱۳۶) الدرالمختار (ج۱/ص۴۷) مصباح (ص ۲۴۴ الی ۲۵۵) عمدة الرعاية (ج۱/ ص ۴۰ الی ۴۴) مجموعة الرسائل (ج۳/ص ۲۰ الی ۲۳) شرح عقود رسم المفتی (ص ۴۶)

تمت بالخير

(پینځم فصل)

الترجيحات:

ترجیحات خپل په کور کې دوه قسمه ده

اول : ترجيح التزامي.

دوهم :ترجيح الصريحي.

– ترجيح التزامي ديته وايي چي په قول نه و وايي يو عادت ئي پرځان لازم كړي وي ياپه بل تعريف هغه ته وايي چي صنعه دمصنف ياصول دمذهب ورباندي دال وي بيانو ترجيح التزامي په شپږديرش (36) قسمه ده.

1. **اول قسم ترجيح التزامي داده :** بعضي مصنيفينو په ځان دالازمه کړي چي اوقول راجح په ذکرکوم. لکه قاضي خان ،متقلی الابهر، بدائع الصنائع .
2. **دوهم ترجيح التزامي داده: چي بعضي مصنيفينو په ځان دالازمه كړي چي دليل دراجح قول به آخر ذكركوم. دالكه مبسوط اوهدايه.**
3. **دريم قسم ترجيح التزامي داده: بعضي مصنيفينو په ځان دالازمه كړي وي چي دليل دقول راجح به ذكركوم اونوربه پريږدم.**
4. **څلورم قسم ترجيح التزامي داده: بعضي مصنيفينو په ځان دالازمه كړي وي چي دليل دقول راجح به ذكركوم اورد د دليل دقول مرجوح به كوم.**

5. پینځم قسمه ترجیح التزامي داده: بعضي مصنیفینو راجح قول ذکر کوي مرجوح قول قطعا نه ذکرکوي.

6. شپږم قسم ترجیح التزامي داده : دظاهر الروایت ترجیح په دنادرالروایت ترجیح التزامي ده .

7. اووم قسم ترجیح التزامي داده : دنادرالروایت ترجیح پر نوازلو ترجیح التزامي ده .

8. آتم قسم ترجیح التزامي داده: په عباداتو کې دامام صاحب قول پر غیر ترجیح التزامي لري .

9. نهم قسم ترجیح التزامي داده: په شهاداتو کې دامام ابو یوسف صاحب دقول ترجیح پر غیر التزامي ده.

10. لسم قسم ترجیح التزامي داده: په موارثو اوذوی الارحامو کې دامام محمد صاحب قول ترجیح التزامي لري پر غیر.

11. یولسم قسم ترجیح التزامي داده : که دامام صاحب سره امام محمد صاحب وو چې طرفین دي ددوي دقول ترجیح پر غیر التزامي ده.

12. دوولسم قسمه الترجیح التزامي داده: که دامام صاحب سره امام ابو یوسف وو چې شیخین دي ددوي دقول ترجیح پر غیر التزامي ده.

13. دیارلسم ترجیح التزامي داده: که ائمه ثلاثه دیو مسئلې په حکم کې هریو جلا جلا قول لري نو دامام صاحب دقول ترجیح پر غیر التزامي ده.

14. څوارلسم قسم ترجيح التزامي داده: که ديو مسئلې د حکم په اړه د امام صاحب قول جلا وو او ديارانو قول جلا وو نو دلته اختيار دي څوک وايي چي دامام صاحب قول ترجيح التزامي لري پرغير اوڅوک وايي چي ديارانو قول ترجيح التزامي لري پرغير خو لکن دلته يو قاعده شته چي عدم ترجيح هم ترجيح دامام صاحب د قول ترجيح التزامي ده پرقول دغير. په دغه اوو آخريي ترجيحاتو کې هغه وخت داسي کيداي شي چي هلته ددغه څلورشيانو څخه يوشي نه وي

اول : تغيردعلت .دوهم: قوت ددليل. دريم: توافق دعصر څلورم: ترجيح دمشائخو.

15. پينځه لسم قسم ترجيح التزامي داده : تغير دعلت پرغير ترجيح التزامي ده.

16. شپاړلسم قسم ترجيح داده: توافق دعصر ترجيح التزامي ده پرغير.

17. اوولسم قسم ترجيح التزامي داده: قوت د دليل ترجيح التزامي ده.

18. آتلسم قسم ترجيح التزامي داده: په نصاب د ذکات اواضحيې کې چي کوم قول أنفع الفقرآء وي هغه ترجيح التزامي لري پرغير.

19. نولسم قسم ترجيح التزامي داده : په وقف کې هرهغه قول چي انفع الفقرآء وي ترجيح التزامي لري پرغير.

20. شلم قسم ترجيح التزامي داده: چي اکثره مشائخ پرکمه خوا وو هغه ترجيح التزامي لري پرغير.

21. يو ويشتم قسم ترجيح التزامي داده: مبيح اومحرم چي راسي ترجيح دمحرم پرمبيح ترجيح التزامي ده.

22. دوویشتم ترجیح التزامي داده: که ډیرو روایتو کفر ثابته وي دیوچا اولږو روایتو اسلام ثابته وي اوهغه هم ضعیف وو نو ددغه لږ ضعیفه اقوالو تر جیح پر غیر التزامي ده.

23. درویشتم قسم ترجیح التزامي داده: یو روایت حد ثابته وي اوبل روایت دحد نفي کوي ترجیح دهغه قول چي دحد نفي کوي پر غیرالتزامي ده.

24. څلورویشتم قسم ترجیح التزامي داده: دمتونو ترجیح پر شروحو التزامي ده.

25. پینځه ویشتم قسم ترجیح التزامي داده: دشروحو ترجیح پر فتاو وو ترجیح التزامي ده.

26. شپږ ویشتم قسم ترجیح التزامي داده: دامام محمد صاحب هرمتأخر کتاب پرمتقدم کتاب ترجیح التزامي لري اول مبسوط.دوهم جامع الصغیر.دریم جامع الکبیر.څلورم زیادات.پینځم سیر صغیر.شپږم سیر کبیر.

31. یو دېرشم قسم ترجیح التزامي داده: ترجیح داستحسان ترجیح پر قیاس ترجیح التزامي ده

دلته لږ وضاحت ته ضرورت سته

اول قیاس : تل مدام هغه ته وایي چي دلیل عقلي او دلیل جلي وي .

استحسان: کله ئي دلیل ایات وي کله حدیث کله اجماع کله ضرورت وي کله عقلي دلیل وي خو دقیق

32 دوديرشم قسم ترجيح التزامي داده: هغه استحسان چي دليل يي آيات اوحديث وي پر قياس ترجيح التزامي لري.

33 درى ديرشم قسم ترجيح التزامي داده: استحسان كه ئي دليل اجماع وه بيا هم سل په سل كي پرقياس ترجيح التزامي لري.

34 څلور ديرشم قسم ترجيح التزامي داده: استحسان كه ئي دليل ضرورت وو پر قياس ئي سل په سل كي ترجيح التزامي ده.

35 پينځه ديرشم قسم ترجيح التزامي داده: داستحسان دليل هم عقلي دي دقياس دليل هم عقلي دي البته استحسان په دقيق من النظربنآءوي قياس پر جلي من النظر. په ټوله فقه کې ۷۸ ځايه په استحسان فتوى ده اوپه ټوله فقه کي ۲۲ځايه په قياس فتواى ده

36 شپږ ديرشم قسم ترجيح التزامي داده: ديوې مسئلي حكم په هكله أئمه ثلاثه يو طرف ته دي امام زفر صاحب بل طرف ته دي دأئمه ثلاثه وو دقول ترجيح پر غير التزامي ده.

مصباح (ص ۲۹۰ الى ۳۰۵ الى ۳۲۳) ردالمحتار (۵۲ الى ۵۳/ج۱) شرح عقود رسم المفتى (ص ۳۰) عمدة الرعاية (ج۱/ص ۱۰) اصول الافتاء (ص ۲۲۶ / ۲۳۰) خلاصة الفتاوى (ج ۴ / ص ۳۸۲)مجموعة الرسائل اللكنوى (ج ۳/ ص ۲۰۳) منحة الخالق (ج۶/ص ۴۵۳)

نوټ: په ټوله فقه كي ۲۰ ځايه دامام زفر صاحب په قول فتوى شته نور نشته. ردالمحتار (ص۷۲۵/ ج۱).

تمت بالخير

(شپږم فصل)

- الترجيحات الصريحي.

الترجيح صريحي : يو دمتقدمينو رايه ده اوبل دمتأخرينو.

په مذهب دمتقدمينو ترجيحات صريحي يو ويشت (۲۱) دي .

متأخرين ئي اوو ويشت وايي فقط شپږ نوري ورسره ضم کړي او دغه شپږ ئي په ملحقاتو کې ورسره راوړي په ضمن دهغه يو ويشتو کې دهريو خپل ملحق معلوم دي.

اول دمتقدمينو په مذهب

اول : عليه عمل الامة.دوهم : وبه يفتي.دريم : وعليه الفتوى. څلورم : والفتوى عليه . پينځم: وعليه عمل اليوم.شپږم : وبه نأخذ. اووم : وبه اخذ علماء نا. آتم: وهو المأخوذبه. نهم: وهو الاصح. لسم :وهو الصحيح . يولسم: وهو المختار . دوولسم : وعليه الاعتماد. ديارلسم: وبه جرالعرف. څوارلسم: وهو المتعارف. پينځه لسم: وهو الاظهر. شپاړلسم: وهو الاشبه.اوولسم : وهوالاوجه. آته لسم : وهوالاوفق. نو لسم : وهو الاولى . شلم : وهو الاحوط . يوويشتم : وهو الاحتياط.

متأخرينو شپږ نور وربالا کړي

اول : وعليه اصحابنا .دوهم: وعليه فتوى مشائخنا. دريم به يعتمد . څلورم : هوالظاهر . پينځم : وهو الأيق لزمانه. شپږم : وهو الاصلح.

دټولو مجموعه داسي شول

اول : عليه عمل الامة.دوهم :و به يفتى.دريم :و عليه الفتوى. څلورم : والفتوى عليه . پينځم: وعليه عمل اليوم.شپږم : وبه نأخذ. اووم : وبه اخذ علماء نا. آتم: وعليه فتوى مشائخنا. نهم: وعليه اصحابنا . لسم :وهو المأخوذبه. يولسم : وهو الاصح. دوو لسم :وهو الصحيح . ديارلسم: وهو المختار . څوارلسم وبه يعتمد . پينځه لسم: وعليه الاعتماد. شپاړه لسم وبه جرالعرف. اوولسم: وهو المتعارف. آته لسم وهوالظاهر . نو لسم : وهوالاظهر. شلم :وهو الاشبه.يو ويشتم : وهوالاوجه. دوه ويشتم : وهوالاوفق. درويشتم : وهو الأيق لزمانه. څلورويشتم :وهو الاصلح. پينځه ويشتم : وهو الاولى . شپږ ويشتم: وهوالاحوط . اووه ويشتم : وهو الاحتياط.

تنبيه:له دغه اوو ويشتو الفاظو څخه سواء چي بل څوک هر لفظ ووايي هغه اعتبار نه لري.

تنبيه : كه ترجيح التزامي ده او كه ترجيح الصريحي ده دا صرف د مجتهد معتبره ده دبل هيچا هم معتبره نه ده

تنبيه: ټول ترجيحات كه الصريحي دي او كه التزامي دي په مقابل دآيات اوحديث كې هيڅ اعتبار نه لري.

تنبيه : د ترجيح الصريحي ادنى لفظ چي وهوالاولى دي ټولي ترجيحات التزامي ئي په مقابل كې اعتبار نه لري.

الدرالمختار (ج ۱/ص ۱۵) ردالمحتار (ج ۱/ص ۵۴) اصول الافتاء (ص ۲۲۳) المصباح (ص ۳۰۸) رسم المفتى (ص ۳۲) طحطاوى على الدرالمختار (ص ۴۹/ج۱) عمدة الرعاية (ج۱/ص ۱۶)



دري قاعدي

✓ **اول قاعده** : تطبيق او ترجيح چي سره را شي تطبيق مقدم دي پر ترجيح يعني

كه د دوو حديثو ټكر سره راغلي اول به تطبيق كوي داحاديثو بيا وروسته كه تطبيق ممكن نه وو نوترجيح كولاي شي .

✓ **دوهم قاعده:** قوت د دليل ترجيح التزامي ده

دغه قاعده دوه شقه لري

✓ **اول شق** : كه يوي خواته هم قوت د دليل وو بلي خواته هم البته يوې خواته ډېر

دلائل وو بلي خوا ته لږ نو ترجيح دډېرو دلائلو پر غير التزامي ده .

✓ **دوهم شق** : يوي خوا ته هم دليل دي بلي خواته هم خو يو ډېر قوي دي او هغه بل

ضعيف دي دقوي دليل ترجيح پر ضعيف التزامي ده.

تنبيه: ترجيح نسبت دي طرفين غواړي كه طرفين وو نو ترجيح راځي كه نه وو هلته اتفاق دي هلته نودامه وايه چي فتوى په دغه ده

دريم قاعده: ترجيح دمشائخو پرماصحح دمذهب ترجيح لري

دلته لږ بحث ته ضرورت شته اختصارا ماصحح دمذهب ترجيح لري كه ترجح دمشائخو ....؟ مفتى به قول دادي چي ترجيح دمشائخو پرماصحح دمذهب ترجيح لري

الردالمحتار (ص ۱۴۱ / ج ۱)

 بحث دقاعدو

اوله قاعده: ترجيح الصريحي اوترجيح التزامي په مقابل دحديث كې هيڅ اعتبار نه لري.

اوله تنبيه: فتوى كله داولويت او كله دعدم جواز وي

اوس به څنګه دا معلومه وو چي دا فتوى داولى ده (هغه بله خوا هم جائزه ده خو دا اولى ده) كه دعدم جواز چي بلكل جائزه نه ده (فتوى دعدم جواز ده)؟

نو داسي معلوميږي كه اختلاف په اولى او غير اولى كې وو نو فتوى دچي وكړه دا اولى ده

اوكه اختلاف په مكروه تحريمي او غير تحريمي كې وو نو فتوى دعدم جواز ده.

دوهمه قاعده: په ترجيح صريحي كې مقابله د وهو الأصح – وهو المختار ده وهو الأصح آكد دي تر هوالمختار

فتوى په آكد دي نه په غير آكد

دوهمه تنبيه: كه يو طرف ته آكد وو خو اعتراض په وارد وو اعتراض ته نه كتل كيږي آكد ته اعتبار دي

اوس إعتراض له دوو حالاتو خالي نه دي يابه مجاب وي يا به غير مجاب په دواړو صورتو كې إعتراض ته نه كتل كيږي بلكې لفظ آكد بياهم داعتبار وړ دي

ومن الله توفيق

 ## دقاعدو بحث

قاعدي:

دترجيح صريحي په مقابل کې ترجيح التزامي اعتبار نه لري

مطلب دا چي که ترجيح التزامي او ترجيح صريحي په مقابل سره راغلل نو فتوی به په ترجيح الصريحي کوو

اول نمبر استفتاء

که يو سړي جنب سي کشف العورت نه شي کولای ځکه خلک موجودوي نو د دغه عذر په خاطر تيمم ووهي او لمونځ وکړي نو کله چي په استعمال د اوبو قادر سي لمونځ راګرځول غواړي کنه ؟؟؟؟؟؟؟

که چيري ديوه سړي داستنجآء دوهلو لپاره زمينه نه مساعده کيدل کشف العورت ته فرض کړه بلکل نا ممکن وو اوس دغه سړي اودس وکړي لمونځ يې هم ادآء کړي البته هلته نجاسة تر قدر درهم زيات وو وروسته په استعمال داوبو قادر سو لمونځ راګرځول غواړي که نه

قاعده :

يو طرف ته هم الفاظ شته بل طرف ته هم الفاظ شته خو ديوه طرف الفاظ په هغه ٢٧ الفاظو کې دي دهغه بل طرف نه دي نوموړ په هغه طرف فتوی کوو چي دهغه ٢٧

الفاظو څخه یو لفظ ورسره راغلي دي هغه بل طرف پریږدو ځکه چي هغه الفاظ دترجیح معتبره نه دي.

📖 تفصیل اووضاحت

۲۷ الفاظ د ترجیح الصریحی دی که بل هر لفظ راشي مثلاً وهو الحق وهوالصواب هغه ته اعتبار نه شته مطبی دا چي یو طرف ته دیوه قول سره د ترجیح الصریحی د ۲۷ الفاظو څخه یولفظ راغلی بل طرف ته دیوه قول سره داسی لفظ راغلی چی دترجیح په ۲۷ الفاظو کی نه شته نو فتوی په هغه قول ده چي الفظ د ترجیخ الصریحي وروسره شته

کوچنی بله اجرآء : که په یو طرف کې یو آکد لفظ راغلي

مثلا: یو طرف ته راغلي وبه یفتی وهوالاصح هغه بل طرف ته ظاهر الروایت دي

اوس به ته ترجیح څنګه ثابته وي : نسبت د ترجیح به اعلی ته کوي ادنی به په تائید کې ذکر کوي داسي به وایي چي دلته: هغه خواته ظاهر الروایت دغه خواته به یفتی دي دا دوهم نمبر ترجیح صریحي ده نو به یفتی ترجیح په ظاهر الروایت ترجیح صریحي ده او سره له دي چي دبه یفتی په تائید کې وهو الاصح هم راغلي دي.

قاعده :

که یوي خواته د هو الحق لفظ وو اوبلي خواته د به یفتی وهوالاصح الفاظ وو اودهوالحق خواته ظاهر الروایت هم وو دلته به څنګه اجراکوو

دلته به درى اجراوي کوي

اول به وايي هغه خواته هوالحق راغلي دي اودي خواته به يفتی راغلي هوالحق خو دترجيح لفظ نه دي غلط دي نو خود به په دغه خواه (چی به يفتی ورسره راغلی) فتوی وي او دي خواته به يفتی راغلي دوهم نمبر ترجيح ده او په تائيد کې يي هوالاصح راغلي اوس بيا هغه بل طرف ته ظاهر الروايت راغلي دی چي ترجيح التزامي ده اودي خواته بيا ترجيح الصريحي راغلي او داخو موږ په درس د رسم المفتي کې ويلي چي د ترجيح صريحي په مقابل کې ترجيح التزامي اعتبار نه لري .

 **دوهم نمبر استفتآء**

اوبه جاري کله بلل کيږي.

قاعده :

۲۷ الفاظ د ترجيح الصريحی راغلي

که چيري هوالاحوط او الاحتياط يو طرف ته راغلل په ترجيح الصريحي کې بل هر لفظ وهغه بلي خوا ته راغلي چې له عليه عمل الامة

(تنبيه دعليه عمل الامة په مقابل هوالاحوط او هو الاحتياط نه راځي).

نو درى چي عبارت دي له(عليه عمل الامة،،هوالاحوط،هوالاحتياط) شخه د اوويشت ۲۷ شخه راکم (منفي) کړه ۲۴ ترجيحات صريحي به پاتي شي .

د دغه څلورويشت په مقابل کې که هوالاحوط او هو الاحتياط راغلي دا فتوی دتقواء ده په مقابل يي هم فتوی روا(جائز) ده په احوط هم روا ده ليکن چي وس او قدرت دي کار کوي په هو الاحوط فتوی ورکوه البته که ضرورت وو بيا په دغه بل طرف هم روا ده

داخبره ياد ولره چي په به يفتی کې داسي فتوی راځي چي په مقابل يي فتوی روانه ده حرامه ده اود هوالاحوط او هو الاحتياط فتوی دمقابل په مقابل هم رواده او په دي خوا(چي هو الاحوط او هو الاحتياط نه دي ورسره ذکر) هم رواده البته چي ذکر وي په هغه خوا فتوی دتقواء ده

 دريم نمبر استفتآء

که يو موړک څاه ته ولودي وپړسيدي ياشړيدلي پيداسو ليکن په دغه اوبو زيد لمونځ کړي غسل يي ځيني کړي کال ورباندي وينځلي اوس به زيد دځو ورځو لمنځونه راګرځوي او دځونه وخت کالي بيرته چي وينځل شوي وو راګرځول غواړي

 څلورم نمبر استفتآء

که چيري ديوسړی څخه مني په شهوت راجلا شول خو چي خارج ته وتل ده دذکر سر ونيوي هر کله چي شهوت ختم سو دذکر سر يي ايله کړي مني مره ووتل اوس په دغه سړي غسل فرض دي که نه ؟

ـ اولا :داخبره بايد په ياد ولرو چي ترجيحات صريحي او التزامي دمجتهد معتبر دي نه دبل چا.

ـ دوهم: ټول ترجيحات په مقابل دنص کې اعتبارنه لري

ـ دريم خبره هم واوري .... ! څلورويشت ۲۴ الفاظ دترجيح صريحي چي يو طرف راشي او هو الاحوط او هو الاحتياط بل طرف ته راشي فتوى د تقواء داده چي په هو الاحوط او هو الاحتياط فتوى وركړي البته په هغه بل طرف هم فتوى روا ده

داولويت فتوى

هر اسم تفضيل په

خپل مقابل د ده دجنس

شخه چي دي دهغه اسم تفضيل

بلل كيږي فتوى داولويت ده

يعني دترجيح په الفاظو کې داسم تفضيل هرلفظ ترخپل ماتحت افضليت لرى اما دخپل ماتحت حرمت نه ثابته وي غرض دادي : چي په لفظ دهوالاصح فتوى وركول اولى دي ليکن په هو الصحيح سره په مقابل کې دهوالاصح فتوى وركول جائز دي ټول اسمآء تفضيل تر دغه حكم لاندي دي

مثلا داصح او دمختار مقابله ده اصح په مقابل کې دمختار راغلي نو په داسي ځاى کې فتوى دعدم جواز ده مطلب په مختار فتوى روانه ده

که چیري اصح په مقابل کې د صحیح راغلي هلته فتوی داولویت ده مطلب په اصح فتوی ښه ده البته په صحیح هم فتوی روا ده که ضرورت وو

توجوه...!

په ترجیحاتو صریحیوو کې که اعلی لفظ او ادنی لفظ سره راغلل اعلی ترجیح لري په ادنی

مګر که چیري دادنی سره ترجیح التزامي راغلل بیا نو په اعلی هم اعلی دي خصوصاً دغه دوي ترجیحات مساوي پرمساوي آکد ګرځه وي او ادنی په اعلی آکد ګرځه وي چې عبارت دی له متون او ظاهر الروایت مثلاً یوي خواته هم وعلیه الفتوی ده بلې خواته هم وعلیه الفتوی ده خو دیوه سره متون دي په کوم یوه فتوی ده؟ چې دکوم یوه سره متون دي فتوی په هغه ده دامساوي په مساوي آکد ده.

ادنی په اعلی آکد دي..

یوه طرف ته ادنی دي بل طرف ته به یفتی دي لیکن دادنی سره ظاهر الروایت راغلي ادنی په بهتردي فتوی په همدغه ادنی ده چې ظاهر الروایت ورسره راغلي دانو ادنی پر اعلی آکد دي.

تنبه: ظاهر الروایت دامام محمد رحمه الله تعالی شپږ کتابونه دي اول مبسوط.دوهم جامع الصغیر.دریم جامع الکبیر .څلورم زیادات.پینځم سیر صغیر.شپږم سیر کبیر. داحاکم شهید جمعه کړل بیا یي نوم دکافي ورباندي کیښود. مطلب دا چې ددغه شپږو کتابو خلاصه اونچوړ کافي نومی کتاب دي .

دلته دوي مسئلې دي

اول ← ردالمحتار (ج/۱ص۵۴۵) چپه لاس

د درالمختار عبارت(يجب بعد السلام واحد) درالمحتار عبارت (قوله واحد) .... ثخه بيا ۵۴۶ص ترفي الكافي وغيره. شل ليكي بيرته ددغه ۵۴۶ ص د درالمختار عبارت : عن يمينه فقط ..... سقط عنه السجود پوري پينځه ليكې تقريباً.

بل ځاي ← الهدايه(ج/۱ص۱۴۰) راسته لاس دوهمه ليکه

((اول نمبر استفتاء))

داده ترېوه سلام وروسته سجده سهوه کيږي که تر دوو

اوفتوی دجواز ده که دعدم جواز که فتوی په دي ووتل چي تر يوي خواته سلام ګرځه ولو وروسته سجده سهوه ده اوس دامام مقتدی اومنفرد فرق شته او کنه اوفتوی چي په هريوه وشول دجواز ده که د عدم جواز؟؟؟

((دوهمه نمبر استفتاء))

مسواک وهل سنت دي که مستحب؟

ردالمحتار(ج/۱ص۸۴).

ددغه ځاي ثخه (قوله سنة المؤكد ...) تر قلت وعليه المتون پور پينځه ليكې تقريباً.



★ توجوه..! توجوه..! توجوه.★

-*یوبله دنیاواله مسئله چي ډیر خلک یي په تصریح قاطع کې عاجز دي

خو ترمخ یي مقدمي ته فکر وکړي

دصحیح او اصح ترماینن شپږ صورته دي

په پینځو کې په اصح فتوی ده په یوه کې په صحیح فتوی ده

★اول: که یوه امام مجتهد دوه قوله ذکر کړل که دیوه سره صحیح ووایي او دیوه سره أصح دلته ته پر أصح فتوی ده.

★دوهم: یوه امام دری قوله وویل دیوه سره أصح دیوه سره صحیح او دبل سره یي هیڅ ونه ویل دلته هم پر أصح فتوی ده.

★دریم: نور دوه امامان مبارکان دي یوه هم دخپل قول سره صحیح ویلي اوبل هم ویلي دریم مجتهد رانقل کړی دیو دصحیح سره یي أصح ذکر کړل دبل دصحیح سره یي صحیح ذکر کړل دلته هم فتوی په أصح ده.

★څلورم: که أصح هغه امام ویلي وو چي ترهغه بل امام چي صحیح یي ویلي په رتبه کې لوړ وو (مثلاً أصح دفتح القدیر ملا صاحب ویلي وي ؛ چي دده مبارک دوهمه طبقه رتبه دمجتهد غیر مستقل یا مجتهد في المذهب ده او صحیح دهدایي ملا صاحب ویلي وي چي دده دریمه طبقه رتبه مجتهد في المسائل ده) دلته هم فتوی پر أصح ده.

★پینځم: ترجیح التزامي متون یا ظاهر الروایت دأصح سره وي دلته هم فتوی پر أصح باندي ده.

★شپږم: صورت چي په صحیح فتوی ده

دانو دری شرطه غواړي*

ـ اول: أصح او صحیح به سره جلا وي په دوو کتابو کې به وي.

ـ دوهم: د دوو امامانو مبارکانو څخه به وي.

ـ دریم: ترجیح التزامي به دأصح سره نه وي د صحیح سره کوي که نه وي دلته په صحیح فتوی ده.

← درالمختار علی هامش ردالمحتار (ج۱ص ۳۷۳)

در عبارت: مع الکراهة .... الی......... في النهر والشرنبلالية .

۹ لیکي عبارت راځي

رد عبارت: د (قوله مع الکراهة) څخه شروع تر اقتصر الباقاني پورې شپږ لیکي تقریباً.

((دریم نمبر استفتآء))

ـ که یوسړي سر له سجدي راپورته کړي بیرته یي دوهمه سجده وکړه اوله سجده یی صحیح شوه کنه؟؟

← ردالمحتار (ج/١ص/١٠٠).

(قوله عين السيلان.....) څخه تر فاجتنبه.پوري څلور ليکي.راځي.

((څلورم نمبر استفتآء))

ـ که دټپ ترسرويني راپورته شوي خوونه بهيدلې اودس ماتيږي کنه*؟.

((پنځم نمبر استفتآء))

ـ که مدعي عريضه وکړي اوس چي مسؤل مدعي حاضره وي دغه مصرف په بيت المال نه جوړيږي دچا څخه به يي اخلي (دمدعي څخه که دمدعي عليه څخه)

ردالمحتار (ج/٥ص/٣١). د : قلت وذکر الشارح في کتاب السرقة.....څخه..تر علي المدعي وهوالأصح ا ه پوري يوه نيمه ليکه راځي.

تمت بالخير

(اووم فصل)

. په أحاديثو مباركانو کې ولي درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دوه رقمه أحاديث راځي مطلب مقابل أحاديث يو حديث شريف يوڅه وايي بل حديث شريف بل څه وايي

مثلاً دنموني په شکل يوځاي راځي چي متعه حلاله ده بل ځاي راځي چي متعه حرامه ده .

.دادپينځو وجهو څخه

✓ اول : يو حديث رسول الله صل الله عليه وسلم يو وخت وايي اوس بل وايي ځکه اول منسوخ دي وروستنی ناسخ نو ځکه تکرار نه غلي طبيب په دي پوهيږي چي دمريض لپاره يوخت يورقم دواء مناسب ده بل وخت بيا بل رقم.

✓ .دوهم : يو خصوصيت دی درسول الله صل الله عليه وسلم لکه دمازديگر ترلمانځه وروسته تهول عمر رسول الله صل الله عليه وسلم نفل کول لکن بل ځاي دالله تعالى رسول وايي چي دمازديگر تر لمانځه وروسته نفل مه کوئ منعه نورو ته ده کول يي درسول الله صل الله عليه وسلم خصوصيت دي.

✓ .دريم : دپيغمبر صل الله عليه وسلم څخه يو کارراغلي وي فضيلت په خطآء لکين هغه بل يي حکم وي همدا وجه ده چي اختلاف راشي

✓ .څلورم: ظاهر دنص دحديث دبل حديث سره مخالف وي اوس نو ته وايي چي رسول الله صل الله عليه وسلم څخه دوي مخالفي خبري راغلي په حقيقت کي مخالفي نه دي اشاره ودي ته کوي چي دهغه حديث شريف ظاهر نه دي مراد او په حقيقت کې هم چي دهغه حديث معنی اومفهوم راواخلي داول سره بيرته يو کيږي هيڅ ټکر نه لري.

✓ .پينځم: مثلاً رسول الله صل الله عليه وسلم وايي چي تاسو په ولاړه بولي مه کوي بل ځاي درسول الله صل الله عليه وسلم څخه په عملي شکل د دغه قول مخالف رانقل دي نو اوس ټکر سره راغلي جواب دادي چي يو په توسع او جواز بناء دي هغه بل په فتوی او تقواء بنآء دي دغه پينځه وجهي داختلاف دي چي د محمد رسول الله صل الله تعالی عليه وسلم څخه اختلاف داحاديثو راغلي

دوهمه خبر دصحابه کرامو رضوان الله تعالی عليهم أجمعين تر مابين موارد داختلاف ولي پيدا شول.

داهم دغه پينځه وجهي دي

✓ .اول: مثلاً يوه صحابي داروايت کړي چي داکار دي وشي او هغه بل صحابي داروايت کړي چي داکار دي نه کيږي داهم داجه ده چي يوه صحابي منسوخ روايت کړي او بل صحابي ناسخ روايت کړي.

✓ .دوهم: يوه صحابي هغه روايت کړي چي تر رسول الله صل الله عليه وسلم پوري خاص دي بل صحابي هغه روايت کړي چي تر پيغمبر صل الله عليه وسلم پوري خاص نه دي .

✓ **. دريم : هلته (په هغه پينځو اقسامو کې چې موارد داختلاف دحديثو په کې بيان شول) لغزش درسول الله صل الله عليه وسلم وه .**

دلته موږ وايو چې يو صحابي په روايت کې خطآء شوي هغه بل حق ته رسيدلي.

✓ **. څلورم: يوه صحابي ظاهر دنص رانقل کړی دی او عمل يې وربـانـدي کـړي دي او بـل نص رانقل کړي دي دلته هغه ظاهر نص ته اوړي په ظاهر کې خو ټکر معلوميږي البته په واقع کې هيڅ ټکرنه لري چې ظاهر نص ته واړه وي .**

✓ **. پينځم: يوه صحابي رانقل کړې ده تقواء بل صحابي رانقل کړی دي جواز**

تنبه پيغمبر صل الله تعالى عليه وسلم تل مدام مکره تنزيهي لپاره د تعليم دجواز کړي دي مثلاً يو ځاي نبي کريم صل الله عليه وسلم فرمايي چې په ولاړه اوبه مه چښبي خو بل ځاي داسي راځي چې په ولاړه پيغمبر صل الله عليه وسلم اوبه چښلي يې دي يو ځاي رسول الله صل الله عليه وسلم فرمايي چې په ولاړه بولي مه کوي البته بل ځاي په عملي شکل داسي ثابت دي چې پيغمبر صل الله عليه وسلم چې خپله دمبارک دغه فعل کړي دي

نو په دي کې يو جوازدي اوبل تعليم .

امامان رحمهم الله تعالى عليهم أجمعين ولی سره مختلف شول ؟ يوامام يو څه وايي بل امام بل څه وايي داد څلورو وجهو څخه.

✓ **. اول : حديث شريف يوه ته رسيدلي بل ته نه دي رسيدلي يوه په اجتهاد عمل کړي بل په حديث ليکن تاته چې معلومه شي چې يوه په حديث عمل کړي بل په اجتهاد ته**

به په حديث عمل كوي هغه خو دهغه عذر دي ليكن تاته اوس رسيدلي ته نورعذرنه لري

اوس نو داعيب نه دي چي امام صاحب ته حديث نه دي رسيدلي اوزه په خبر شوم په قول به يي هم نه كوم په حديث به عمل كوم

په بخاري شريفه كي حديث شريف دي چي مضمون يي داسي دي

ابو موسى الاشعري حضرت اميرالمؤمنين عمر ابن الخطاب رضي الله تعالي عنه ته راغلي درى واره يى السلام عليكم السلام عليكم السلام عليكم سلام ورته واچه وي ده مبارك اجازه ورنه كړه ابو موسى الاشعري ولاړي حضرت أميرالمؤمنين دوي ته وويل چي داد ابو موسى الاشعري آواز نه وو دوي ورته وويل بلي هو ابو موسى الاشعري وو حضرت أميرالمؤمنين امر وكړي چي ابو موسى الاشعري رضي الله تعالي عنه راوګرځوي رايي ولي هغه يي چي راوستي حضرت أميرالمؤمنين ورته وويل چي ولي ولاړي حضرت ابو موسى الاشعري رضي الله تعالى عنه ورته وويل چي رسول الله صل الله عليه وسلم فرمايي چي چاته دي درى واره سلام واچه وي اوجواب يي درنه كړي بس ځيني ځه حضرت أميرالمؤمنين عمر ابن الخطاب رضي الله تعالي عنه ورته وويل چي ته په دغه خبره شاهد تير كړه حضرت ابو موسى الاشعري رضي الله تعالي عنه شاهد ورته تير كړي نو وروسته حضرت أميرالمؤمنين عمر ابن الخطاب رضي الله تعالي عنه وويل چي موږ په عقدو مشغوله وو(دوي مهاجر وو نو راكړه وركړه يي كول) ځونه علم زموږ ښخه پاتي شوي دي نودغه واقعه دذكر شوي دمدعى صراحتا تائيد كوي.

✓ **.دوهم: ابو هريرة رضي الله تعالی عنه ويل چي مړي ته يوائحي لمونځ ورکړي يو قراط ثواب دي او که پټ يي هم کړي دوه قراطه ثواب يي دي حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله تعالی عنهما چي په خبر سو وويل الله څونه قراطونه زمونږ څخه پاتي شول دي ته ورته زيات شواهد نور هم داحاديثو مبارکانو په ذخيره کې موجود دي نو داخبره عيب نه ده**

.تفريع : که يو سړي دمسجد څخه دباندي وو معذور وو مسجد ته ننوتي ديو کار لپاره نه دي ننه وځي که ددغه سړي ننوتل ضرور وو اوده غوښتل چي مسجد ته داخل شي نو دي په خامخا واجب دي چي تيمم به وهي او مسجد ته به داخليږي .

خو که يوسړي په مسجد کی پروت وو معذور شو (۲۷۷ص/ ج۱) ردالمحتار وايي که چير معذور شو او دي بيده وو چي راويښ شو او نه وتي لږ مکث يي کوي پري واجب چي تيمم به وهي او که دستي وتي تيمم مستحب دي ليکن دغه دمستحب خبره څه ملاحظات لري ځکه دبخاري شريفي دحديث مضمون دي نبي عليه الصلاة والسلام راغلي مسجد ته اقامت شروع سو اوس نو قريب دي چي رسول الله صل الله عليه وسلم تحريمه وکړي پيغمبر صل الله عليه وسلم اقامت کوونکي ته وايي چي ته يواري صبر وکړه (ودريږه)دمسجد څخه ووتي غسل يي وکړي بيرته راغلي جماعت ئي ورکړي پيغمبر صل الله عليه وسلم معذور وو ليکن تيمم يي ونه وهي

سمع الله لمن حمده. ربنا ولک الحمد

منفر په دواړه وايي اتفاقا مقتدي به ربنا ولک الحمد وايي اتفاقا امام به فقط سمع الله لمن حمده وايي وعليه الفتوی ډير ځايه ورسره راځي البته

همدارنګه سمع الله لمن حمده او په قومه کې ربنا ولک الحمد امام به يي هم وايي ځکه چي دقومې خيال ځوک نه ساتی لهذا دحديث موافق داده چي امام به په روانتيا کې سمع الله لمن حمده وايي او په قومه کې به ربنا ولک الحمد وايي

اوشاه صاحب هم وايي چي نن خلک جلسه نه کوي نو دجلسي پر مهال اللهم اغفرلي وارحمنی په فرض لمانځه کې دي هم وايي . داراجح دي.

✓ .دوهم: يوه امام ته هم لا حديث نه دي رسيدلي هريوه اجتهاد کړي دي يوا جتهاد دبل سره خطآء دي نو خود سره مخالف شو يو يو رقم وايي بل بل رقم وايي .

✓ .دريم: دوه أحاديث راغلي دي دواړو ته رسيدلي دي خو احاديث سره ټکردي په دفعه کې د تعارض دوي سره مخالف شوي دي يوه ترجيح مختاره کړي ده يوه تطبيق نو ځکه امامان سره مخالف شول درسول الله صل الله عليه وسلم په حديث شريف کې راځي چي غوړوته لاسونه پورته کړه تراوږو دايي يو دوهم وايي چي ترنرميو دغوږو. دريم: وايي چي ترسرونو دغوږو دری سره

احاديث راغلي دي امام شافعي رحمه الله تعالى عليه فرمايي: چي تعارض دحديثو راغلي په دفعه کې دتعارض يي دغه حديث ته ترجيح ورکړل چي تراوږو دي لاس پورته کوي امام صاحب په دفعه کې تطبيق مختاره کړي چي په دريو سره احاديثو مبارکانو باندي عمل راسي نو په داسي طريقه دي لاسونه پورته کړي چي دګوتو سرونه يي دغوږو تر سرو پوري ورسيږي او کف (ورغوي) دغوږو دنرميو سره او دلاس بند داوږو سره برابر سو تطبيق مقدم دي تر ترجيح.

په يوه حديث شريف کې راځي چې دراسته لاس کف (ورغوي) دي دچپه لاس دکف (ورغوي) پر شاه کيږدي په حالت دقرآت کې بل کې راځي چې دلا س بند يي ونيي وي بل کې راځي چې په عضد يي کيښودي دوي راولاړ شول کف ئي په کف کيښودي ترجيح يي په دفعه دحديث کې وويل امام صاحب وايي په درو سره عمل وکړه کف په کف کيښيږده کوچنۍ ګوته (بنصره) او غټه ګوته (ابهامه) راحلقه کړه اودري ګوتې په عضد کيښيږده په تعارض کې يي تطبيق مقدم کړي.

✓ .**څلورم: حديث خو راغلي تعارض نه لري خو يودي ليکن محتمل المعنى دي يو يي يوه معنا معينه کړي بل يي بله معنا لکه دقرء لفظ مشترک دي په مابين دطهر او حيض کې امام صاحب يي دحيض معنا معين کړي امام شافعي صاحب دطهر**

تمت بالخير

(اتم فصل)

.په کومو کتابونو فتوی نه ورکول کیږي

په کتابو چي فتوی نه ورکول کیږي دیوه دشپږو وجهو څخه.

.اول: په هغه کتاب فتوی نه ورکول کېږي چي دمصنف حال یي نه وي معلوم لکه خلاصة کیداني،شرح دملام مسکین دکنز، ټول کتابونه دقحستاني،خزانةالروایت . د دغه کتابو دمصنیفینو حالات معلوم نه دي.

دوهم: په هغه کتابوفتوی نه ورکول کیږي چي مصنف یي معلوم وي البته رطب اویابس یي په کتابو کې راجمعه وي لکه قنیة دزاهدي . ردالمحتار چي شرح د درالمختار ده هر څومره ردونه یي چي دنیا په علمآوو کړي دي دهغه سه چنده یي په بحرالرائق هم کړي او بحرالرائق په ابو حنیفه ثاني مشهوروو لیکن وجه داده چي دي دقنیي څخه نه اوړي دریم ټوک چپه لاس دپاي له خوا دریمه لیکه او ویشتمه (۲۷) صفحه وایي که یو سړي ښځې ته معلق طلاق ورکړي چي ته دي په ده باندي په ثلاثه طلاق باندي طلاق یي که دغه خوني ته ننوتلي اوس نو په کومه طریقه ځان خلاصه ولي شي معلق طلاق دي

حیله داده

– ښځه دي طلاق کړي بیا دشرط پر ځاي کړي شرط به کله په ځاي کوي قنیه واله وایي چي ماسي یي طلاق ورکړي شرط دي پرځاي کړي لیکن داخبره غلطه ده لیکن شامي یوه صفحه رد باندي کړي چي نه چي طلاق یي ښځې ته ورکړي عدة یي تیر سو بیا دي شرط پر ځاي کړي اونکاح دي وکړي دا یي یوه خبره

دوهم

- بحرالرائق (۱۳۶ص/ ۲) وايي چي سقل هر ځاي وي اوسړي هلته ولاړشي مسافر نه بلل کيږي که څه هم نيت داوو ياشپږو ورځو وکړي

خوليکن سخت خطآء وتلي

چي پوره دپيځه لسو شپو نيت ونه کړي چي ددنيا هرشي پراته وي نه مقيم کيږي.

اوزاهدي شعيه اعتقاده دي حنفي فقه دي

اوس نو ددغه دوو رقمو کتابو حکم څه شي دي په تائيد کې يې دبل کتاب ذکر کولاي شي که يي خبره تراصل عام لاندي وه عمل په کولاي شي البته په تفروداتو کې عمل پري ناروادو.

. دريم: هغه کتاب باندي فتوی ناجائزه ده چي نه پيداکيږي دهغه په مثال کې يي ليکلي محيط البرهاني دنيا نه وو کتلي عبد الحي الکنوي صاحب وايي چي ما وکتي هغه په دي مرتبه کې نه دي

البته بعضي دا وايي چي محيط البرهاني په دوهم قسم کې داخل دي ځکه ضعيف راويتونه په کې دي خو بيا هم عبد الحي الکنوي صاحب وايي چي موږ وکتي په اعلی کتابو کې داخل دي مصنف يي مجتهد في المسائل دي اول چي ظاهرالروايت نادرالروايت يي جلا کړي هغه ده کړي نو په دي مرتبه کې ځُنګ کتاب دي

.څلورم: شيخ الاسلام وايي چي هر هغه کتاب چي صحيح چاپ يي نه وي راغلي که څه هم ډير مشهوروي لکه بنايه دهدايي شرحه په قول يي عمل نه شته.

او هغه کتاب باندي فتوی نه ورکول کیږي چي ډیر اختصار وي په کې لکه اشباه والنظائر دابن نجیم،اودرالمختار دحصکفي لیکن درالمختار په دوهم قسم کې هم دي رطب اویابس ښه پریمانه لري

حکم یي دادي چي فتوی هغه وخت باندي رواده چي شروحي باندي وکتل شي دپوره قیودو سره فتوی باندي روا ده.

.پینځم: په هغه کتابو فتوی ناروا ده چي نسبت یي مصنف ته غلط وي. لکه حاشه دمناقبو دامام ابوحنیفه چي شمس الدین ذهبي ته منصوبه ده شمس الدین ذهبي قطعا دامام صاحب په مناقبو کې نه دي جوړ کړي البته امام صاحب ته ثقه ثقه ویلي دي او دي خپل په کتاب کې وایي چي زه دلته نقادان ذکر کومه البته چي زیات مشهوردي لکه امام صاحب دهغه ذکر ته ضرورت نه شته په وجه دشهرت لیکن د مبارک په مناقبو کې کتاب نه دي جوړ کړي

تنویر مقیاس في تفسیر ابن عباس دا هم غلط دي دده مبارک کتاب نه دي.

فتوی عزیزیه دشاه عبدالعزیز صاحب کتاب نه دي نسبت یي غلط دي که په تائید کې ذکرسو صحیح دي البته خپله په دغو کتابو فتوی جائزه نه ده.

.شپږم هرفن ځان ته رجال لري

وللناس فیمایعشقون مذاهب

.هغه کتابونه چي فن یي جلا وي لکه فقه حدیث تفسیر دیوفن دکتاب څخه په بل فن کې په تفروداتود دوي فتوی ورکول حرامه ده البته په تائید کې پروانه کوي چي په دي فن کې نه وي په تفروداتو کې فتوی ورکول جائزنه ده هغه لکه ټولي شروحي داحادیثو مثلا فتح الباري

عمدةالقاري چي دبدرالدين عيني حنفي مذهبه تصنيف دي،مرقات المصابيح شرح مشكاة المصابيح بي غير د تائيد شخه په تفروداتو كې د دوي فتوى روانه ده.

مسئله: ردالمحتار وايي چي مالگه ترډوډۍ مخكي شكل سنت ده او دي په تورو ليكي (ص ۲۸۹/ج۵) چپه لاس دريمه ليكه وايي سر خريل سنت دي خو دواړه سنت نه دي

ځكه

- اول : پيغمبر صل الله تعالى عليه وسلم په ټول عمركې سر نه دي خريلي په ماسوى دمناسكوكې (لكه حج، اوعمروكې) بل وخت يې نه دي خريلي.

. دوهم: يولک او څورلس زره صحابه رضوان الله تعالى عليهم أجمعين دگوتو په شمار سرونه خريلي نورونه دي خريلي نورو ټولو څوني پريښو دلي دي

. دريم: حضرت علي رضي الله تعالى عنه چي سر خريلونو عذريې غوښتلو كه سنت وايي نو په سنت كې عذر غوښتل بيا صحابي نو څنګه عذر غواړي.

اوحضرت علي رضي الله تعالي عنه وايي چي پيغمبر صل الله عليه وسلم فرمايي چي ترهر ويښته لاندي كه يو چا ويښته پري ښودي ده وويل من ذالک عديت الناس من ذالک عديت الناس من ذالک عديت الناس دي وايي چي سرخريم دغذر په وجه.

او بل ياعلي عليک بالملح قبل الطعام وبعده داچي ده داويا امراضو لپاره شفاده داحديث نه دي دملا علي قاري موضوعات الكبرى (۳۰۳/ ۳۷۸/ ۳۰۰) وګوره

همدارنګه منار منيف وګوره ، اللآلي مصنوعه في الحديث موضوعة وګوره دعلامه سيوطي صاحب.

همدارنګه الصلاة خلف عالم المتقي كصلاة خلف النبي.

داهم حديث نه دي دهدايي ملا حب هم محدث نه دي فقيه دي

وګوره نسخ الرأيه في تخريج الهدايه علامه جلالالدين زيلعي چي دي نقاءدي دوه ټوكه كتابه باندي جوړ شوي دغه كتاب دهدايي دويلو سره ضرور دي ترڅو په ګناه كې واقع نه شي

همدارنګه علامه فتح القدير په دغه ځاي وګوره چي محدث كبير دي موضوعي يي بولي

لهذا هرفن ځان ته رجال لري يو دبل سره بايد ګډ نه شي په زرګونه احاديث يوازي مظهري راجمعه كړي چي دمظهري څخه راغلي.

ردالمحتار كې راځي(ص۶۵/ج۲)چپه لاس په داسر درالمختار دي وايي طالب ته زكاة وركول كه څه هم مالداري غني وي روادي بيا ئي چي تعريف كړي عالم تري لاندي شو الذي فرغ نفسه لإفادة العلم وإستفادة دواړه ځيني لاندې شول

لكن لاندي دي رد باندي كوي داځاي سخت غلط دي خالي دعالم اوغير عالم فرق دادي چي عالم ته ترنصابه سوال روادي هغه هم په داسي طريقه نه چي په كوڅوكې په خلكو پسي ګرځي بلكي يو چاته ويلي شي اوامي چيدغرمي اودماښام لري سوال ورته حرام دي اوپه دي نصاب فرق نه لري ليكن تردغه څلور ليكي په دغه مخكي اخواته وګوره حديث يي تير كړي دي وايي چي دځلوېښت كاله نفقه ولري عالم ته زكات روادي داحديث هم موضوعي دي دعلامه الشامي په دارالافتآء كې اوس په ردالمحتار كار شروع شو لس كاله مخكي شپاړس ټوكه راغلي داكتاب ټول ردالمحتار ته يي اعراب وركړي دټولو صيغې يي معلومي كړي دي يَكرِمُ. يُكرِمِ فرق سره لري اوهركتاب يي سره دحوالو رانقل كړی حديث موضوعي اوصحيح يي سره جلا كړي

نو په دغه ځاي يي چي وګوري دغه ردالمحتار(۱۳۳ص / ج ۵) چيه لاس دغه حديث نشته علم کوچني کار نه دي.

 ***نادره:***

– داحاديثو پخواني شروحي يا تفسير اوسني چي ورته وايي دمولانا محمد شفيع صاحب تفسير معارف القرآن ددغه تفسير اندازيي دفتوی دي دسره څخه ترپايه ټوله فتوی ده هرمسئله يي چي ذکر کړي غلطه نشته په کې بيان القرآن دحکيم الأمة اشرف علي التهانوي مولانا مفتي شفيع صاحب وايي چي زه مفسر نه يم زه بيان د بيان القرآن دحکيم الأمة صاحب درته کوم نو معارف القرآن داسي شو لکه شرحه دبيان القرآن سرترپايه يي مسئله صحيح ده په دي ټولو فتوی ده مشکل نه شته

ذخيرة الجنان مولانا سرفراز خان صفدرصاحب تصنيف دي په اردوکې دي پښتو ترننه نه دي راغلي اميد دي چي پښتو به شي په دغه کتاب کې چي کومه مسئله ده سر ترپايه قابل دفتوی ده دايوازي تفاسير شول

راځو شروحو ته داحاديثو مبارکانو دبخاري شرحه فيض الباري دګوتو په شمير تفرودات لري علامه فتح القدير د دشاګرد قاسم صاحب دده شاګرد دي هغه وايي چي زما استاد لس ځايه تفرودات لري په قول يي مه کوي بيا به راسي لهذا دفيض الباري دتفروداتو ماسوی سر ترپايه قابل دفتوی ده او تردي وروسته چي په بخاري شريفه انعام الباري دشيخ الاسلام صاحب ترقيامته پوري به بيا داسي شي جوړ نه شي د فيض الباري تفسير اوترجمه يي هم وکړه هغه په تفروداتو کې يي هم فتوی واړول پر بله خوا يي کړه دانو دسره څخه ترتمت پوري ټول دصحيح فتواوو مجمعه ده خلاف الاولی به په کې پيدا نه کړي سر ترپايه فتوی باندي ورکوه.

(نهم فصل)

اول نمبر استفتاء

.طهرمتخلل په حيض کې کوم دی

مشهور دری (مذهبه) دي اول د امام ابو يوسف رحمه الله تعالی.

دوهم: دامام محمد رحمه الله تعالی.

دريم: دبعضو علماء کرام.

هر مذهب جلا جلا رانقل کړئ

په کوم يوه فتوی ده واضح يی بيان کړی ؟؟؟؟

حواله

ردالمحتار(ج١/ ٢١٢).

راسته لاس

ددغه قول خخه (ولو المرئی طهرا الخ.......) شروع بيا آتلس ليکې پوره کړه تر{تتمة}پوري.

دوهم نمبر استفتاء

.طهرمتخلل په نفاس کوم دي وضاحت ئي وکړئ ؟؟؟

ردالمحتار(ج١/ص٢١٢). راسته لاس

د {تتمة} څخه شروع بيا شپږ ليکې تر (قوله. حيض) پورې.

.هيڅ ترجيح نشته بله .

طرفين يو طرف ته دي امام ابويوسف صاحب بل طرف ته فتوى دچاپه قول ده؟؟

د طرفينو څکه قول د طرفينو ترجيح التزامي لري پر غير

. او همدارنګه بله ترجيح نه شته امام ابوحنيفه رحمه الله تعالى،امام ابويوسف رحمه الله تعالى، امام محمد رحمه الله تعالى هريو ديوې مسئلې دحکم په باب جلا جلا قولونه لري دامام صاحب قول ترجيح التزامي لري پر غير.

↓↓مهمه↓↓

.شپږ داسي مسئلي دي چي امام محمد صاحب وايي چي امام ابويوسف صاحب تاراته ويلي دي خو امام ابو يوسف صاحب وايي چي ما نه دي درته ويلي

ليکن حق قول دامام محمد صاحب دي .

دلته يي دنمونې په شکل يوه مسئله رامخته کوو

.امام محمد صاحب وايي امام ابو يوسف صاحب ته چي تا داسي راته ويلي که يو معذورسړي د ځاښت په وخت کې اودس تازه کړي چي دماپښين وخت داخل شي اودس يي نه ماتيږي دمازديګر وخت چي داخل شي اودس ئي ماتيږي.

.امام ابویوسف صاحب وایي چي نه ماداسي نه دي درته ویلي بلکې چي دماپښین وخت داخل سي او دس ئي ماتیږي اوس دچا قول معتبردي ؟

دامام محمد صاحب

.که یوه ترجیح نه وه یوي خواته ډیر مشائخ وو بلي خواته لږ فتوی په کوم طرف ده؟

.په هغه طرف فتوی ده چي په کوم طرف ډیر مشائخ دي دا ترجیح التزامي لري پر غیر.



📖 .اوله مسئله بنا په تیسیر ده .

.دوهمه مسئله دآکد لفظ شوه.

مهمه

📖 دتیسیر قاعده:

داتیسیر داسي ځاي راځي چي یو حدیث شریف راغلي وي مجتهدینو یي په استنباط کې اختلاف کړي وي البته دحدیث صراحت په یوه خوا نه وي نودوي اقوال رانقل کړي دوه دری څلور وغیر ذالک..... مطلب هریوه دحدیث شریف څخه استنباط کړي حدیث صریحي په یوه کي نه دي بیانو په داسي ځاي کي دنفس کتاب او کتاب او دنفس مشائخو او مشائخو ټکر راغلي په داسي ځاي کې هر طرف ته ډیر مشائخ تللي هم ډیرو خلکو تګ کړي او داخبره موږ کړي چي ترجیح دمشائخو دصریح الفاظو په مقابل کې هیڅ اعتبار نه لري البته په داسي ځاي کې په تیسیر عمل کیږي لکه دأضحیي په باب کې زیاتو کتابو لیکلي چي په فقیر أضحیه په نفس شراء لازمیږي لیکن دغه بل طرف ته هم علمآء شته لیکن که څه هم دهغه بل طرف په نسبت دغه علمآء کم دي البته په ټول

وخت کې په حديث شريف کې ځوک دا نه شي پيدا کولاي چي په نفس شراء دي په فقير أضحيه لازمه شي او دا خبره هم په ياد ولره چي فقه دقرآن اوحديث تفسير دي نو دکتابو ټکر سره راغلي نه داحاديثو

داخبره داسي نه ده چي بل ځاي حديث راغلي وي او بل طرف ته علمآء وي نوته ووايي چي دلته هم تيسير دي نه دغه ځاي بنه سم وفهمه وي

.______________

< تمهيد >

.سړي چي معذور کيږي شرط دابتداء دعذر يي څه شي دي ،شرط دبقاء دعذر ئي څه شي دي،شرط د زوال دعذر ئي څه شي دي تفصيلاً ليکل غواړي

____



دريم نمبر استفتاء

.معذور چي اودس تازه کړي په دخول دوخت که په خروج دوخت يي اودس ماتيږي او که په دواړو ؟

تردي لاندي



خلورم نمبر استفتاء.

★ معذور که استطلاق بطن ،يارعاف الدائم،وغيره....وى ددغه معذور کالي خو نجسيږى دي به هر لمانځه ته کالي پريولي اوکه به يي نه پريولي.؟

(اتفاقي خبر دمعذور لمونځ په صحيح په سي اتفاقا روادي دصحيح لمونځ په معذور په سي اتفاقا نه دي روا)

 پینځم نمبر استفتاء

.دمعذور لمونځ په معذور په سي څنګه دي دلته دوه قوله دي بعضي وايي داعلي معذور په ادنی معذوروالي په سي روادي بعضي وايي چي په اتحاد دعذر کې روادي په اختلاف دعذر کې مطلقا اقتدآء نه ده روا اوس نو فتوی په کوم قول ده؟؟؟؟

حواله

↓↑↓↑↓↑↓↑↓

.ردالمحتار(ج/١ ٢٢٣،٢٢٤,٢٢٥)

ذکرشوي درى سره صفحې کتل غواړي البته ګام ګام آوښتل غواړي.

ولايخفی ذالک علي مذکی

(لسم فصل)

طبقات الكتب (دكتابو طبقې)

اول طبقه: دمتونو ده .

اياټول متون معتبردي په دغه اوله طبقه کې؟

نه ؛ بلکې دغه متون چې اوس به ان شاء الله تعالی ذکر شي .

اول: بداية المبتدي . دوهم: مختصر القدري.دريم: کنز الدقائق. څلورم: الوقايه يا نقايه دواړه يو کتاب دي.پينځم: ملتقط الابهر.

شپږم: مجموع البحرين حضرت مولانا عبد الحي الکنوي رحمه الله تعالی په کې داخل بولي

تردغه سوا نور متون نه شته .

تردي وروسته شروحي دي بيا ترشروحو وروسته فتاوی وي دي

اوداخبره موږ په ترجيحاتو التزامي وو کې کړي چې متون پرشروحو باندي ترجيح التزامي لري شروحي په فتاوی وو باندي ترجيح التزامي لري

او داخبره هم په ياد ولره چې ترجيحات يوازي دمجتهدينو په کتابو کې معتبري دي.

– اوله شرحه: هدايه شريفه ده: دهدايي شريفې ملا صاحب په سنه: دوشنبه/ ۰۸/ ۰۷ رجب المرجب/ ۵۱۱ ه ق . فاني دنيا ته سترګی وغړه ولي

اسمه المبارک: شيخ الاسلام إمام برهان الدين،ابوالحسن،علي بن ابي بکر،بن عبدالجليل،المرغيناني،الفرغاني

دي مبارک دازبکستان دي ډېر ژوند يي په ثمرقند کې کړي دي اوس يي قبرهم په ثمرقند کې دي مور مبارکه يي عربه وه د حضرت ابو بکر صديق رضي الله تعالی عنه داولادي څخه وه مطلب دي مبارک خپله عجمي دي.

.وفات ســــــنه: سه شنبه/۱۴/ذوالحجة۱۲/ ۵۹۳ ه ق. ټول عمريي ۸۲ کاله وو.

هدايه شريفه د مبارک په څوارلس(۱۴) کاله کې جوړه کړه ۱۴ کاله مکمل د ده مبارک روژه وه هغه خادم چي ډوډي به يي ورته راوړه هغه هم نه وو په خبر کله چي دي مبارک وفات شو هغه کور څخه داحال معلوم شو چي ده مبارک به هغه خپله ډوډي (روژه ماتي)وراوسته ول. دي خپله مجتهد في المسائل دي دکتاب رتبه ئي ډيره عالي ده البته د دوي په زمانه کې اختلافات نه وو نو ځکه ئي ترجيحات نه دي ويلي

دهدايي شريفي عادات :

.اول: دبداية المبتدي،قدري،اوجامع الصغير قول په قَالَ سره ذکر کوي دبل هرچا قول چي ذکر کوي په قَالَ يي نه ذکر کوي

.دوهم: اول دقدري قول ذکر کوي بيا دجامع الصغير قول ذکر کوي. که چيري دقدري اوجامع الصغير سره اختلاف وو دجامع الصغير په نامه تصرح کوي.

.دريم: دعما په جواب کې مطلقا حرف «فا» نه راوړي اعتماد کوي په فهم باندي.

.څلورم: که يي عند راوړي دامذهب دي.

.پينځم: که يي عنه راوړي دا روايت دی.

.شپږم: هرځاي جواب دسوال مقدر څخه کوي سوال قطعا نه ذکر کوي فقط په شفعه هدايه شريفه کې درى ځايه په سوال تصريح کوي داسي ووايي فان قيل. قلنا.نور بل ځاي صراحت نه شته.

.اووم: هغه قول چي دي آخر ذکر کړي هغه ته ترجيح ورکوي اکثره وخت دامام صاحب قول دليل مؤخره کوي ته پوه شه چي دترجيح التزامي ده فتوى په دغه قول ده او که ديارانو قول وروسته ذکر کړي نو ته پوه شه چي فتوى په دغه قول د يارانوده.

.آتم: که مخکي آيات شريف ذکر شوي وو دي اشاره په لماتلونا سره ورته کوي.

.نهم: که حديث شريف ذکر شوي وو دي اشاره ورته کوي په لمارويناا.

.لسم: که مخکي عقلي دليل ذکرشوي وو دي اشاره ورته کوي په لما بينا.

.يولسم: دعام لپاره لماذکرنا وايي.

.دولسم: اوکه دصحابي قول دليل وو وللاثر ورسره ذکر کوي.

.ديارلسم: که دليل عقلي وو والفقه ذکر کوي.

.څوارلسم: که نحمل الحديث وويلو معلومه داده چي محمول دي ذکر کوي.

. پينځه لسم: حمل الحديث، يا نور قيدونه ورسره ذکر کړي معلومه داشوه چي دغه حمل دي نه کوي بل څوک يي کوي.

📖 **.اوس يوه فتاوى ذکرکوو ان شاء الله تعالي**

الفتاوى العالمګيري

شاه جهان مغول پاچاه وو

تعریف: ابو المظفر محي الدين محمد اورنگزیب عالمگیر معنی داکثر عالم باچاه اورنگزیب معنی زینت الفلک یازینت الملک

د ده مور مبارکې نوم ممتازمحل وه .

.سنه ولادة: ۱۰۲۸ه ق / ذوالقعده/ ۱۵.

سنه وفات: ۱۱۱۸/ذوالقعدي/۲۸.

ټول عمر ۹۰ کاله وو ۵۲ کاله يې پاچاهي وکړل

په کشر توب کی یي پلار وفات شو دي پاچاه شو ۵۲ کاله باچاهي يې وکړه کارنامي يې تر تصور زیاتي دي په ټول عمر یي دوشنبه اوپنچشنبه روژه نیول دروژي مبارکې په میاشتي کې ئي خپله تراوح کولي په ټول عمر يي اعتکاف نه دي پریښي اول دقانون جوړ کړي دمجلة الأحكام قانون ترده وروسته وو ده وویل چي زه په مذهب فتوی کوم نو ده مبارک ۵۰۰ علمآء راوستل چي نظام الدین برهانبوري يي دلجني مشر وټاکي ټول مسؤولين دلجني پينځه کسان وو خو دټولو پرسر نظام الدين برهانبوري مشروو نو دوي عالګیري ورجوړه کړل دايي يوه بله لويه کارنامه وه.

.شاهي مسجد يي په لاهور کې جوړ کړي په دری کاله په هغه وخت کې چي جوړ شو دټولي دنیا مسلمانانو پاچاهانو دجمعي شريف لمونځ په کې ادآء کړي ۵۲ مملکته وو دغه ۵۲ پاچاهانو لمونځ دجمعې شريف په کې ادآء کړي .

.اوده په ټول عمر کې لمونځ بي جماعته نه دي کړي په ټول عمر يي دبيت المال ډوډي ونه خوړه دده ډير ښه خط زده وو قرآنونه به يي ليکل او دهغه له طريقه به يي بيسی پيدا کولي نفقه يي په همدغه پیدا کوله په همدغه حال کې یي جنګونه دانګريزانو سره کړي

د دنيا يو زمري وو لکن لاري پري بندي وي مکي معظمي او مديني منوري ته نه شوي تللي دوه قرآنونه يي وليکل يو دمکي معظمي او بل دمديني منور لپاره .

.دملا جو په نامه د ده يو استاذ وو دي دهغه په دائره کې اوسيدلاي استاد ډير وخت تير سو چي دخپل استاذ سره يي ملاقات نه وو شوي نو ده دخپل استاذ ملاقات وغوښتل دنو دروژي مبارکې مياشت يي ورسره تيره کړه بيا يي يوه اندازه روپي يي ورکړي دهغه وخت ورته يي وويل چي دغه زما خپله شخصي روپي ده دغه واخله استاذ ولاړي تقريباً لس کاله يي بيا سره ونه ليدل يو چا ورته وويل چي استاذ دي دومره پيسي پيداکړي چي پوره بازار د ده ددوکانونو څخه جوړ دي خو زيات موړ شوي استاذي يي چي راغلي ده ورته وويل چي ته ولي دومره موړ شوي استاذ ورته وويل چي هغه تاسو کومي روپي راکړي داهغه روپي دي الله تعالى په کې برکت واچه وي اوس ټول بازار زما دي ده پرمالي غږ وکړ چي راسه داروپي څنګه مصرف شوي هغه چي حساب وکړي هغه حساب يي ورکړي استاذ يي وايي يو خت سخت باران وريږي خونه مي نړيږي کوچنيان مي سخت په عذاب دي ډيري خواري مي تيري کړي خو هيڅ نه کيدل اخر يو مزدور روغلي مخ او سر يي پټ وو هغه ويل چي دا کار زه کوم کاري يي راته وکړي ډير زما په زړه پوري کار وشو تکليف موختم شو دباران دضرر څخه په امن شو ما په جيب کې راوړي وي دغه روپي ماورته وويل چي تا موږ له مرګه خلاص کړو زه صبا تاته روپي درکوم ده وويل چي نه دغه راکړه مادغه ورکړي ماډيري زاري ورته وکړي ده ويل چي نه زه ډير کارونه لرم په آخرکې عالم ګير باچاه ورته وويل چي هغه زه وم هغه ستا څخه مي چي په مزدوري اخيستی ده هغه ملاجوته يي آواز وکړ وي دغه روپي ماتاته درکړي.

 **.دعالمګيري طريقه:**

.كه ظاهر الروايت او نادرالروايت راغلي وو دي فقط ظاهر الروايت ذكر كوي نادرالروايت نه ذكر كوي.

.نادرالروايت دي فقط دوه ځايه ذكر كوي كه ظاهر الروايت نه وو او كه د نادرالروايت سره ترجيح دمشائخو ذكروه دي يي بيا ذكركوي.

كه ديوي مسئلې په باب دوه قوله وو أصح ئي ذكركوي هغه بل يي نه ذكر كوو .

. خو كه دواړه ظاهر الروايته وو ترجيح نه وه راغلي يا ترجيح راغلي وه په يوه ركم بيا دواړه ذكر كوي

. مسائل ښه ډير په كې دي خو اسم اومسى يي نه دي برابر هنديه دهند علمآوو جوړه كړي نو بايد دنوي مسائلو مجموعه واي البته نوي مسائل په كې نشته.

تمت بالخير

(يوولسم فصل)

درى استفتاء وي

جمعه مباركه / دصفرالمظفر دمياشتي ۰۲/ ۱۲/ ۱۴۴۴ ه ق كال المدرسة النورانية هلمند افغانستان

اول نمبر استفتاء

قومه ، جلسه څه حكم لري: سنت،واجب،فرض ، كه واجب شي او دسړي څخه سهواً پاتي سي سجده سهوه لازميږي اوكنه واضح يي بيان كړي؟.

حواله

ردالمحتار(ج/۱ص ۳۴۲ _ ۳۴۳).

(قوله وتعديل الاركان) څخه شروع بيا د۳۴۳ صفحي تر دغه قول پوري (قوله ولو في نفل) پوري

دوهم نمبر استفتاء

پزه،اوتندي په سجده كې په لمانځه كې ايښودل دواړه فرض دي،كه دواړه واجب ،او كه يو فرض دي اوبل واجب څه حكم لري واضح تشريح يي وكړئ ؟ په صفحه(۳۶۸) كې اول ۱۴ ليكو كې وګوره.

مكمله حواله رارواته ده صبر وكړه

 ## دريم نمبر استفتاء

كه يوسړي په لمانځه كې په حالت دسجدي كې يوه پښه پورته كړي يادوي پښې پورته كړي عام تردي كه په يوه پله يي دواړه پښي پورته كړي اويا په يوه پله يوه پورته كړي بيا بله پورته كړي دلمانځه ئي څه حكم دي (لمونځ يي فاسديږي اوكنه ؟) واضح ئي بيان كړئ.

په صفحه (٣٦٩) ٢٧ ليكو كې يي وګوره.

 ددواړو مسئلو حواله ده

حواله

ردالمحتار(ج/١ص ٣٦٨) د درالمختار عبارت «» (وكره اقتصاره) في السجود......تركما حررناه في شرح الملتقي»».

عبارت دردالمحتار«» (قوله ووضع أكثرها واجب) څخه شروع بيا د ٣٦٩ صفحې تر دغه عبارت پوري (قوله ولو واحدة) . ټول ٤١ ليكي دي ١٤ ليكي اول ليكي يو دي او وروسته ٢٧ ليكي نور .

تمت بالخير

 (دوولسم فصل)

تر هدايه شريفه وروسته فتح القدير

– محمد بن عبدالواحد بن عبدالحميد بن مسعود كمال الدين ابن الهمام العربي ،المصري،

د پيدا ينبت سنه (790 ه ق) ډيرزيات ښائسته وو او الله تعالى دخپلې تقواء په سبب سره دي دهر قبيح او فاحش عمل څخه وساتي بي اندازه ډير ښائسته وو او خپل په زمانه کې ده مثل نه درلودي .

سنه وفات (861 ه ق) د (71) کلنو په عمر دجمعې مبارکې په ورځ درمضان المبارک په 7 نيټه په مصر قاهره کې وفات شو انا لله وانا اليه راجعون.

قبر يې هم هلته دي

رتبه: مجتهد في المذهب.

– ملک العلمآء علآء الدين ابو بکر ابن مسعود ابن احمد الکاساني . کاساني منسوب به سوى کاسان.

کاسان په اصل کې قازان دي قازان .په ازبيکستان کې ديو ځاي نوم دي

دي خپله عربي دي حلبي دي منسوب بسوى حلب په سوريه کې يو ښار دي .

دي راولاړ شوولاړي ثمر قند ته په ثمر قند کې محمد ابن احمد ابن ابي احمد سمرقندي دتحفة الفقهآء مصنف وو دهغه شاګرد شو دي راولاړ شو په تحفة الفقهآء يي شرحه جوړه کړه په نامه د بدائع الصنائع دثمرقندي صاحب لور وه فاطمه نوميدل خپل

په زمانه کې ئي په بنائست کې ساري اوثاني نه لرل تحفة الفقهآء يي خپل دپلار څخه په ياد زده کړي وه د دنيا په غټو غټو فقهاوو کې وه ثمرقندي صاحب خپله لور کاساني ته په نکاح ورکړل سره له دي چي دروم ټولو پاچاهانو مرکې ورته کولي نه يي ورکول .

په مهر کې يي دکاساني صاحب تأليف شوي کتاب بدائع الصنائع وټاکي وايي فاطمه په کاساني هم لا په علم کې زياته وه داسي راغلي چي په ډيرو ځايونو کې يي کاساني خپل دقول څخه اړولي چي دليل به ئي ورته وويلو اوهغه دفاطمي طرف به راجح وو او په ډيرو ځايونو کې يي کاساني صاحب ته مشورې ورکولې مسئله به چي راو وته درى تقريظونه په باندي شوي وو

اول : استاذ (ثمرقندي) صاحب.

دوهم: دشاګرد (کاساني) صاحب.

دريم: لور (فاطمه) مبارکه.

په ابتداء دعمر کي دکاساني حالات معلوم نه دي

ليکن دماپښين ترلمانځه وروسته ديکشنبې په ورځ په لسم ۱۰ درجب المرجب په حلب کې(خپل وطن ته ستون شوی وو) په حلب کې مقام ابراهيم شته فاطمه تر ده مخکي وفات شوي وه دهغي په بغل کي خاورو ته وسپارل شو په سنه(587ه ق).

ضياءالدين وايي چي حال دځکندن يي راغلي دي وايي سورة ابراهيم يي شروع کړي دغه آيات شريف ته راورسيدي چي «« يثبت الله الذين امنوا بالقول الثابت في الحياة الدنيا»» وفي الآخرة توري چي يي ويلو وفات شو

انا لله وانا اليه راجعون

علامه شامي وايي په ردالمحتار (ج/١ص٧۴) کې ماچي هرڅه کتابونه کتلي تربدائع الصنائع مي ښه کتاب نه دي ليدلي .

رتبه: مجتهد في المسائل دي

- د ده خصر محمد ابن احمد ابن ابي احمد سمرقندي وفات ســـــنه 540ه ق

دي هم متبحر عالم وو.

رتبه: مجتهد في المسائل دي.

- شمس الائمه السرخسي : محمد ابن مسعود ابن احمد سرخسي،خزرجي ، انصاري،مدني،عربي

سرخ په ترکمنستان کې يو ځاي دي هغه ته منسوب دي منسوب به سوي سرخ

اوس اوخزرج دوي په اصل کې ديمن دي هغه بند باندې رائله شو چې سورة صبأ کې يي مکمله واقعه راغلي سيل العرم ..

دوي بيا مهاجر شول مدينې طيبې ته دوي هلته مدينه منوره کې ځمکې نه لرلي درسول الله صل الله تعالی عليه وسلم تر پيدايښت ١٠٠٠ کاله يا ٨٠٠ کاله مخکې دوي مدينې طيبې ته ورغلي وو

خاکان پاچاه د ده دعصر پاچاه دي يوه مينځه راوستل چي درحم استبرآء ئي ونه کړل شپه يي ورسره تيره کړه دفتوی ورکړل چې دغه عمل دشريعت مقدسه خلاف دي داعمل حرام دي هغه راولاړ شو دی يي ١۵ کاله بندي کړي ١٢ کاله هم راغلي البته ١۵ راجح دي ټول مبسوط يي په دغه ١۵ کاله کې وليکي وروست يي شرحه دسيرکبير

شروع کړه ۲ جلده يي پوره کړه دربيع الاول په دوهم باندي ايله کړي دي ولاړي مرغنيان ته هلته يي په جمادي الثاني کي شرحه دسيرکبير هم پوره کړه

په (480 سنه ه ق) کي ايله سو

په (490 سنه ه ق) کي وفات شو قبريي اوزجن قرغززستان کي دي

عمرټول (83) کاله

(407 سنه ه ق) ولادة .

رتبه: مجتهد في المسائل ردالمحتار(ج ۱ / ص۵۱) د ترتوسي رحمه الله تعالى نقل کوي چي دهر کتاب ټکر راغلي د مبسوط سره اعتماد يوازي پر مبسوط کيږي په بل نه همدارنګه وکوره ردالمحتار (ج/۱ص۷۴) .

تمت بالخير

 (ديارلسم فصل)

دری ستر ستر علمآء چی اول: مجتهد فی المسائل دی . دوهم: مجتهد فی الترجیح دی.

دريم: عالم متبحر دی درپيژنو ان شآء الله تعالی

قاسم بن قطلو بغا

دولادت سنه: 802ه ق

دوفات سنه : 879ه ق

د 77 کالو په عمردا د دنيا لمرولاړي

يوه شرحه لري تصحيح اوترجيح او دالازمي ده چي دسړي سره بايد موجوده وي مهم کتاب دي يو لفظ هم بي له ترجيح نه وايي دعلامه ابن الهمام دفتح القدير دملاصاحب شاګرد دي

رتبه يي مجتهد في المسائل دي

استاذ يي مجتهد في المذهب وو

د قطلو بغآء دلفظ معنی دا دوه لفظه دي ترکي

قطلو : مبارک

بغا: فحل

معنی داشوه چي دي زوي وو دفحل مبارک

سترعالم له دنیا تیر سوي دي وايي چي ځو ځایه زما استاذ تفرودات لري چي ستاسو باید ورته فکر وي دي وايي چي په دغه تفروداتو فتوی مه ورکوئ

د ده مبارک قبر په مصر، قاهره کې دي

ابراهيم ابن محمد ابن ابراهيم حنفي فخرالدين حلبي

دي کتاب لري غنية المتملي چي موږ په کبيري ورته وايي دايي په منية المصلي جوړ کړي دي

د ولادت سنه: 830 ه ق

ملتقی الابهر هم د ده مبارک تصنيف دي او د ده عادت دادي چي قول راجح مخته ذکرکوي

رتبه: مجتهد في الترجيح دي

اصل کې دي دحلب دي دسوريي دي په آخر دعمر کې ترکيي ته ولاړي او هلته په استانبول کې پايتخت دترکيي کي وفت شو

انا لله وانا اليه راجعون.

← عبدالرحمن بن محمد بن سليمان مشهوره په شيخ زاده، او داماد افندي وو

ده شرحه جوړه کړي ده په ملتقی الابهر مجمع الانهر

د ولادت سنه : 1078 ه ق

داماد معنی : زوم

افندي معنی : دشیخ الاسلام افندي

مطلب دشیخ الاسلام أفندي زوم وو

په دوه جلده کې یوه شرح لري په ملتقی الابهر باندي

رتبه: متبحر عالم دي

بزرګ وو

داماد ولي ورته وايي ؟

 **کیسه داسي وه**



- چي دی طالب وو په یوه حجره کې استیدي (اوسیدی) یوه شپه دي کتاب ګوري ډیر سخت یخ وو باران شروع شو څه وخت وروسته یوه ښائسته پیغله انجلۍ راغله دروازه یي خلاصه کړه او وي ویل چي باران مي کور راوران کړي معاونت مي وکړه شیخ زاده صاحب وویل چي دایوه خونه ده او بل څوک شته هم نه نواوس څنګه وکړم او دا ښځه ده خو بیل آخره یي پرده جوړه کړه دغه ښځه یي تر پردي هاخوا ته دحجری حصه اوبرخه ورکړه اوس بي له الله تعالی او دوي دوو بل څوک نه شته ښځه ځوانه هم ده پیغله هم نو شیطان په داسي حالت کې خامخا یوڅه وسوسي سرې ته وراچه وي نو کله چي په شیخ زاده صاحب ته څه شک اوتحرک دنفس پیدا شو نو خپله ګوته به یي په څیراغ کیښودله

- په خواني څیراغونه (څوک مشک، څوک شیطان څیراغ ورته وايي) - په هر وار وسوسه به یي ګوته په دغه څیراغ ایښودله اخر یي ټولې ګوتي وسوه څه ولې ښځه دامنظر ګوري چي شیخ زاده صاحب څه کوي بیل آخره سهار ښځه ولاړه په دغه ځاي

کې زموږ ـ شيخ صاحب شيخ المشائخ شيخ الاصول والفروع دامت حياته النافعه ـ داسي ويل چي د دغه ښځي کوروالـه نه وو په خبر چي دا ښځه راغلي وه دطالب ځاي ته دغه ښځي يو ځاي دغه طالب ليدلي وو دهغه زماني زيات خلک متقيان وو دامتحان لپاره دغه ښځي دغه کار وکړي د پيغمبر صل الله عليه وسلم د حديث شريف مضمون دي فرمايي: چي تاسو ښځي پيدا کوي نو ذات الدين واله پيدا کړي.

فلهذا ښځي هم دا کوښښ کوي چي داسي خاوندان پيدا کړي چي ذات الدين واله وي

نو دا طالب يي يو ځاي ليدلي دي خوښ شوي يي دي اوس يي دين معلومه وي

اوياخو اتفاقي دغه سي پيښ شول

سهار چي انجلۍ کورته ورغله نو خپل کور کې يي وويل چي نن زه يوه نادره کيسه درته کوم زه يوځاي ته ورغلم ماويل چي داکور دي ـ نو که دغه ته وګورو دغه ښځه بلا قصده دغه ځاي ته ورغلي ده ـ

بهرحال ما داويل چي داکور دي هغه دطالبانو حجره وه يو ځوان طالب په کې وو هغه پرده وځړه ول زه يي جلا کړم او ګرده لاس يي وسوه ځوي پلاري يي سهار راغلي په دي غرض چي داخبره رښتيا ده که نه ثوک وايي چي دغه طالبان د ده(أفندي) شاګردان او ثوک وايي چي کلي يي سره جلا جلا وو لري وو هغه طالب يي پيداکړي طالب ته يي وويل طالبه داستا لاس ولي سوی هغه مکمله کيسه ورته وکړل چي دا لاسونه مي ځکه وسوه ځول چي شيطان به زور راباندي وکړي ما به ګوته وسوه ځول او شيطاني حرکت به ختم شو نو شيخ أفندي صاحب دغه لور د ته په نکاح ورکړل نو ځکه ورته داماد أفندي وايي

په دغه کيسه کې ډير لوي پند او عبرت موجود دو

دا دشيخ داماد أفندي تقواء وه سبحان الله

عبیدالله ابن مسعود ابن تاج الشریعت دده نیکه په تاج الشریعت مشهور وو هغه کتاب جوړ کړي وقایه دی راولاړ شو دغه دنیکه کتاب یي راخلاصه کړي نوم یي باندي کیښودي نقایه وروسته یي شرحه باندي جوړه کړه په نامه دشرح الوقایه دنیکه تاج الشریعت

رتبه: په إتفاق اهل الترجیح دي.

په عبید الله کې إختلاف دي راجیح دادي چي دي هم أهل الترجیح دي

دولادت سنه: 698ه ق

دوفات سنه 781ه ق

اوبل قول دفات 747ه ق

عمر 83 کاله

اود تنقیح اوتوضیح کتاب هم ده جوړ کړي متن اوشرحه دي

احمد ابن احمد طحطاوي

دي مبارک په أصل کې رومي دي وروسته دوي مصر ته رانقل شول سید دي.

دولادت سنه : 1140ه ق

دوفات سنه: 1231ه ق

ټول عمر 91 کاله وو

رتبه: عالم متبحر.

داهغه عالم دي چي شامي ملا صاحب دده مبارک زمانه نیولي ده

دشامي په يوه کتاب امام طحطاوي صاحب تقريظ کړي علامه شامي صاحب په دي ډير خوشحاله وو

دي مبارک دوي طحطاوياني جوړي کړي دي

اول: طحطاوي علي الدرالمختار په څلورټوکه کې.

دوهم: طحطاوي علي مراقي الفلاح.

دايي مشهور کتابونه دي

أکثر ځايو کې علامه شامي رحمه الله تعالى له ده څخه نقل هم ځيني کوي.

 **دبحرالرائق مصنف**

- زين الدين ابن إبراهيم إبن محمد إبن محمد إبن محمد إبن بکر

سنه وفات: 926 ه ق

دي مبارک ترډيرو علماء کرامو مقدم دي دي مبارک يو ډير دلوي شان عالم دي

البته کتاب کې يي څه ملاحظات شته

شامي ملاصاحب زيات ردونه په بحر الرائق کوي

علت دادي چي دي نقل دقنيي دزاهدي څخه کوي چي

په أصل کې که يوه خبره راغلل په فرعه کې ورسره مخالفت راغلي نوإعتبار أصل لره دي

مثلاً زید اوبکر یو أصل جوړ کړي البته چي کله فیصله راغلل د زید مسئله چي فرعه ده دأصل مخالف ده اوس به دزید مسئله پریښودل کیږي اوعمل به په هغه مسئله کوي چي داصل موافق وي

ظاهر الروایت دا لازمه نه ده چي دإمام صاحب یاددری سره إمامانو قول وي بلکي یوازي دإمام ابویوسف او یوازي دإمام محمد صاحب قول ظاهرالروایت راتلي شي ظاهرالروایت دانه دي چي یوه دانه به وي بلکي دإمام محمد صاحب په کتاب کي به چي هغه ظاهر الروایت په دوه قوله ذکر وي هریو ته ظاهر الروایت ویل کیږي

تمت بالخیر

(څوارلسم فصل)

اول : ابو الحسن القدوری البغدادي

سنه ولادة: 362 ه ق كال.

سنه وفات: 428 ه ق كال. انا لله وانا اليه راجعون

عمر: 66 كاله

رتبه: مجتهد في المسائل.

قدوری : كتهوته ويل كيږي مكمل وجه دتسميې يې ډيرږ درسره شريكوو ان شاء الله تعالى

دوهم : ابو الحسن عبيد الله بن مسعود بن دلال بن درهم الكرخى البغدادي

سنه ولادة: 226 ه ق كال.

سنه وفات: 340 ه ق كال . انا لله وانا اليه راجعون

عمر: 74 كاله

رتبه: مجتهد في المذهب.

كرخي: منسوب بسوى كرخ په بغداد كې يو ځاي دي

دريم : ابو جعفر أحمد بن محمد بن سلامه بن سلمة طحاوى المصرى

سنه ولادة: 238ه ق كال.

سنه وفات: 321 ه ق کال. انا لله وانا اليه راجعون

عمر: 83 کاله

رتبه: مجتهد في المذهب.

قبريي په قاهره مصرکې دي

په اول کې شافعي مذهبه وو لکن وروسته حنفي شو

طحاوي منسوب بسوى طحاوه په مصر کې ديو ځاي نوم دي

تمت بالخير

«دو همه مرحله»

{ الاحکام تتغیر بتغیر الزمان }

بسم اللہ الرحمن الرحیم

(الاحکام تتغیر بالتغیر الزمان) 📖

احکام مغیر کیږي په تغیر سره دزماني مخکی موږ په سل کی یوه مسئله زده کړي وه مګر ددغی مرحلي څخه به ان شاء الله ۹۹٪ مسائلي زده کوو ځکه ټول عبادات روژي، لمنځونه چی واخلي دفقه دمعاملات په نسبت یامقابله کی په سل کی ۱۰۰٪ کی یوه لاهم نه ده ۱۴۰۰ کاله مخکی چی دلمانځه یاروژي مسئله هر قسم وه اوس هم هغه سی دي یعني تغیرات نه دي پکښي راغلي لکن په معاملاتو کی دمځکي اواسمان فرق راغلي ځکه دپه خواپه زمانه کی موټر ، طیاره، ټلیفون،

- اکاونټ (Akavint).
- چیک شخصي (Cheque s'Cashier or Draft Bank).
- چیک مصدق (Cheque Certified).
- چیک مصرفي (Cheque Personal).
- کرډټ (Karidet)
- ډیبټ (Difet)
- چارس کاټ (Charskat)
- میټران (Metran)
- عدادات (adadat)
- سلاجات (Salajat)
- کیونیټ کمپنی (Kamfanie Kiynet)

- انشورانس بیمه(Beimah Anshoranse)
- کمیټې (Kamete)
- کمپنی (Kamfanie)
- پراوډنټ پنډ (Pand Faravedet)

داشيان چيرې وه داټول نوي پيداسوي دي نوي مجديدين الله جل جلاله پيداکړل دزړو قواعدو څخه ئی نوي قواعدي راويستلي ترقيامت به احتياج نسی پيدا دهغو قواعدو څخه به نوي قاعدي علماء راباسی دابه وربادي تفريع کوي لکن خوزده کړه غواړي .

په دغه طريقه چي ونه کړل سي لکه اوس چي حضرت شيخ صاحب شروع کړي ډير به مشکل وي چي دغه مسائلو ته دحل په آسانه طريقه ومندل شي

الاحكام تتغير بتغير الزمان

احکام مغير کيږي په دايو خوشيان باندي .؟

جواب : په دريو شيانو

- اول: په ضرورت باندي مغير کيږي.
- دوهم: په علت سره مغير کيږي .
- دريم : په عرف سره مغير کيږي .

«نو زموږ اوله مسئله داده چې احکام مغیر کیږي په تغیر دعرف سره»

موږ بایددا یو څو شیان وپیژنو

اجمالاً:

☜ اول : تعریف دعرف.

☜ دوهم : اعتبار دعرف .

☜ دریم : دعرف یورقم اقسام دعرف بل رقم اقسام

☜ څلورم : دعرف او اجماع ترمابین فرق .

تفصیلاً :

{اول تعرف: دعرف دادي: }

{مااستقر فی النفس من جهة العقول وتلقته الطباع السلیمة بالقبول } .

ترجمه: عرف هغه ته وائی چی یو شی په نفس کی قرار ونیسي خو دعقل دطرف څخه به وي ده وهم دطرف څخه به نوي اوسالم طبیعتونو به په قبول اخستي وي دیته عرف وائي .

{ دوهم : دعرف اعتبار ؛ }

عرف په څلور شیانو معتبر دي .

☜ اول: عرف معتبر دي په کتاب الله .

☜ دوهم: عرف معتبر دي په سنة درسول الله صل الله عليه وسلم.

☜ دريم: عرف معتبردي په اجماع .

☜ څلورم: عرف معتبر دي په قول دفقهاؤ

{تشريح:}

✓ **اول عرف چې معتبروي په كتاب الله** ؛ لكه الله جل جلاله فرمائې

{وَعَلَى الْمَوْلُودِ رِزْقُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ} . سورة البقرة «٢٣٣»

الله جل جلا له فرمائې : چې دښځي نفقه اوجامه پر خاوند باندي ده په معروف سره اوښځوته پر خاوندانو هغه سته لكه خاوندانو ته چې وه پردوي باندي په معروف سره دادي عرف په كتاب الله معتبر سو .

✓ **دوهم عرف معتبردي په حديث باندي** ؛ لكه هنده راغلل دابی سفيان ښځه

جانان ته ئی وويل جانانه. ! داابوسفيان لږ بخيل دي زمادبچيانو نفقه نه راكوي نوزه په غلا دده دانفقه اخستلاي سم كه ئی نه سم اخستلاي نبي عليه السلام ورته وويل خذي من ماله مايكفيك ويكف بنيك بالمعروف

وقال النبي صلى الله عليه وسلم لهند: «خذي ما يكفيك وولدك بالمعروف»

2211 – حدثنا أبو نعيم، حدثنا سفيان، عن هشام، عن عروة، عن عائشة رضي الله عنها: قالت هند أم معاوية لرسول الله صلى الله عليه وسلم: إن أبا سفيان رجل شحيح، فهل علي جناح أن آخذ من ماله سرا؟ قال: «خذي أنت وبنوك ما يكفيك بالمعروف»

دغه دواړه روايات په بخاري شريف كې موجود دي

حاصل داسو چي دونه اندازه چی ستااوستادعیال بسیږي اخستلاي ئی سي په معروف سره دايي يو حديث شريف.

بل حـديث مبارک چی عرف پکښی معتبر سوي وي لکه نبی علیه السلام فرمائی «« من احيا ارضاميتة فهي له »» رواه البخاري باب من احيا ارضا.

که چا مړه ځمکه اباده کړل هغه ده ده لیکن ابادي دالله رسول نه کړل بیان ځکه پرعرف ئی پریښول چي په عرف کی ابادی کوم ته وائی نو هغه به معتبر وي

بل حـديث مبارک «ماراه المسلمون حسن فهو عند الله حسن»………

نوچی مسلمانانو حسن وبولي دالله جل جلاله په نزد هم حسن دي دابس عرف دي .

✓ **دريم : دعرف اعتبار په اجماع؛** عرف په اجماع هم ثابت دي استصناع بیع

دمعدوم ده اودمعدوم بیع حرامه ده لیکن اوس استصناع ده لکه دموټرانو ډیزین ورکي چی دوه ۲،۰۰۰ زره موټران راته جوړ کړه لکن بیع اوس ورسره تامه ده اوموټران خووروسته کمپنۍ جوړه وي لیکن داپه اجماع ثابته ده.

یوازي دنساجۍ فابریکه نه ده اونه بله فابریکه بلکي ددنیا فابریکې په دي کې اخته دي

اويالکه دخول وحماته دانه ده معلومه چی دي به څوني وخت تیره وي څوني صابون کاروي دا نه ده معلومه چی څوني ابوه استعماله وي اوروفی ئی معلومي دي چی سل ۱۰۰ روفی دي مثلاً

دفقه کتابونه واي دانه دی جائزخواجماع راغلی چي جائز دي ځکه عرف پر راغلی دی.

✓ څلورم : عرف دځولوفقهاؤپه قول معتبردي:

دلته دري مادي وايو ان شاء الله تعالي ضروربي ياده وو ياد يي ضرور دي؛

اول: (۴۳ ماده) دمجلة الأحكام العدلية .

دوهم : (۴۴ ماده) دمجلة الأحكام العدليه.

دريم: (۴۵ ماده) دمجلة الأحكام العدليه.

مواد الثلاثة

(۴۳ ماده) :- {المعروف عرفا كالمشروط شرطا} .

(۴۴ماده):-{المعروف بين التجار كالمشروط بينهم}.

(۴۵ ماده):- {التعين بالعرف كالتعين بالنص } .

تعين په عرف داسى راځي لکه تعين په نص باندي نوپه نزد د فقهاءکرامو معتبر سو.

{ الحقيقة تترک بالعرف }

حقيقت پريښول کيږي په عرف سره

 **دریم خبره دعرف داجماع سره فرق :**

دعرف اوجماع ترمابین شپږ – ۶ – فرقه دي؛

- **اول : په اجماع کی علم شرط دي اوپه عرف کی علم نه دي شرط.**

یعني عالمان به اجماع کوي اوعرف خاص عالمان نه غواړي .

- **دوهم : فرق ئی دادي چی په اجماع کی ټول غواړي کل غواړي اوپه عرف کی ټول ندي ضروري**

یعني بعضي هم عرف جوړه ولاي سی لکه یازي صرافان، یوازي قصابان، وغیرها....

- **دریم : فرق ئی دادي عرف چی راغلي بیاء مغیر کیږي په بل عرف باندي اواجماع چی راغلل بیا په هیڅ شئ نه مغیره کیږي .**

مثلاً : اجماع دصحابه وو راغلي تراوسه هغه اجماع ده البته دهغه زماني څخه بیا تراوس سل عرفه راغلي هریو عرف جلا جلا دي

- **څلورم : فرق ئی دادي په عرف کی استمرارشرط دي په اجماع کی استمرارنه غواړي**

اجماع چی یوه پیره راغلل بس هغه اجماع ده اوعرف به تردغه وخت عرف وی چی ته داحکم کوي که تردغه وخته پوري عرف نه وو حکم بدلیږي.

- **پنځم : فرق ئی دادي عرف په مقابل دنص قبول نه دي اواجماع په مقابل دنص نه راځي.**

- **شپږم : فرق ئی دادي چی اجماع راغلل داجتهاددروازه وتړل سول اوعرف چي راسی داجتهاد دروازه خلاصه ده.**

يعنى عرف چى راسى ته کولاى سى چى اجتهاد وکړي لکن چى اجماع راغلل بيا ده اجتهاد دروازه بنده ده اوعرف چى ئى نه وي زده هغه جاهل دي .



شرائط دتاثير دعرف

دتأثير شرائط يي درى دي

- ✓ **اول : عرف هلته تاثير لري چى دجهت څخه دعقول وي دجهة څخه به ده وهم نه وي .**
- ✓ **دوهم: استمرارترمسئلى مخته ياد مسئلې مقارن به وي که ترمسئلى وروسته عرف راغلى هغه اعتبارنه لري.**
- ✓ **دريم : عرف به دنص څخه مخالف نه وي اودقواعدو داصول دمذهب څخه به مخالف نه وي**

ته نه ګوري چي اوس عرف پردي راغلي دي چي تولي ښځى موخان لوڅوي اوپر شراب دچيښولو هم عرف راغلى دي هم داغه رکم وريښميني جامي ګرده اغوندي او داټول ناروادي.

دسروزروسپينوزرو ساعتونه ترلاس کوي داپه اتفاق ونرانو ته ناروا دي مګراوس عرف ددوي باندي راغلي دي خوداعرف په مقابل دنص دي داباالکل اعتبارنه لري .



عرف اقسام عرف خپل په کورکى پردوه قسمه دي

- ✓ **اول: عرف فاسد.**
- ✓ **دوهم: عرف صحيح .**

عرف فاسد : هغه ته وائي چي په مقابل کي دنص وي.

عرف صحيح : هغه ته وائي چي په مقابل کي دنص نه وي.

عرف فاسد هيڅ تاثير نه لري .

(عرف صحيح ؛ خپل په کورکي پردوه قسمه دي؛)

- ✓ **اول : عام.**
- ✓ **دوهم: خاص .**

عام عرف : هغه ته وائی چی دټولوبلادو داسلام يعني د۵۷ بلادو عرف وي که ديوه بلد عرف نه وو لاعرف عام نه دي.

خاص عرف : هغه ته وائی چی دبسته مملکت عرف وي هم عرف خاص دي چی ددومملکتو وي هم عرف خاص دي چی د۲۰ مملکتو وي هم عرف خاص دي چی ځيني وتلي وي له دغه ۵۷ اسلامي مملکتو څخه بس عرف خاص دي .

 **تاثير يا اثر مرتب دعرف څه شی دي**

- ✓ **اول : په عرف خاص باندي ظاهرالروايت پاتيږي .**

بله وظيفه نه لري پرظاهر الروايت باندي دي قاضي دي پر ظاهر الروايت باندي دي غښتلي دي .

مثال : يوڅوک وخپلی ښځي ته ووايي صرحتکِ مااليله کړي يي ته.

دايقيني كنايي طلاق دي كه ئى نيت دطلاق وو طلاق كيږي كه ئى نيت دطلاق نه وونه طلاكيږي اوكه په يوځاى كې په دي باندې عرف راغلى چى داپه طلاق مستعمليږي بس طلاق دي عرف هغه دي قاضى سو پرظاهر الروايت باندي .

دوهم : اوعرف عام بيادري وظيفي لري ؛

اول : وظيفه ئى هغه ده چى عرف خاص درلودل يعني په عرف عام باندي ظاهر الروايت پاتيږي دي هم قاضى دي پر ظاهر الروايت باندي .

- ✓ **دوهم: وظيفه ئى قياس مطلقا په عرف عام پاتيږي.**
- ✓ **دريمه : وظيفه ئى داده چي دنص دكتاب الله – جل جلاله – او دسنت درسول الله – صلى الله تعالى عليه وسلم – تخصيص په كيږي تراخره فرده پوري يواخرى فردنه په وځي ځكه كه چيري اخرى فردهم باندې ووځي نواية يا حديث به منسوخ سى په عرف باندي اودانه نسي كيدلاي .**

يوڅوامثلـه به دپاره داسانى ذكر كړو ان شاء الله تعالى :

– **اول مثال** : په خواچي وه اكراه ملجى دهغه لپاره چى هغه به سلطان وو قدرت بي درلودي فوج بي درلودي وسلي بي درلودي ددغه ده اكراه ملجى وه كه چيري دغه سړى په يو چا بيع كړي واى نه صحيح كيدل په هغه زمانه كى اكراه دميږه پرمايني نه وه ملجى اوداغسى ديوسړي ده هم نه وه ملجى كه چيري مايني سودا كړي واي بس بالكل يي بيع اواشراء صحيح وه كه څه هم ميږه زوركيره ګړي واي لكن اوس دزماني په تغيرسره سلطان نه غواړي دډيرو خلكو اكراه راسي دميږه اكراه هم پر ښځي باندي ملجى ده كه مايني وويل چى ميږه په ماعفوه وكړل په زوره سره زه ځيني بير يدلم بس نه ده صحيح كه هغي وويل چي په مائى مځكه خرڅه كړل په مائى وړونو ته وبخښل بس ترقيامت نه ده صحيح په اعتبار دعرف بدلون اوتغيرراغلي.

-دوهم مثال: امام صاحب ویل چی تزکیه دشهود نه غواړي ماسوی په حدود اوقصاصو کي لیکن یاران وائی چی یا تزکیه دشهود غواړي دامام صاحب په زمانه کي پر خلگو په ظاهره قیاپه(شکل) باندي اعتبار کیدي ټول خلگ عادلان وه لیکن اوس دیارانو پر قول فتوي ده ځکه په خلگو کي عدل نسته بدلون راغلي په تغیر دعرف.

-دریم مثال: وصي دیتیم مال په مضاربت نسی اخستلاي مگر امام صاحب ویل چی اخستلای ئی سی ځکه اوس خلگ خائنان دي یائی کتهه نه ورکوي یادعوه گرسره دملکیت دعوه کوي فتوي پرقول دیارانو ده .

-څلورم مثال: زموږ ظاهر الروایت ته گورو چی صغیره انجلي که ئی غیر داب اوجد ورکړل وغیر کف ته ظاهر الروایت وائي چی نکاح ئی صحیح ده دیته خیار بلوغ سته لکه کف ته چی ورکړی خیاربلوغ سته لیکن نادر الروایت وائی چی مطلقا ئی نکاح نده صحیح ځکه هر قاضی عادل نه دي دهر چامرافعه اودعوه نه ده زده اوس فتوي پرنادر الروایت باندي ده نادرالروایت دعرف سره موافق دي

-پینځم مثال: اوکه چیري بالغی ښځي غیر کف په نکاح کړي زموږ ظاهر الروایت وائی چی نکاح ئی صحیح ده اولیاؤ ته ئی اعتراض سته نادر الروایت وائی چی یا گرسره ئی نکاح نه ده صحیح ځکه هر قاضی عادل نه دي دهر چامرافعه اودعوه نه ده زده اوس فتوي پرنادر الروایت باندي ده نادرالروایت دعرف سره موافق دي.

-: دلته یوجمله معترضه وایو په داخلگو کی عجیبه مشهوره ده چی دغیر کف سره نکاح نه ده صحیح پرممبر به ملایانو دامسئله وویل چی دسیدي ښځي نکاح دغیر سید سره نه ده صحیح.

 (غیرکف په دروشیانوکې دي زده یي کړئ.)

✓ اول: په مال کی دي.

✓ دوهم: په نسب کی دي.

✓ دریم: په دین کي دي.

په پیسو کی دمالدار مثلا دعمران خان لور ستاکف نه ده.

په نسب کی سید ه ښځه وامتي ته نه ده روالیکن عالم ته رواده سیده ښځه ځکه عالم ترسید بالادي دري سوه پنځوسم (ج ۲ / ۳۵۰) دارسته لاس دادمابین توري ردالمحتار.

نوزموږ دښځي نکاح دشیع سره نه ده صحیح دکافر سره نکاح نه ده صحیح

لف نشر مرتب شو....!

داخبره هم درسره په یاد ولره لکن دارکم نه ده هرهغه کف چی ددین په خاطر نه وي چی اولیاء رازي وي بالکل صحیح ده نکاح یي.

یوازي ددین ده نه ده صحیح نوفرق سره لري جلاوالي ئی باید وکړئ.

– **یومثال لا وایو**: په خواکی داسی عادت ووچی ښځه به ئی په نکاح کول نو مهر معجل به ئی ورکوي نورخاوند ورته ایله وه نور مهر به ئی قرارقرار ورکوي اوس یوي ښځي دعوه وکړل ظاهر چی دهرچا شاهد وي دهغه قول قبلیږي یوي ښځي دعوه وکړل چی ما روپۍ نه دي قبض کړي خاوند ئی وویل چي دې (ښځې) قبض کړي دي دقبض ځخه دامنکره سول منکر ته خوقسم کیږي سره ده قسمه ددي قول معتبر دي خوددي

قول نه دي معتبر دسړي قول معتبردي ځکه ښځه سړي ته ځان نه ورکوي چې مهر معجل قبض نه کړي.

لکن اوس يوبلاد دي چې نوم ئې فلان دي په دغه هيواد کې بيا يو ولايت دي چې مسمی په فلان دي سره دي په دي کې بيا ګرده مهر مؤجل دي پښه خلاص ئې کړي وي دنامي زوي يوه روپۍ نه وي ورکړي اوس چې ښځه دعوه وکړي چې مامهر مؤجل نه دي قبض کړي نودلته دښځي قول معتبر دي ځکه دامنکره ده ديمين سره اوبل عرف هم ددي سره دي دادي په عرف سره يوه پيره دسړي قول معتبر سو بيادښځي قول معتبر سو.

 {مهمه. مهمه. مهمه. }

يوه ډيره لويه اودنياواله مسئله چي اکثره خلکو ته معلومه هم نه ده نو واورئ په ياد يي کړئ.

قياس اودلالت النص د دوی ترمابين فرق مخفي دي پر علماؤ باندي يوه بله خبره واوري.

- ✓ عبارة النص.
- ✓ اشارةالنص.
- ✓ دلالت النص.
- ✓ اقتضاء النص.

داټول دي په نص والي کي ئې فرق نسته

لکن دقیاس اودلالت النص فرق دادي

که چیري مقیس علیه الله جل جلاله یارسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر کړي وو علت دقیاس هم الله جل جلاله اورسول الله صلی الله علیه وسلم ذکرړي وو خالي مجتهد مقیس راویستي دیته دلالت النص وائی.

اوکه چیري خالي مقیس علیه الله جل جلاله یارسول صلی الله علیه وسلم ذکر کړي وو لیکن مجتهد قیاس اوعلت دقیاس دواړه راویستل دیته قیاس وائی .

- مثال: {وَيَسْئَلُونَکَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَأَذًى}

دوي ستاخخه سوال کوي جانانه دښځي سره په حالت کی دحیض دوطي کولو؟

ته ورته ووایه اي زما حبیبه چی داذي دي

دلته مقیس علیه هم الله جل جلاله ذکرکړي چی حائضه ده اوعلت دقیاس هم الله جل جلاله ذکر کړی چی اذي دی .

(نتیجه:)

اوس لواطت راباسو چی لواطت دښځي سره څنګه دي لیکن موږ اوس وایو چی لواطت حرام دي داپه دلالت النص سره په قیاس سره نه دي حرام سوي ځکه مقیس علیه اوعلت دواړه الله پاک جل جلاله ویلي دي .

اونبي علیه الصلاة والسلام فرمائی چی په شپږو شیانو کی ربا حرامه ده رسول دخداي یوزاي دانه دي ویلي چی قدراوجنس ئی علت دي مقیس هم مجتهد راوکښی علت هم مجتهد راوکښی ماش ئی هم پرقیاس کړل نخود ئی هم پرقیاس کړل کونجتي یي هم پر قیاس کړي دامجتهد راوه کښل نودیته بیا قیاس وائی .

نبي عليه السلام وائی چي يوازي قفيز الطحان ناروادي نور رسول الله صل الله عليه وسلم څه نه دي ويلي قفيز الطحان دامعني چی ژرندې ته غنم وروړي اوژرندې والاته ووايي چی دغنمو څخه مزد عوض واخله چي اوړه دي کړل مي اخله ځکه رسول الله وائی نه دي رواداعمل دي خپل داجرت څخه دلته مقيس عليه چی قفيز الطحان دي اوعلت دقياس چی اجرت خپل د عمل څخه دي دواړه دالله رسول وويل اوس نوپردي قياس دي تريشل پردي قياس دي نيشگری پردي قياس دي لو (ريبل) پردي قياس ده بادي داټوله شيان حرام دي په دي خاطر چی اجرت خپل دعمل څخه دي دلته خلګ په کبنی خطاء وتلي دي دا تريشل چی ناروادي په قياس حرام دي که په دلالت النص په دلالت نص حرام سو ځکه مقيس اوعلت دواړه رسول دالله ويلي دي صل الله عليه وسلم دا حرام سو نواوس به څه کوو په دي خوډير خلګ مبتلادي يو علماء دبلخ وواوبل علماء دماوراء النهر وه دبلخ علماء راولاړ سول په دي مسئله کي سخط خطاء وتل دوي وويل که چيري يوڅوک کمبلي په کمبلوجوړه وي داجائزدي ځکه پردي عرف راغلي دي لکن دشامی ملا صاحب پردي سخط ردونه په وروقوورقوباندي کړي دي ځکه داعرف خاص دی په عرف خاص کله تخصيص راځي دنص داخويواځي دبلخ دعلماؤ عرف دي نوخاص سو

{صحيح خبره داده:}

داده په ياد يي کړه اي مخاطبه..!

چي تريشل،بادي،لو (ريبل) نيښگري داټول په دلالت النص په حديث دقفيز الطحان لاندې شول حرام شول فلهذا چي تريشل ، بادي، لو (ربيل) او نيښگري تر حديث شريف دقفيز الطحان لاندې شول نو په عرف خاص د دوي نه تخصيص روادي او نه يي نسخه البته که عرف عام راسي بيايي تخصيص روادي ترآخره پورې

نو اوس چي په دنيا کې موږ وکتل په دي عرف عام نه شته نو تريشل، بادي، لو (ريبل) او نيبنګري خپل په حرمت پاتي شول

{نوحيله دجواز يي څه شي ده ؟}

دوي حيلې لري

- ✓ **اوله حيله:** په خوا کی چي داعلماؤ دا تريشل روا کوي داسی حيله به يي ورته جوړه

کړل چی خوروار په پينځه منه کوي مثلاً من غنم په څودي په سل ۱۰۰ افغاني دي نوخور واردي په پنځه سوه افغاني تريشل کی بيرته دي هغه پنځه سوه افغانيو په مقابله کی پنځه منه غنم درکړي.

- ✓ **دوهمه حيله:** مجدد قرن هذا شيخ الاسلام بيخي زياته خبره اسانه کړل يقيني

ددي مسئلي څخه عجم اوعرب عاجزه دي ده مبارک په (۵۷۶ ص ۶ ج)دارسته لاس دااومه او اتمه ليکه انعام الباري

ده مبارک دافتوي ورکړل چی نه صرف تعين دي نه کوي چی په دغو غنمو کی زه خپل حق غواړم باره کي ددغو غنمو څخه ئي ورکړي چی ده تريشل کړي دی هم مشکل نه سته هکذا بادي، نيبنګر لو (ريبل) وغيره وعليه الفتوي

اوس اصلي مقصدته راوره سيدلو عرف عام څه کول عرف عام دري کاره کول

- ✓ **اول:** ظاهر الروايت په پاتي کيدي .

- ✓ **دوهم :**قياس په پاتي کيدي .

✓ **دریم:** تخصیص دنص باندي راتلي .

اوپه عرف خاص صرف او صرف ظاهر الروایت پاته کیدي

هرهغه عقد چې یوشرط په عقد کی کیښودل سي دیوه دعاقدینو فایده وي اودمقتضی څخه دعقدخلاف وي نو عقد فاسددي داتاسو زده کړي دي لکن خلګو بریره رضي الله تعالی عنها چي ئي ازداه ول بخاري وائی دائی پرشرط کړل چی وِلاءبه دي زماوي رسول الله صل الله علیه وسلم ورته وویل چی ورسه شرط ورته کښیږده دلته شرط راغلي خوبیع نه سوه فاسده خلاصه دخبري داراووتل

(ددنیانقاد د زمانی ابن حجر دزمانی شمس الدین ذهبي فقه ئی په موړ زده کړل هغه شاه صاحب دلته شرائط وضعه شوي)

✓ **یوه شرط** : د مقتضی دعقد دي مثلا داکتاب درڅخه رانیسم ماته بی راکوي

خودعقد تقاضا ده بالکل پروانه کوي.

✓ **دوهم شرط:** دعقد تقاضی نه ده ملائم یی دي زه داموټر پرتاباندي خرڅه وم په

قرض لکن په دي شرط ماته به ضامن راکوي دپیسو په دغه شرط ماته به ګرو راکوي هم جائزدي په اتفاق سره

✓ **دریم شرط** : هغه دي چي په عقد کي وکي لکن مقدور دعبد نه وي حسأ.

مثلا : زه داموټر ستاڅخه رانیسم په دي شرط چی ته به اسمان ته خیږي داپه اتفاق شرط فاسد دي بیع صحیح ده .

✓ **څلورم شرط** : که ئی چیري داسی شرط کیښوي چی مقدرو حسأ وو خومقدرو

شرعانه وو لکه دادبریري چی وویل چی په دغه شرط ده (یعنی ولا ء یي پر شرط کړه)

که دا سی شرط ئی کینبودي چی په شریعت کی نه ووجائز نوشرط باطل دي بیع صحیح ده لکه چي یو یوڅوک دمینې(ښځې) سره نکاح وکړي په دي شرط چی ته به پردي باندی بله نه کوي په دي شرط سره ئی نکاح وکړل ته به مادوطن څخه نه باسی داټول شرائط دشریعت خلاف دي شرط باطل دي اوونکاح صحیح ده هغه ازادي صحیح سول شرط باطل دي.

✓ **پینځم شرط** : بیاهغه شرط دي چی دمقتضی څخه دعقد خلاف وي مقتضی

هم نه وي ملائم هم نه وي مقدور خووي دیوه دمتعاقدینو فائده هم په کښي وي

داهم پردوه قسمه دي که عرفی وونه دي فاسد که په عرف کي نه وو بیافاسد دي

پری سرویس ، یاورنټي (Preisarvis)

استیپلیزر (Asteflizar) ستاڅخه رانیسم لکن په سږ کال کی چی هرڅوواره خراب سو ته بی راجوړه وي دادي بیع راغلل شرط هم راغلي په عقد کي لیکن دیوه دمتعاقدینو فائده هم ده هغه ئی جوړه وي حتی تبدل واله موهم لیدلي که ترکاله پوري هرڅوواره خراب سو ته به نوي نوي راکوي داخویوه دمتعاقدینو فائده هم ده لکن خوداشرط عرفي دي نو پري سرویس روادي ځکه هرهغه شرط چی دمقتضی څخه دعقد خلاف وي خوعرفی وي صحیح دي

(که دمقتضی څخه دعقد خلاف وی دیوه دمتعاقدینو دا پر دوه قسمه دي)

✓ **اول** : که عرفی وو هم عقد صحیح دي هم شرط.

✓ **دوهم**: اوکه عرفي نه وو عقد فاسد دي .

په اخر کې يوه جمله لاواورئ اوس عرف حادث معتبردي که نه.؟

هو داوس عرف معتبردي زموږ اودصحابو دعرف ترمابين فرق نه سته يعني په دواړو عرفو باندي قياس پاته کيږي ۳۱۳ صفحه ج۶ انعام الباري

شرح رسم المفتی 94

مصباح 410.

اشباه والنظائر 246.

ستادحسن ګلان ډير دي ځولۍ موتنګه ده

زه به کوم کوم ټوله وم ځولۍ موتنګه ده

تمت بالخير

{الأحكام تتغير بتغير العلت}

بسم الله الرحمن الرحيم

 {دوهم الأحكام تتغير بتغير العلت}

كه علت مغير وو بيا نو أحكام مغير كيږي

✓ -: **اول راځو دعلت معرفت ته**

علت په لغة كې: مريضي،عذر، انګيزه، سبب، بهانه جمع : علل.

-:**علت په اصطلاح كې**: له هغه موجود شخه عبارت دي چي مؤثر په يو شي كې وي .

-: **حكم**: بيا عبارت دي له هغه شخه چي دعلت په وجود موجود او دعلت دپه عدم معدوم سي.

{**بل طرز**}



-: **دعلت فرق : دسبب ،حكمت ،علامې سره.**

-: **اول علامه : دليل دي پر وجود دشي مؤثر نه دي په وجود دشي.**



←← مثلت مثلاً: وريځ ..!

✓ **اول** : وريځ چي راشي دليل ده په وجود شي (چي علامه دباران ده) خو مأثره نه ده په وجود دشي (چي ورول يا وريدل دباران دي) ځكه ډيروخت وريځي راسي خو باران نه وريږي.

علامه پر وجود شوه خو مأثر نه شو.

اما علت مأثر دي په وجود دشي کې

✓ ←**دوهم** : سبب سره دوه فرقه لري:

✓ ♦ اول: دحکم اوعلت ترمابین واسطه نه شته دسبب او دحکم ترمابین واسطه شته .

✓ ♦دوهم: علت مؤثر په وجود کې دي سبب مفضي و وجود ته دي.

مثلت مثلاً: شرآء دمینځي زید شرآء دمینځي وکړه په دغه شرآء سره دزید په شرآء ملک درقبي هم راغلي او ملک دمتعي هم راغلي .

اول ملک درقبي راځي، دوهم ملک دمتعي راځي نو شرآء دملک درقبي لپاره علت ده او دملک دمتعي لپاره سبب دي په مابین کې واسطه هم راغلل

مسبب دسبب څخه مخالف کیږي خو معلول دعلت څخه نه مخالف کیږي.

مثلت مثلاً: زید رضعي خور رانیول رضعي خور باندي ازاده هم نه ده ځکه چي قرابت نسبي نه لري البته شرآء ثابته شوه حکم یي راغلي چي هغه(ملک) درقبي دي لکن ملک دمتعي نه شته که

نر رانیسي حکم راغلي چي هغه(ملک) درقبي دي لکن ملک دمتعي نه شته.

✓ ♦ **دریم دعلت او دحکمت فرق؟**

ددنیا علمي مجلس جوړ وو شیخ الاسلام صاحب دغه تقریر ورته وکړي اوس به یي یوڅه څه بیلګي ووایو:

دری شیان دی ؛ علت، حکم، حکمت.

حکمت: اثر مرتب فائده ده

علت: مؤثر دي.

♦ مثلت مثلاً: سفر علت دي ، دروژي خوړل حکم دي، دفعه دمشقت يي حکمت دي.

♥ قابل غور ...!

لکن حکم علت ته منسوبيږي حکمت ته نه منسوبيږي

که یو سړي سفر وکړي که په تیاره کې وو که په موټر که که هرڅونه سهولتونه ورته مهيأوي اوس چي مطلق سفر شروع سو دلمانځه قصر او دروژي خوارک ورته جائز دي ولو که مشقت هم نه وو بلکې خوند يي باندي اخيستي دغه ئي حکم دي .

.که سړی په کورکې ناست وي په هغه باندي مشقت راځي خو په کورکې به روژه نيسي خوري به يي نه داځکه چي حکم علت ته منسوبيږي نه حکمت ته .

.په بل تعبیر: کونه مشروباً حرام

اوس چي فقط مشروب شراب سول داعلت سو، حرمت يي حکم سو ،عدم ضائع وال دعقل يي حکمت سو.

نادره:

♦ که اوس يو څوک پيدا سي چي شراب وچيښي هم نه نه شه کيږي نو دغه سړی ته دشرابو چيښل روادي؟

نه ځکه حکم علت ته منسوبيږي نه حکمت ته که دغه سړی باندی نه شه کيږي او که نه نه شه کيږي چيښل ئي حرام دي.

په افغانستان کې تير جهاد چي له سرو لښکرو سره وسو دغه مقدس جهاد څه خلکو ته فائده ونه کړل.

دکفارو حمله پر يوه هيواد او ملک باندې چي په مقابل کې ئي جهاد دفاعي راځي او دغه قسم جهاد دهميش لپاره فرض عين دی فرض کفايي نه راځي

نو کافرانو چي پر وطن حمله وکړه نو جهاد دفاعي شو.

علت يي قرآن دي، حکم فرض عين دي، حکمت يي إعلاء الكلمة الله ده .

✓ ♦ **بعضي خلک خطآء وتلي دي حکم حکمت ته منسوبه وي**

دوي وايي إعلاء الكلمة الله نه په راځي هغه بله پله توپکيان ځيني جوړ شول

داخطآء ده بلکي حکم به علت ته منسوبه وي

نفس پر يو وطن چي کافران حمله وکړي جهاد باندي فرض عين ګرځي علت يي دالله تعالی امر دي جهاد فرض والي يي حکم دي، إعلاء الكلمة الله تعالی يي حکمت دي که پر مرتبه سوه او کنه حکم دي ته نه منسوبيږي

✓ ♦ **حيسی مثال شيخ الاسلام وايي:**

زيد ولاړي بازار ته پر چوک دترافيکو دعبور او مرور له دريو اشارو څخه اول سره اشاره ولګيدل داعلت دي، دزيد دريدل حکم دي،دفعه داستدام (ټکر) يي حکمت دي.

حکمت يي داسو چي زيد دسړي موټر يابل شي سره ټکر نه شي.

♥قابل غور.....!

نو زموږ هیواد وال دي یي بیا په غور واوري

دترافیکو درى اشاري اول سره دوهم شنه دریم ژیړه چي ددفعې داستدام لپاره لګیدلي دي

نو چي سره اشاره ولګیدل داعلت دي پرتا باندي دریدل واجب دي، دریدل یي حکم دي ، دفعه داستدام یي حکمت دي

لکن که داسي وخت راغلي چي زید پر چوک راتیریدي هیڅ شي نه وو یوازي زید وو اوس سره اشاره ولګیدل تیریدل ځیني ناجائز دي زید به نه تیریږي که تیرسو ګوناه ګار دی ځکه حکم علت ته منسوبیږي، نه حکمت ته.

✓ ♦ ترافیک لاس روکړي داعلت دي، دزید دریدل حکم دي، دفعه دټکر یي حکمت دي.

که ترافیک لاس ورنه کړي او هیڅ شي هم نه وي او زید تیر سي دغه تیریدل زید جائز نه دي ځکه حکم علت ته منسوبیږي حکمت نه منسوبیږي.

دغه ترافیکي قانون فرض دي چي سړى موټر چلوي

✓ ♦ الله تعالى په قرآنکریم کې فرمایی: {شهر رمضان الذي أنزل فيه القرآن هدى للناس وبينات من الهدى والفرقان فمن شهد منكم الشهر فليصمه ومن كان مريضا أو على سفر فعدة من أيام أخر يريد الله بكم اليسر ولا يريد بكم العسر ولتكملوا العدة ولتكبروا الله على ما هداكم ولعلكم تشكرون)(185)}البقرة

✓ ♦ ستا سفر علت دي، دروژي ماتول الله تعالى ذکرکړي حکم دي ، يريد الله بكم اليسر ولا يريد بكم العسر دايي حکمت دي .

پام کوئ چي په دغه ځاي کې احتياط وکړئ خطآء نه سي

ډير خلک په کې خطآء وتلي.

علت خپل په کور کې پر څلور قسمه دي

✓ **يو علت هغه دي چي منصوصي په کتاب الله کې وي دغه علت تر قيامته پوري نه مغير کيږي هيڅ وخت تغير نه قبله وي.**

په قرآن کې ډير ځايونه راځي يو ځاي همدغه چي مخته ذکر سو: الله تعالى په قرآنکريم کې فرمايي: { شهر رمضان الذي أنزل فيه القرآن هدى للناس وبينات من الهدى والفرقان فمن شهد منكم الشهر فليصمه ومن كان مريضا أو على سفر فعدة من أيام أخر يريد الله بكم اليسر ولا يريد بكم العسر ولتكملوا العدة ولتكبروا الله على ما هداكم ولعلكم تشكرون) (185) }البقرة

✓ ♦ **اوس دلته سفر علت دي دقصر او روژو دخوراک لپاره ترقيامته نه مغير کيږي.**

دغه قسم علت اقوى دعللو دي له دي څخه انکار نه کيږي

مخکي مو داوويل چي الأحكام تتغير بتغير علت دغه علت نه مغير کيږي .

✓ **دوهم علت: علت راغلي البته خو په قرآن کريم نه دي راغلي بلکي په حديث شريف کي راغلي .**

لکه: دنبي علیه الصلاة والسلام په زمان کې خو مخکې دي ځاي ته تاسو متوجه شي ډیر داسي ځایونه راځي چي په حدیث شریف کې اول حکمت معلومیږي خو تاسو ورته متوجه سي

په تول عمر دښځي لپاره لمونځ په جماعة نه دي روا شوي که ځوانه ده که سپین سري

الصلاة المرأة في بیتها افضل من صلاتها في المسجد والصلاتها في مخدعها افضل فی بیتها .

دالله تعالي درسول په زمانه کې هم لکن چي ښځي په هغه زمانه کې مسجد ته وتلي له دریو وجهو څخه

- ✓ ← **اول: خیرنې وې (سینګار اوتبروج یي نه کاوا)**
- ✓ ← **دوهم: ځانونه یي پټه ول.**
- ✓ ← **دریم: درسول الله صل الله تعالی علیه وسلم جماعة ورته رسیدي.**

نو ورسته داعلت ساقط سو فساق اوفجرا زیاتیدل نو بیا داخبره وشول چي سهار، ماښام، او ماخوستن دي ځی ځکه دغه وخت فاسقان تول مشغول وي یا په ډوډي او یا هم خوب نو په نورو وختونو کې دي نه ځي لکن وروسته متأخرینو علمآء کرامو دافتوی وکړل چي مطلقاً دي ښځه نه ځي که ځوانه وي اوکه سپین سري وي اوکه هر لمونځ وي حتي دجمعي په لمانځه کې مکروه تحریمي دي وعلیه الفتوی .

خو دلته دي ستاسو فکر وي چي دلمانځه لپاره وتل ورته ناروادي که دا دبل شي لپاره ووتل په لمانځه پیبنه سوه بیا دي لمونځ په جماعت وکړي چي ترتیب یي برابر وي دښځو دبرخي

✓ ♥ **مثلت مثلاً**: که مکې مکرمې لره دا ولاړه له وطاق څخه مسجد الحرام ته ووتل

ددي لپاره چي طواف په بيت الله شريف وکړي نوداچي له اطاق څخه راووتل هغه د جماعة اقامه وسول جماعت دي وکړي

✓ ♥ **يابل لنډ مثال**: زيد خپله زوجه کندهار ته روانه کړي ده په لاره کې جماعت

وديدي او ترتيب هم برابر وو نو جماعت دي وکړي زيد خو دلمانځه لپاره کندهار ته نه ده روانه کړي اوس په لاره کې چي دجماعت اقامه وسول اوترتيب هم برابر وو نو جماعت به کوي

خو علي حده دجماعت لپاره دبنځي وتل نه شته

دغه علت تر اول علت يو څه اندازه ضعيف دي

✓ **دريم علت**: په حديث اوآيات کې صريح نه وي راغلي مګر امامانو مبارکانو را

ايستلي وي البته په ډيره پوره پيمانه يعني پر ډيره اعلی طريقه يي حکم باندي کړي وي

♦ **هغه لکه** دغه ربا چي حرامه شوه په شپږو شيانو کې دغه شپږ شيان نبي کريم صل الله تعالی عليه وسلم وويل زموږ إمام صاحب يي قدر اوجنس علت راوکښلي دغه علت ظني دي عمل به باندي کوئ

البته داسي نه دي چي منصوصي دي سرې يي خلاف نه سي کولاي نه داسي نه دي هغه دي بعضي امامانو مبارکانو يي خلاف کړي .

✓ **څلورم علت**: دصاحب المذهب څخه هم تصريح نه ده راغلي البته سړي يي دعقل څخه معلومه وي

♥ **مثلث مثلاً:** زموږ خلکو دارائستلي دي طائر(مرغه) که دسجدي ايات تلاوت کړي دده په تلاوت سجده سهوه نه لازميږي.

او په آزانګه سجده تلاوت نه لازميږي داعلت په استنباط را ايستل شوي نو موږ وايو چي له دي څخه دا استنباط سو چي انسان يي ونه وايي دانسان اواز نه وي نو په هغه باندي سجده تلاوت نه لازميږي.

♦ اوس که په ټيپ کې ويل کيدل سجده تلاوت نه سته، که راډيو ته يي ضبط او پيته ورواچول هم سجده تلاوت نه سته ، که په تلويزيون وي سي ارvcr کې يي پيته يا ضبط ورڼاجوى هم نه شته.

که تلويزيون کې په ژوندۍ بڼه وو يا په راډيو کې په ژوندۍ بڼه تلاوت کيدي نو بيا سجده تلاوت سته.

♦ او په لاډسپيکر کې هم سجده تلاوت سته هغه د دغه سړي اوازدي فقط مکبر الصوت دي.

په دغه اخري دوو علتونو کې تغير راځي يو وخت يو قسم علت وي بل وخت بيا بل قسم علت وي خوزيات بدلون په دغه کې دي چي په استنباط علت راوتلي وي يو علت نن موږ راوکاږو صبآء مغير وي بل صبآء بيا مغير وي نو ځکه مسائل ورسره مغير کرځي

♦ دلته يو څو شيانو ته متوجه شي اودغه خبري درسره واخلي بيا به په کار درلره راسي مثلاً بعضي خلک وايي چي دوي په لاډسپيکر ولا پسي لمونځ نه کوي په لاډسپيکر کې ډير خلک وغږيدل چابه ويل چي دا اواز دويونکي نه دي چابه ويل چي اواز دويونکي دي

هغه چاچي ويل چي آواز دده نه دي نو مکروه دي لکن پوره تحقيق يي نه وو کړي

ديوبنديان مباركان چي کله راغلل پوره تحقيق يي وکړي هر څه يي واضح او روښانه کړل

← **اول**: نو دغه د لاؤډسپيکر آواز په إتفاق دټولو ساينس پوهانو دغه اواز دويونکي دي دهر مايکرافون دغه حکم دي.

← **دوهم**: که دغه دده اواز نه سي نوبيا خوهم لمونځ نه په فاسديږي مکروه هم نه دي حتی خلاف الاولی لانه دي هيڅ لاهم نه دي البته که رياکاري کوي هغه خو بيا جلاء مسئله ده.

نودغه ځاي ته فکر وکړه چي لاؤډسپيکر يا مايکرافون جامد شي دي هر آواز چي په ده کې راځي نسبت يي فاعل ته کيږي زيد چي په لاؤډسپيکر يامايکرافون کې خبره کوي خلک وايي دادزيد آواز دي زيد دي داسي نه وايي چي لاؤډسپيکر يا مايکرافون دي نو دا اواز دزيد بلل کيږي دغه ځاي ته بايد خلک متوجه سي

لکه: موټر دي په موټر چي زيد څوک ووهي يوازي پر زيد چي موټروان دي هرڅه چي لازميدل هغه پرده دي دهری خواڅخه يي چي ووهي پر نورو سپاريانو هيڅ هم نه شته ځکه موټر جامد دي ټول افعال يي زيد ته منسوب دي.

يا زيد عمرو په ډبره وولي او دعمرو سر ور مات کړي نو اوس زيد داويلي سي چي ستا سر ډبري مات کړي مانه دي مانه کړي ؟ نه

ځکه دډبري حرکت زيد ته منسوب دي هغه دي په زيد باندې قتل خطآء او قتل عمد لازميږي.

يوه بله خبر هم دلته درسره واخلي

په فقه کې دوه ځايه ټکر راځي

←**اول:** وايي که چيري يي فتح غير إمام ته ورکړل اوهغه اخذ دده دفتحي وکړي لمونځ يي فاسد دي.

← **دوهم:** که يو سړی وويل دلته په اول صف کې ځاي سته رامخته سه اول صف ته راسه اوس که دي ولاړي په لمانځه کې په اول صف کې ودريدي لمونځ يي فاسد دي .

♦ بل ځاي بيا وايي که يو سړی لمونځ کوي دصورتو ترتيب يي نه سوي کولاي ياد رکعاتو ترتيب يي نه سوي کولاي بل چاور ښودي پرانه کوي او هلته وايي چي قرآن کريم يي په لاس کې نيولي هم نه وي بلکې هلته ورته پروت وي دي ورته ګوري لمونځ يي فاسد دي ځکه تلقين دخارج څخه راغلي ؟

:::: دغه جواب طحطاوي په غاړه اخيستي(ج ۲ /ص ۲۷۶) راسته لاس او همدارنګه مولانا مفتی محمد شفيع صاحب په آلات جديده کې ذکر کړي دي او همدارنګه معارف القرآن ددوهمي سيپاري اول ټوک ۱۳ صفحه کې دلته يي پوره تحقيق کړي سرترپايه يي دغه رساله رانقل کړی ده.

-: اوس ورته ګوري په واقع اونفس الامر کې ته فرض کړه چي دغه نه دزيد چي امام دي آواز دي جامد هم نه دي بيا هم لمونځ نه په کې مکروه کيږي ددغه ځاي ټکر نو وکاږه؟

۞ټکر به يي جناب حضرت حاجي شيخ صاحب العالم المتبحر درته وکاږي ....! :

-: اوس نو هلته چي يو ځاي نه فاسديږي او بل ځاي فاسديږي وايي که دغه يو ځاي يي داسي ووايي

♥ مثلاً چي زه فتحه عمرو لره ورکړم او دي په منفرداً شکل په لمانځه ولاړ وي که ده چسپه فتحه واخيستل ددغه لپاره چي زما إطاعت کوي په لمانځه کې او دی الله تعالی ته ولاړ دي نو لمونځ يي ځکه فاسد دي ځکه خو دي زما اطاعت کوي لکن که په هغه بل صورت کې دي ورته ووايي چي دمخ صف ته راواوړه ده ځان ته محض په دغه خبره ځان ته فکر ورکړي ودريدي لږ ساعت وروسته چي فکر وکړي چي مسئله خو همداسي ده چي خالي ځاي بايد په صف کې پاتي نه سي ورغلي او هغه خالي ځاي يي ډک کړي لمونځ يي نه دي فاسد او همدارنګه که هلته زيد ته زه فتحه ورکوم سمدستي دي زما فتحه واخلي لمونځ يي فاسد دي خو که لږ فکر وکړي او خپل خطآء ووينې چي يقيني زه خطآء وتلي يم هغه فتحه واخلي لمونځ يي نه فاسديږي .

♦ نو اوس فرض کړه چي دلاډسپيکر آواز دزيد هم نه دي جامد هم نه دي لکن هغه سړي چي په لاډسپيکر کې آواز اوري دلاډسپيکر په قول دي کوي که دزيد؟ نه لاډسپيکر مطلقاً داخبر ورکوي چي امام دغه ځاي ته منتقل سو إمام دغه دي رکوع ته ورسيدي امام دغه دي سجدي ته ورسيدي اوامام دغه دي تشهد ته ورسيد وغيره نو دي په اصل کې په قول دإمام کوي لاډسپيکر کې مطلقاً خبريږي نو ولي فاسد يا مکروه ورته وويل سي...!

راځو بيرته خپل بحث ته علت

 **الأحكام تتغير بتغير علت**

مسئلة الظفر

♦ زمونږ إمام صاحب فرمايي : ظفر نه سته مثلاً زيد په زور اوجبر دعمرو څخه داسي شي واخيستل چي هغه مثلي وو

عمرو اوس کولاي سي چي دزيد څخه هغه مثلي شي چي زيد څيني اخيستي معين هغه واخلي يا هم مثلي مثل دغنو چي دده خپل نه وي واخلي او ځان په کامياب کړي يو يي سي دا به آداء په آدآء سي.

♦او امام مالک صاحب فرمايي نه هغه عين غنم به پيدا کوي مثل يي هم نه سي څينې اخيستي

او په قيمي کې إمام صاحب هم وايي چي عين هغه موټر پيدا نه کړي بل موټر نه سي اخيستي ددواړو مبارکانو قول همدادي.

♦ لکن إمام شافعي رحمه الله تعالى فرمايي: چي په هرشي يي لاس بر شي اخيستلاى يي شي وجه داده چي خلک اوس تابع داري دالله تعالى نه کوي اصلي شي به څيني پټه وي

فتوى په قول دإمام شافعي رحمه الله تعالى ده په اعتبار دعلت علت واوښتى.

علت مغير سو هغه دپخوا علت جلا وو اوس جلا شو.

♦**بل أصل**: داوبو خرخول جائز دي؟ نه نه دي جائز لکن په ضمن دځمکې کې جائز دي علت يي څه شي دي چي نه دي جائز؟ مجهوليت يي علت دي اوس که علت يي زائل سي او اوبه دميټر واحد په واسطه معلومي سي اوس خو په دنيا کې ميټران سته معلوميږي وسائل سته نو مخکنى علت يي زائل سو اوس اوبه دميټر په اندازه خرڅيږي معلومي هم دي ځکه يي بيعه جائز ده.

♦**يو بل لوي اصل**: هر هغه شي چي فقهي شريفي ورته ويلي وي مکروه تحريمي لکن منصوصي نه وي په صريح حديث شريف اوآيات شريف کې نه وي راغلي خو دوي تريو قاعدي لاندي ورته ويلي وي مثلاً يوځاي وايي مده مجهوله ده ځکه بيعه مکروه

تحريمي ده او مبيعه مجهوله ده نو ځكه بيعه مكروه تحريمي ده ثمن مجهول دي ځكه مكروه تحريمي ده مثلاً دتارياكو بيعه يي كړي ده .

ده ورته ويلي دي چي پر تارياكو يي دركوم نو دي چي وګوري كه ځان تاواني ورته معلوم سي نو ځغلي مولوي صاحب ته هغه ته وايي چي ماخو دغه بيعه كړي تر نيشګري مولوي صاحب ورته وايي چي وخت دي نه دي معلوم كړي نو مده مجهوله سوه بيعه دي مكروه تحريمي ده دي ځاي ته نبه متوجه شئ

په دغه وجه مكروه تحريمي دي كه چيري ددوي په مابين كي جنجال(نزاع) راتلي دغه عقد مفضي وو منازعي لره او كه دغه عقد مفضي و منازعي جنجال لره نه وو هيڅ مشكل په كي نه شته.

نه مكروه تحريمي،نه تنزيهي، نه خلاف الاولى دي.

داهم يو لوى اصل دى .

♦ فرق به يي ځنګه كوو كه چيري دوى بيعه سره كړي وه كه چيري يي پر دي سره دعوه شول چي مفضي منازعې ته وو قاضي ته ورغلل قاضي به يي بيعه فسخه كوي.

اوكه په دي كي يي منازعه نه وه هلته ده بله ګټه په نظر كي نيولي وه بيا به يي قاضي نه فسخه كوي خلاف الاولى لاهم نه ده دغه بيعه.

بل مثال په بازار كي ريګشا(رخچه) موټر ته زيد په بازار كي وايي راځه زما سره ولاړ سه ځاي او پيسي دواړه نه دي معلوم صاحب دوسايلو وويل راځه هلته چي ولاړل زيد ځيندي كښته سو ١٠٠ افغاني يي وركړي دغه بيعه صحت لري خلاف اولى لاهم نه ده

دحج اكبر په باب تحقيق ردالمحتار على هامش الدرالمختار(ج ٢ / ص ٢٧٦) چپه لاس (۶ جلده).

مصباح: 438 ص . شرح عقود رسم المفتى: 45 ص . اشبه النظائر: 251 ص .

تمت بالخير

{ الأحكام تتغير بتغير الضرورة }

بسم الله الرحمن الرحيم.

{الأحكام تتغير بالضروت..}

اول بحث

- ✓ .اول الأحكام تتغير بتغير زمان.
- ✓ .دوهم: الأحكام تتغير بتغير علت.
- ✓ .دريم: الأحكام تتغير بالضرورت.

دوه اول مخكې تيرسوي دي .

دريم به اوس ان شاء الله تعالى وويل سي

دريم ضرورت دي چي أحكام باندې مغير كيږي البته ضرورت هغه دي چي اوس بيانيږي ان شاء الله تعالى هرضرورت نه

ضرورت راځي په كلياتو خمسه ووكې.

- ✓ –: اول قسم ضروت چی دین فوت کیږی:

مثلاً كه زه دغه كار ونه كړم دين راځخه فوت كيږي او دين هغه شي دي چي الله تعالى ددين لپاره لمونځ ،روژه ،زكات ، حج ، جهاد فرض كړي دي جهاد څومره غټ شي دي الله تعالي ددين دحفاظت لپاره فرض كړي

دا ددين أهميت سو

نوضرورت به هغه معتبر وي چي دسرې څخه به دين فوت كيږي مثلاً كه تعليم ونه كړم فرض پاتيږي، كه جماعت ونه كړم واجب پاتيږي، كه آذان ونه كړم شعائر پاتيږي

تعليم فرض عين دي دهرچا دحال موافق

دتعليم مسئله :

– تعليم په روپو زمورږ دإمام ابو حنيفه رحمه الله تعالى په نزد جائز نه دي خو دضرورت په وجه اوس

فتوى داده چي تعليم په روپو جائز دي که تعليم ونه سي فرض عين پاتيږي فرض عين دين دي

جماعت په جمعه کې فرض عين دى که إمام ته ددغه جماعت په عوض کې اجره ورنه کړې بيا څوک جماعت کوي ؟

هيڅوک يي هم نه کوي فلهذا چي دين پاتي نه سي اوس فتوى دضرورت په خاطر داده چي اجره اخيستل يي په عوض کې جائز دي

جماعت په نورو لمنځو کې واجب دي که امام ته دامامت په عوض کې اجره جائز نه سي بيا دين پاتيږي نو دضرورت په خاطر ورته جائز دي اخيستل د اجرې

په آذان کولو هم اجره اخيستل جائز دي إمام صاحب وايي جائز نه دي خو دضرورت په خاطر فتوى داده چي آذان که څه هم نه فرض ،او نه واجب دي خو دشعائرو داسلام څخه دي

داسلام دشعائرو حکم داسي دي لکه دفرضو نو اجره اخيستل باندې جائز دي

فلهذا ضرورت هغه دي چي حرام هم روا کوي دايي دقوت حد سو

📖 {**الأحكام تتغير بالضروت**..}

✓ – : **دوهم نفس فوت کيږي يا يي جزء فوت کيږي که يي ونه کړم.**

نفس هغه شي دی چي داجاد لپاره يي الله سبحانه و تعالى نكاح جائز كړي ده .

اودنفس دبقاء لپاره الله سبحانه وتعالى خوراک جائز کړي چيښتن يي رواکړي ځاي جوړ کړه تعمير جوړ کړه ځان ته.

ډوډۍ ښه په پوره پيمانه وخوره

البته نفس حفاظت غوا

يوه مسئله: خلک وايي چي ډوډۍ تر قرآن افضله ده په قرآن وخيږه خو په ډوډۍ مه غيږه العياذ بالله داکفري خبره ده دوی حواله ردالمحتار ته ورکوي

خو مسئله ردالمحتار راخيستي ده لکن داسي نه ده لکه دوي چي فهم کړي

په ردالمحتار علي هامش الدرالمختار:

(ج ۱ / ۱۳۱) «۶ جلده» ۵ / ۶ / ۷ ليکه (کرښه) چپه لاس.

:- سوال : **فمنْ اُضطُرَّ إلَى مأكُولٍ ولَا يتَوَصّلُ إلَيه إلّا بوَضعِ المُصحَف تَحتَ رِجله. فأَجَاب: الظّاهِرُ الجوَازُ لأنّ حفظَ الرُّوحِ مُقَدّمٌ ولَوْ منْ غيرِ الآدَمِيِّ؛ ولذَا لَوْ أشْرفَتْ سفِينَةٌ علَى الغرَقِ واحتِيجَ إلَى الإلقَاءِ ألْقِيَ المُصحَفُ حِفظًا لِلروحِ والضّرورَةُ تَمنَعُ كَونَهُ امتِهَانًا كمَا لَو اُضطُرَّ إلَى السُّجُودِ لِصنَمٍ حِفظًا لِروحِه.**

ردالمحتار وايي که ډوډۍ دومره لوږه وه چي دي يي نه سي را اخيستلاي که يي را وانه خلي نو زيد مړ کيږي خولار داوي چي په قرآنکريم به خيږي بيا ډوډۍ را اخيستې سي

دلته داکولاي سي البته نيت دي داهانت نه کوي دضرورت په خاطر وايي نه دغير ضرورت په وجه

ددی لپاره چي نفس دې فوت نه شي نو کولای شې چي ډوډۍ راواخلې

اوهمداراز که کښتي توپانې سي غرق ته نږدې سي دبعضي کتابو غورځولو ته ضرورت پيداسي او په هغه کتابو کي قرآن کريم هم وي نو قرآن کريم دي وغورځوي ددي لپاره چي دروح حفاظت وسي دهلاکت څخه داهم دضرورت په وجه

او همداراز که يو سړی بوت ته په سجده کولو مجبور کړي شي سجده دي ورته وکړي دضرورت په خاطر دحفاظت دروح په وجه.

نو مقصد يي دادي داسي نه ده چي ډوډۍ تر قرآن بزرګه ده.

✓ :- دريم : که فوت کيدل دعقل راتلل

دعقل دفوت کيدلو په سبب الله تعالی ټول مسکرات حرام کړي نو حرام دضرورت لپاره روا کيږي عقل هغه شي دي که دضرورة په خاطر حرام روا نه شي عقل ځي فوت کيږي.

✓ :- څلورم: که نسل فوت کيږي

نسل هغه دي چي الله تعالی يي داجاد لپاره نکاح روا کړي ده دنسل دبقاء لپاره الله تعالی حد قذف مشروع کړي، دنسل دبقاء لپاره الله تعالی حد زنا مشروع کړي.

✓ -: پينځم: که مال فوت کيږي

مال هغه دي چي الله تعالی يي دحفاظت لپاره قسم قسم شرکتونه مشروع کړي قسم قسم معاملات يي مشروع کړي اودحفاظت دمال لپاره الله تعالی حد سرقه مشروع کړي

خلاصه: دغه پينځه شيان که ديو چا فوت کيدل نو دغه ضرورت دي اودلته ضرورت معتبر دي.

دوهم بحث:

دضرورت دتأثير شرائط:

توجوه .... !

دضرورت په وجه باندې حرام قطعي روا اوجائزګرځي وروسته به راشي.

✓ **اول شرط دضرورت دتأثير : ضرورت به ملجي وي اکراه به ملجي وي خامخا به مرګ ځيني راځي نه حبس اوبند**

✓ **– دوهم شرط: منتظر به نه وي اوس به واقع وي په ضرورت کې که ته وايې چې صبآء ضرورت پيښيږي بيا دغه ضرورت غير معتبر دي**

✓ **– دريم شرط : داصولو شرعيه وو څخه به مخالف نه وي.**

لکه يو څوک زيد ته وايي چې وژنم دې قتل وکړه، يا زنا وکړه داپه هيڅ وخت داوقاتو کې نه رواکيږي.

✓ **څلورم شرط:** ضرورت به په قدر دضرورت وي مثلاً يو سړی مړ کيږي له لوږي يا له تندي که دخره ياخنزير غوښه ونه خوري يا شراب ونه چيښي نو دومره اندازه ورته روا دي چې دضرورت دفعه په وشي مثلاً که په دوو ګولو يا غوړپو له مرګه راګرځي نو ده ته دريمه ګوله يادريم غوړپ حرام دي.

✓ **پینځم شرط : مطلقاً چي ضرورة قطعه سي اباحة هم قطعه کیږي.**

✓ **شپږم شرط :** ددفعې دضرر عام لپاره ضرر خاص اخیستل کیږي امیر ته

جائز دي بلکل دي يي واخلي.

ته يي فرض کړه امیر امر وکړي چي دهلمند دسیند څخه ویاله جلا کوو دښت ته يي خیږه وو دری زره

کوره هلته تري لاندي کیږي لکن دغه ویاله دخلکو په کورو راځي لس کوره دخلکو خرابیږي سل جریبه

ځمکه خرابیږي لکن هلته چي ویاله ورسیږي دری زره کورونه باندي ابادیږي .

امام ته روادي چي ویاله په زوره کش کړي خولکن شرط دادي چي دغه متضرر خلکوته به مثلي ددغه زماني عوض به ورکوي

لکه ظاهر شاه همداسي وکړل دکجکي بند يي چي وتړي د ارزګان هراوډ چهار چینې داټول ځیني لاندي

شول دملایانو څخه يي استفتآء وکړه هغه همدغه فتوی ورکړل چي کار مخته روان کړه دغه خلکوته عوض ورکړه .

مسئله : مسجد تنګ سو دمسجد په بغل کې سرای دي خو مالک دسرای سرای نه خر څوي که امیر امر وکړي چي دغه سرای ځینې رانیسي نو په زور يي ځیني رانیولي سي په دي شرط چي قیمت به دهغه وخت موافق ورکوي سرای په زوره ځیني اخیستي سي.

✓ **اووم شرط :** دواء په حرام جائزه ده داهم ضرورت دی.

مسئله: داووم شرط په ضمن کي.

تداوي په حرامو جائزده:

ردالمحتار على هامش الدر المختار (ج ١ / ص ١٥٤) «٦ جلده».

(قوله اختلف في التداوي بالمحرم) ففي النهاية عن الذخيرة يجوز إن علم فيه شفاء ولم يعلم دواء آخر. وفي الخانية في معنى قوله – عليه الصلاة والسلام – «إن الله لم يجعل شفاءكم فيما حرم عليكم» كما رواه البخاري أن ما فيه شفاء لا بأس به كما يحل الخمر للعطشان في الضرورة، وكذا اختاره صاحب الهداية في التجنيس فقال: لو رعف فكتب الفاتحة بالدم على جبهته وأنفه جاز للاستشفاء، وبالبول أيضا إن علم فيه شفاء لا بأس به، لكن لم ينقل وهذا؛ لأن الحرمة ساقطة عند الاستشفاء كحل الخمر والميتة للعطشان والجائع. اهـ من البحر. وأفاد سيدي عبد الغني أنه لا يظهر الاختلاف في كلامهم لاتفاقهم على الجواز للضرورة، واشتراط صاحب النهاية العلم لا ينافيه اشتراط من بعده الشفاء ولذا قال والدي في شرح الدرر: إن قوله لا للتداوي محمول على المظنون وإلا فجوازه باليقيني اتفاق كما صرح به في المصفى. اهـ.

أقول: وهو ظاهر موافق لما مر في الاستدلال، لقول الإمام: لكن قد علمت أن قول الأطباء لا يحصل به العلم. والظاهر أن التجربة يحصل بها غلبة الظن دون اليقين إلا أن يريدوا بالعلم غلبة الظن وهو شائع في كلامهم تأمل (قوله وظاهر المذهب المنع) محمول على المظنون كما علمته (قوله لكن نقل المصنف إلخ) مفعول نقل قوله وقيل يرخص إلخ والاستدراك على إطلاق المنع، وإذا قيد بالمظنون فلا استدراك. ونص ما في الحاوي القدسي: إذا سال الدم من أنف إنسان ولا ينقطع حتى يخشى عليه الموت وقد علم أنه لو كتب فاتحة الكتاب أو الإخلاص بذلك الدم على جبهته ينقطع فلا يرخص له فيه؛ وقيل يرخص كما رخص في شرب الخمر للعطشان وأكل الميتة في

المخمصة وهو الفتوى. اهـ (قوله ولم يعلم دواء آخر) هذا المصرح به في عبارة النهاية كما مر وليس في عبارة الحاوي، إلا أنه يفاد من قوله كما رخص إلخ؛ لأن حل الخمر والميتة حيث لم يوجد ما يقوم مقامهما أفاده ط. قال: ونقل الحموي أن لحم الخنزير لا يجوز التداوي به وإن تعين، والله تعالى أعلم.

البته تداوي په حرامو دري شرائط غواړي كه يو شرط منتفي سو جواز نه لري:

- ✓ **اول شرط** : طبيب به حاذق وي (دكترا) به لري د دنيا دقانون مطابق به

دډاكټري اوتخصص سند به پوره لري كوم مراحلي چي ديو ډاكټر د ډاكټرى لپاره سته هغه به ئي ټول په سند سره طي كړي وي.

- ✓ **دوهم شرط** : فاسق به نه وي لكه لمونځ نه كوي، ږيره خريي

- ✓ **دريم شرط** : دكوم مرض لپاره چي ډاكټر حرام تجويز كوي دهغه مرض

لپاره به په حلال كي دواء موجوده نه وي .

بعضو څلورم شرط هم لګولي چي شراب به نه وي خو داخبره صحيح نه ده .

شيخ الاسلام او نورو علمآء كرامو پر دي خوا فتوى كړي ده چي نه چي شراب هم روا دي دضرورة په خاطر كه ډاكټر وفرمايل هغه ډاكټر چي مخكې يي ذكر وسو.

دحاجي حضرت شيخ صاحب له مباركو تحقيقاتو څخه:

دډاكټر صاحب او دپير صاحب فرق :

.ډاكټر ته داجائز دي چي يو سړى دلمانځه څخه بند كړي

.اما پير دانه سي كولاي ددنيا كتابونه په دي باب وګورئ.

لکه لنډ زموږ په فقه حنفی شریفه کې راځي که ډاکټر یو چاته وویل چي په اوداسه کې سترګې مه پریوله ځکه تاوان درته کوي نه دي يي پرولي ګوره نور هيڅ لانه دي باندې سوي که بلکل داسي ورته ووايي چي مخ مه پريوله ديو عذر به وجه نه دي يي پرولي بيا په ده باندې دلمانځه اعاده هم لازمه نه ده خو هغه ډاکټر چي مخکې يي ذکر وسو هر ډاکټر نه

لکن که ملا يا پير داسي درته وويل چي دامه کوه دده په قول به نه کوي

✓ **لسم شرط :** مقصود به يي داوي چي توازون او عدل راسي ضرر به يي نه وي مقصود

نو مسئله دظفر ، مسئله دغبن فاحش دا هم جائز دي

زموږ په ټولو کتابونو کې وايي چي دخيار عيب، خيار روئيت، خيار شرط څخه بل خيار نه شته

البته خيار غبن هم شته .

دا امام مالک صاحب وويل زموږ په مذهب کې هم فتوی پر دغه قول ده

خو خيار غبن هغه وختي دي چي تا ته ونه وايي چي دغه شي ما په دغه قيمت رانيولي دي ته يي ترثلث بالا خطآء ايستلي بيرته مبيعه ورته رد کولاي سي

که تاته يو سړی ووايي چي دغه شي ما رانيولي په لس لکه تاته ئي درکوم په شل لکه تارانيوي په دغه شل لکه وروسته ته حق نه لري چي دعوه دخيار غبن وکړي ځکه په خطآء يي هغه ده تصريح درته کړي ده

یایو سړی یوشي رانیولي دي په خوله درته ووایي یا یي له خبرو څخه دامعلومیږي چي ده دغه شي په لس رانیولي دي دغه شي یي پرتاخرخ کړي په یوولس وروسته بیا ته په خبر شوي چي دغه شي په اووه رانیول شوي دي ترثلث یي بالا خطآء ایستلې بلکل یي ورته رد کولای سي.

په دي کې مقصود توازون او عدل دي

تلک عشرة كامله

خلاصه: ضرورت ددغه لسو شرائطو په وجه تأثیر کوي او ضرورت هغه دي چي حرام پري روا کیږي خو خپل په موضع کې

دریم : دریم بحث

 {الأحكام تتغير بالضرورت}

ضرورت یوشي مباح کوي .

✓ **اول: ضرورت یو شي ته رخصت، او اباحة دواړه ورکوي.**

✓ **دوهم: ضرورت رخصت ورکوي نه اباحة.**

✓ **دریم : ضرورت نه اباحة ورکوي نه رخصت.**

✓ **اول:** زید مړ کیږي که چیري د میتة (مرداري) غوښي ونه خوري.

یازید مړکیږي که چیري شراب ونه چیښي اوس خپله مړکیږي، یابل سړی یي مجبوره کړي چي ونیسه دغه ذکرشوی شیان وخوره

ونیسه دغه مرداره وخوره يادي وژنم په دواړو صورتونو کې هم اباحت دي او هم رخصت دي.

که يي خوارک ونه کړي مړسو ګوناه ګار مړ دي.

✓ **دوهم :** رخصت راولي اباحة نه راولي

مثلاً: زيد ته يوڅوک داکراه په حالت کې وايي چې ددغه سړی مال هلاک کړه يادي وژنم .

يا د دغه سړی ډوډۍ وخوره.

يا کلمه دکفرووايه دابيا رخصت راولي اباحة نه راولي رخصت دامعنا که دي ونه کړي هغه عمل چې دغه مکرِه تاته وايي ځان دي شهيد کړي دبل مال دي نه وخوری اونه دي هلاک کړي اومړ سوي نو اعلی شهيد يې کلمه دکفر دي ونه ويل او مړسوې اعلی شهيد يې. خو کلمه دکفر دپه شرط دإطمنان دقلب وويل بيا پروانه کوي. که دي ديوچا مال وخوری هم پروانه کوي عوض به يي ورکړې.

دصحابه کرامو قرباني.........................

(**واقعه**)

عمار، ياسر، سميه بی بی

عمار زوي دي

ياسر اوسميه دعمار پلار او مور دي.

دغه دری واړه کافرانو ونيول بيايي ورته وويل چې تاسو دکفر کلمه ووايا ست العياذ بالله .

نور مي معاف کړه شيخه معذوريم

دین اوایمان مي ګرو په زلفانو.

پوچ نه لري ناصحه ستا اثر پرما

ما عبد الغفار پر زړه ليکلي دعشق توری دي دفلک لاسونه شنه شول تر څنګلو هرګړي زمادخوږو په تا وولو چي وصال دخپل جان مي دي مندلي ګنج ددر ،او د مرجان مې دي مندلي څه عجيب دي که تمام جهان زماشي چي باچا دکل جهان مي دي مندلي.

بهرحال ....

سميه بی بی ته يي وويل چي کلمه دکفر ووايه ايمان پريږده.

دې مبارکې انکار وکړي په آسانو پورې يي وتړل او په ډير سخت تعذيب يي په شهادت ورسول

دا دمسلمانو ښځو کار نامي دي سبحان الله تاسو دمسلمانو ښځو غيرته نظر وکړي

په إسلام کی اوله مسلمانه ښځه أمّنا وأمّ المؤمنين حضرت خديجة الکبری رضي الله تعالی عنها اول اسلام راوړي.

اوله شهيده په إسلام کې سميه بي بي ده

بيا يي ياسر راکښ کړي هغه ته يي هم داسي وويل هغه هم کفرورسره ونه منلو

دي مبارک يي هم په سخت تعذيب شهيد کړي عمار ورته ناست دي مور او پلار يي دواړه ور شهيدان شول

عمار ته يي وويل چي کلمه دکفر ووايه عمار وويل اوځان يي ځيني خلاص کړي

پيغمبر صل الله عليه وسلم دده په شان کې وايي تقتله الفئة الباغية.

بیا دحضرت علی رضی الله تعالی عنه په ډله کې راغلي د حضرت معاويه ډلي شهيد کړي.

نو دهغه خوا چي کفارو عمار رايله کړي ګړندی و رسول الله صل الله تعالی عليه وسلم ته راغلي

او ورته وويل چي ای دالله تعالی رسوله صل الله عليه وسلم زما مور او پلار يي دواړه راشهيدان کړل

دوی په ما غالب شول کلمه دکفر يی راباندې وويل

نو دغه آيات شريف نازل شو:

{ من كفر بالله من بعد إيمانه إلا من أكره وقلبه مطمئن بالإيمان ولكن من شرح بالكفر صدرا فعليهم غضب من الله ولهم عذاب عظيم) (106) }النحل.

مطلب که ديو چا زړه پرايمان مطمئن وي او بيا دکفر کلمه داکراه په صورت کي باندي وويل سي پروانه کوي

خوبياهم هغه دوه اعلی درجه کې دي.

✓ **دريم: نه اباحة راولي نه رخصت**

اصول الشاشي دقياس په بحث کې لږ اندازه خطآء وتلي

زه تاوژنم ته به دغه سړی وژنې.

زه تاوژنم ته به ددغه سړی لاس پري کوي.

زه تاوژنم ته به زنا کوي.

دانو په هيڅ وخت کې نه اباحت راولي او نه رخصت.

تمت بالخير

{ بیان الحاجت وسدالذرائع }

بسم الله الرحمن الرحيم

📖 (بيان الحاجت وسدالذرائع)

اوس به دحاجت بيان وکړو ان شاء الله تعالی شيـخ الاسلام وائی چی مابيخي ډير کتابونه وکتل خودحاجت اوضرورت ترمابيين ئی فرق نه وکړی لکن دپوره کوښښ وروسته داخبره راووتل چی په حاجت باندي په ټول عمر شي نه رواکيـږی اوپه ضرورت خوحرام قطعی راوکيـږی مثلا دخنزير غوښی په وخت کی دضرورت رواکيدلی خوپه حاجت باندی په دوه ځايه کی شي راوکيـږی زده يی کړئ

✓ **اول** يابه دالله جل جلاله په کتاب کی تصريـح په راغلی وی دقوانيـنو په خلاف نو دغه تصريح او حاجت په وجه هغه رواشو

او يابه مختلف فيه کی په حاجت شي راوکيـږی ددتصريـح مثال لکه سلم

سلم بيـعه دمعدوم ده زه تاته اوس روپۍ درکوم ستا څخه خومياشتی وروسته غنم غواړم تراوسه شنه لانه دی نوالله جل جلاله په قران کريم کی وويل حاجت وو نوخود رواسو

دوهم مثال : چی حاجت تأثير کوی په مختلف فيه کی يودښځی عورت دی داجلادی يو دښځی مخ دی داخوعورت نه دی پټول يی ښکله دی دمخ په پټولو کی ئی اختلاف دی خوک وائی چی پټول ئی فرض دی خوک بياوائی چی يانه دی فرض نومسئله مختلف فيه ده خويوائی صريح اية نسو پيداکولای چی مخ دی عورت وی نو چي عورت نه دي پټول يي ښکله دي دغه مسئله مختلف فيه دي نور اعضاء دمخ څخه ماسوی عورت دي إتفاقاً په هغه کې خبر نه کوو خبره دمخ دعورت ده چي دليل قاطع ولري خو قاطع دليل نه سته قرآن کريم الله تعالی چي فرمايي « { يا أيها النبي قل لأزواجک وبناتک ونساء

المؤمنين يدنين عليهن من جلابيبهن ذلک أدنى أن يعرفن فلا يؤذين وكان الله غفورا رحيما) الأحزاب[59]»

دغه آيات شريف محتمل دي داسي ايات او حديث صريح نه سئ پيدا کولاي چي دمخ عورت والي ځيني ثابت کړي خو دمحتملاتو څخه داخبر راووتل نو زموږ پرمذهب دادی چی پټول ئی فرض دی دفتني په وجه خودحاجت په خاطر راوکيږی چی مخ دی لوڅ سی

مثلا : ښځه مدعی ده قاضی ته راغلل اويادا مدعی عليها اويائی خاوند ورک وو قاضی ته راغلل چی زه خوپيسی نه لرم نوقاضی صاحب ورته ووايی چی پلانکی دوکاندارته ورځه هغه سودادرکوی نوداچی مخ پټ کړی دوکانداريی سنګه وپيژني اويامثلا داسی تنګه لار راغلل چی نسی تلای نومخ دی ښکاره کی فقط دغه دوه ځايه حاجت تأثيـر وکی

تمت بالخير

{تحسینات}

بسم الله الرحمن الرحيم

📖 (بل په دغه ځاي کی تحسیــنات دی.)

تحسینات خپل په کورکی پرڅلور قسمه دی:

اول: تحسیـنات په عباداتو کی دي.

دوهم: تحسیـنات په معملات کی دي.

دریم: تحسینات په آدابو کی دي.

څلورم: تحسینات په عقوبات کی دي.

تحسیــنات دغه ته وائی چی په مباح کی ته راجح مختاره کړې.

تحسیــنات په عباداتو کی لکه ستردعورت کوه ښه کالی اغونده نجاسات دزان سره مه ګرزوه

تحـــسینات په معملات کی غش مه کوه خلګ مه خطاباسه په بیع اوشراکی درواغ مه وایه اومنهی عنه بیعی مه کوه.

تحـــسینات په ادابو کی مثلا دډوډې ادب دادی چی مخ کی لاس پریوله ډوډی په راسته لاس خوره بسم الله پرووایه اودخپل طرف شخه یی خوره اوداسی نور اودچینبولو ادب بیادادی چی اوبه په ناسته چینبه په دری غړپه یی چینبه.

تحـــسینات په عقوباتو کی مثلت مه راوله چی پزه یی پریکړی غوږونه مه پریکوه اودکافران سره چي جنګ کوئ کوچینیان سپینږیری ښځی مه وژنئ داصرف په مباح کی تاثیر کوی.

بل چی دی زینت دی دسړی زړه وغواړی چی اعلی جامه واغوندم

ښځه ووایی چي وریښمن واغوندي او وریښمین ورته رواهم دي اعلی ساعتان په لاس کم اعلا غاړګی په غاړه کی دازیـنت دی

اوبل بیا فضول دی فضول بیاودغه ته وائی چی حرام وکه مثلا زنا سد ربا داکارونه وکی زیـنت اوفضول په هیـڅ شئ کی تأثیـرنه کوی.

مصلیحت نه دی وتلی جلاتاثیرنه لری یاپه ضمن کی دحاجت دی یاپه ضمن کی دضرورت دی .

لنډه خلاصه:

زینت اوفضول: په هیڅ شي کې تأثیر نه لري.

تحسینات: په مباح کې تأثیر لري.

حاجت: دوه ځایه تأثیر درلودي .

ضرورت: دټول حرام په مقابل کې تأثیر درلودي.

مصلحت: نه دي وتلي جلا تأثیر نه لري یا په ضمن کې دضرورت راځي یا په ضمن کې د حاجت.

مخکی موږ ویلی وه :

الأحکام تتغیر بتغیر الزمان / الاحکام تتغیر بتغیـرالعرف / الاحکام تتغیر بتغیـرالعلت/الاحکام تتغیـربتغیـرالضرورت

دائی څلور.

پینځم: په سدزرائع حکم تغیــرخوری سدزرائع دامعنی چی یوشي دي روا خو واسطـه ګرځي ممنوع اومحظـور ته پرماحرام دی لکه الله جل جلاله فرمائی :

{ ولا تسبوا الذين يدعون من دون الله فيسبوا الله عدوا بغير علم كذلک زينا لكل أمة عملهم ثم إلى ربهم مرجعهم فينبئهم بما كانوا يعملون) (108) }الأنعام

الله جل جلاله وائی چی تاسی بتانو ته ښکنځل مه کوی کنی دوی به ستاسی خدای ته ښکنځل وکړی لیکن ښکنځل وبته روادي خپله مباح دي لکن الله جل جلاله منع ځینی وکړل چی واسطه ومحظور ته نسی

بل نبی علیـه السلام وائی چی تاسی دبل چاموراوپلارته ښکنځل مه کوی کنی هغه یی ستاموراوپلارته ښکنځل کوي داخولا راوهم نه دی صرف واسطه ګرزی فقط دواسطي خبره کوم.

دښځوجماعت په یوه وخت داوقاتو کی مستحب سوی لانه دی ځکه نبی علیــه السلام فرامائی صلاة المرأة فی بیــتهاافضل من صلاتهافی المسجد وصلاتهافی مخدعهاافضل من صلاتها فی بیتها

لـکن چی دنبی علیه السلام په زمانه کی چی وتلی ددریو وجه څخه

یوخوبه دوی خیــرینی وتلی دکورڅخه.

بل به یی سترکوی .

بل درسول الله صل الله تعالی علیه وسلم جماعة وررسیــدی.

لـکن حضرت عمر صاحب ښځی منع کړی درسول الله صریح حدیث ته ګورئ

لاتمنعوا ایماء الله مساجدالله

دلته خووایی می منع کوی لکن حضرت عمر صاحب منع کړی داولي؟

حضرت عمرصاحب دستی دستی په دی کی علت پیداکی چی بنفسه خودانه دی منع لـکن داسبب گرځی دفتنی دایی دوه

ربا دقران ربادنسیی ده ربادحدیث رباهغه ربادفضل ده ربادفضل چی ناروا ده په دی وجهی چی توطیه کرزی وربالره دنسی

دلته یومسئله بیانه وو ښځه چی مرتده سی دنکاح څخه خلاصیږي که ښځه مرتده سوه العیاذ بالله دمیړه سره یی دنکاح فسخه راغلل طلاق نه ده بیا ودغه میړه ته مطلقا نه ده روا که داښځه نکاح کوی ودی یی کړي کنی بل سړی په نکاح کولای سی دادمذهب فتوی وه لـکن خلگ به تول کافران سوی وای که داښځی دمړو څخه فعذاب وای نوځکه علماء کرامو فتوی و اخیستل مطلق یی داوویل چی پرحرامه ده خوبل میړه هم نسی کولای اودده دنکاح څخه هم نه وځي په زوره بیرته نکاح ورسره کولای سی

لکه دظهار ده مثلا یوڅوک خپلی زوجی ته ووایی چی ته فرماداسی یی لکه دمورشا

چی دایی ورته وویل داښځه پرده حرامه ده طلاق نه ده عده نه لری بل میړه ته نه ده روا وده ته هم نه ده روا حتی که یی ترظهار وروسته طلاق ورکی که یی ثلاثا ورکی که یوطلاق ووهغه ولاړل بل زوج یی وکی تربل میړه ورسته هغه طلاقه کړل یامړسو بیرته دغه (اول) میړه په نکاح کړل نکاح یی جائزده وطی نه دی ورسره روابل میړه نه سي کولاي عده نه لری وخت نه لری خاماخابه دی فدیه ورکوی نوښځه چی مرتده سی پرداسړی حرامه ده زوی ئي زوي دزنادي عند الله ظاهراً پرده پري هواره ده

خو ښځه پرده طلاقه ده؟ نه

بل میړ کولاي سي ؟ نه

دده ښځه تلاي سي؟ نه

یورکم نه سي کولاي ترڅو چي دي نکاح ورسره تړي حتي

شرحه دفقه الاکبر وائی که چیری ښځی وویل چی زه ده خاوند ښځه فعذاب یم نوکه ملا فتوی ورکړل چی ته کافره سه نوداشرحه وائی چی دغه ملاکافر سو زکه دی دبل په کفررضا سوملاکافرسو خوښځه نسی تلای

خلاصة داسوه

چی سدذرائع خپل په کورکی پر دری قسمه دی

یوسدزرائع هغه دی چی په اتفاق حرام کرزی په صریـح اية کی الله جل جلاله وائی { اليوم أحل لكم الطيبات وطعام الذين أوتوا الكتاب حل لكم وطعامكم حل لهم والمحصنات من المؤمنات والمحصنات من الذين أوتوا الكتاب من قبلكم إذا آتيتموهن أجورهن محصنين غير مسافحين ولا متخذي أخدان ومن يكفر بالإيمان فقد حبط عمله وهو في الآخرة من الخاسرين } (5) المائدة

الله جل جلاله وائی چی تاسی ته نکاحی روادی دهغه محصنات دیهوداونصری وو چی ترتاسی مخ کی کتاب ورکول سوی وی که تاسی مهرونه ورکی فه نکاح یی کی صریح اية دی حضرت عمر صاحب منع و کړل حتی حذیفه بن یمان دکمربندمسئول ووهغه یهودیه کړی وه حضرت عمر فاروق رضي الله تعالى عنه ورته وویل طلاقه یی که ده خط ورواسته وی حضرت عمر صاحب ته چی امیر المؤمنین حرامه ده حضرت عمر صاحب ورته وویل چی خط به نه ایږدی خپل ماینه به طلاقه کوی

بل ابوجهل حضرت على صاحب ته لوروركول نبى عليه السلام وويل چى زمالوراوډابوجهل لوربه نه سره جمعه كيږى ليـكن پيغمبر صل الله عليه وسلم ځنګه تورى وايى

لايحل حراماولاحرم حلالا

زه دانه وايم چى حرامه ده لكن دازماداذيت سبب ګرځى يعنى دابه بى بى فاطمه رضي الله تعالى عنها ظهيره وى زه په هغى ظهيريږم دپيغمبر صل الله عليه وسلم ناراضه كيدل اوظهيره كول دالله تعالى ناراضه كيدل دي حضرت علي كرم الله تعالى وجهه ته يي نكاح حرامه نه وه خو دسدذرائع په خاطرحرامه سوه دحضرت حذيفه په واقعه كې چي حضرت عمر فاروق رضي الله تعالى عنه امر ورته وكړي علت دا وو چي اهل ذمه ښځي ښائسته وي نو كيداي شي چي خلك په هغوي كې تر مسلمانانو ښځو زيات رغبت پيدا كړي بيا به مسلماناني ښځي په نكاح كوي نو دسد الزرائع په وجه دغه كار ځخه حضرت عمر فاروق رضي الله تعالى عنه منعه وكړه او اوس خو بيخي بايد اجازه ورنه كړل شي ځكه اضرار يي ډير دي داسي نه دي چي نكاح يي حرامه ده خو دسد الزرائع په وجه حرامه ده

(سد الذرائع په دري قسمه سو)

يو خو په اتفاق منعه سو كه په غالب ظن حرام ځيني پيښبي دي ياپه يقين په دغه صورت كې هغه مباح له ورته حرام دي.

دوهم: په اتفاق حلال دي حيله ده

زيد غنم په غنمو عمرو ته وركوي خو دزيد غنم بالادي دعمرو ترغنمو خوبالابود يي ربا ده نو عمرو خپل غنم خرڅوي په روپيو دزيد غنم رانيسي داحله ورته جوړه وي داپه

إتفاق روا ده يو هغه حيله ده چي خاص ډول نه معلوميږي دحلت او حرمت طرف يي بل وخت دهغه بيان کوو ان شاء الله تعالی

مصد باح ۴۵۶

دياد درس دکاپي کولو حق هيچاته هم ثابت نه دي فلهذا أخذ وکړئ مننه

تمت بالخير

{دشرعي اقسام}

بسم الله الرحمن الرحیم

🕮 شرعه پر دری قسمه ده

اول: شرعه منزله

دوهم: شرعه مؤوله.

دریم: شرعه مبدله.

✓ : اول شرعه منزله په ساده شکل یي تعریف دادي چي مسئله په قرآن او حدیث شریف کي راغلي وي صراحتا.

حکم : سل په سل کي قابل قبول معتمد علیها ده

✓ : دوهم شرعه: مؤوله هغه ده چي زموږ اکابرینو په خاص اصول باندي دقران او حدیث څخه دمسائلو تخریج کړي وي

حکم دامقبوله ده په لحاظ داصولو رسم المفتی دهمدغه شرعي مؤولي لپاره رسم المفتی ویل کیږي.

✓ : دریم شرعه مبدله: هغه ده چي نه په قرآن کي مسئله وي نه په حدیث کي او نه په سمو أصولو استنباط شوي وي

بس خپل په عقل اوله ځان څخه یي چي هرڅه وویلي وي بس تر خوله یي راوتلي دي

حکم إعتبار نه لري

سوال: دشرعي مؤولي او شرعي منزلي فرق په څه کې دي؟

جواب : د رب الارباب صاحب الكبرياء ذات مقدس چي کوم علم لري هغه پر هرشي محيط دي

دالله جل جلا له رسول صل الله عليه وسلم ته الله تعالى دده په خوله داسي الفاظ راولي چي دهر قسم ټکر خطأ څخه مصؤن وي.

موږ مخکې دقرآن اوحديث فرق داسي کړي چي قرآن لفظ اومعني دواړه دالله تعالى دي

حديث لفظ د رسول الله صل الله عليه وسلم يا جبرائيل عليه الصلاة والسلام دي اما معنى يي دالله تعالى ده .

نو دوي کې داسي څه موجود دي چي ترقيامته په هغه کې ټکر نه راځي اونه ټکر په کې سته .

اوشرعه مؤوله بيا داسي وي چي تر ذهن قاصر پوري تعلق لري دسل کاله مخکې ذهن او سل کاله وروسته ذهن ډير لوي لوي توپيرونه لري.

هغه وخت ديو شي حکم په يو شکل وو اوس بيا په بل شکل دي.خو بعضي خلک له دي څخه کله کله غلطه استفاده کوي بهرحال

-: رب العلمين په قرآنکريم فاسجدوا وفرمايل اوس زموږ إمامانو خپل په عصر کې دا وويل چي سجده وضع الجبهة على الارض هغه وخت نوي وسائل نه وو لکه تياره لکه موټر دوي چي وکتل غټ وسائل هغه وخت کښتۍ وه نو دسجدي تعريف يي داسي وکړي وضع الجبهة على الارض ياپر داسي شي چي هغه پرځمکه وي کښتۍ پراوبو ولاړه ده اوبه دځمکي پر سر خبره صحيح سول.

لکن اوس نو په تیاره کې سجده څنګه ده؟

داخو نه ځمکه ده اونه بالواسطه پرځمکه ولاړه ده په هواء کې ده او تعریف دوئ داسي کړي چي ددتندي ایښنو دل دي پر ځمکه

-: نو موړ وایو چي دا ددوي تر اذهانو پوري هم دغه معنی وه په هغه وخت کی دا ددوي دخپل عقل او فهم په اندازه ترجمه وه که داشیان په هغه زمانه کې وایي دوي یي بیا تعریف اړوي بیادوي ویل چي سجده هغه ته وایي چي تندي پر یوشي کرار ونیسي ما استقر الجبهة علی اي شئ کان اوس که په تیاره کې سجده کول سجده صحیح ده

یا مثلاً بله خبره:

وایي تلقن دخارجه شخه دلمانځه مفسد دي حتی دشامي ملا صاحب وایي چي تلقن دخارج شخه که څه هم قران ورته پروت وي بلکل ورقي وانه ړوي لمونځ په فاسدیږي هغه اړول خو پریږده.

نو له دغه ځاي شخه څه کسان وایي چي لمونځ کول په داسي حال کې چي مقتدیان یي په لاوډسپیکر کې اوري نه دي صحیح ځکه دا دخارج شخه تلقن دي خو په دغه ځاي کې لویه غلطي همدغه وه چي تحقیق چانه کوي او خبره یي کول.

-: **اصل خبره دا ده** چي عالم باید تحقیق وکړي خیرنه وکړي نقطي معلومي کړي بیا په یو اصل حکم وباسي همدا وجه ده چي زموږ علمآء کرام فرمایي چي دصرافانو په باب چي موږ مفتیان نه یو بلکې صرافان مفتیان دي داځکه چي له دوي شخه ددوي دکار مکمل تحقیق وسي بیا حکم ورکړل سي

دمثال په توګه دری څلور کتابونه دلغاتو داوايي چي ځُنګه ماهي دي همدا وجه وه چي اشرف علي تهانوي رحمه الله تعالی په إمداد الفتاوی کې وليکل چي جنګه روا ده دا په درياب کې پيدا کيږي

خو ددنيا ماهرين چي اوس راغلل تحقيقات وشول داثبته شول چي جنګه ماهي نه دي دا د ابو حيوان دي شيخ الاسلام ددنيا ټول ماهرين راوغوښتل راجمعه يي کړل داحکم يي وکړي چي دا مرادار دي لکن اشرف علي تهانوي ته الله تعالی عذاب ورکوي نه ولي؟ خپل مسؤليت ده اداکړي پوره تحقيق ده وکړي

يو عالم چي په مسئله کې پوره تحقيق وکړي نو ترهغه وروسته که مسئله صحيح وه دوه اجره الله تعالی ورکوي

که صحيح نه وه دکوښښ سره سره خطآء وه بيا الله تعالی يو اجر ورکوي.

مطلب دادي چي په علم کې سړي بايد ځان ستړي کړي قرباني ورکړي دګيډي مختار حوالي پريږدي بيا مشکلات هم نه راځي.

نو يوخت دلاډسپيکر تحقيق چي وسو دومره اندازه پر مخ نه وو

البته دټولي دنيا اسلامي او کفري دا يي تحقيق دي چي دلاډسپيکر آواز دسړي آواز دي دهغه هغه سړي آواز دي چي قرات ياوينا په کې کوي.

-: **دوهم** : که دا ومنو چي دده آواز نه دي نو داخبره په ياد ولره چي دجماد ټول نسبت فاعل ته کيږي خپله جماد ته نه مثلا زه تا په ډبره ولم ستا به ياسر ماتيږي ياالاس وغيره... اوس زه درته وايم چي داخو مانه يي ويشتلي په دي خبر زه خلاصيدی سم؟ نه دجماد ټول نسبت فاعل ته کيږي.

توره ده مرمې ده داتول جماد دي نسبت يي وفاعل لره دي.

نوکه بلکل آواز دده نه وي په لاؤډسپيکر کې خو خامخ به يي فاعل ته نسبت کوې.؟

دریم :که جماد ته يي هم نظر ونه کړې او دهغه سړی چې إمام دي دهغه آواز هم نه دي؟ اوس يو سړي لمونځ کوي بل سړي دهغه په إقتدآء ورسره ځي چې لمونځ يي سره شريک نه وي لمونځ يي فاسد دي البته په لاؤډسپيکر کې قرات اوريدل داپه لمانځه کې تنبيه ده إمام اوس دلته مطلق تنبيه ورکوي چې امام اوس په رکوع کي دي په سجده،ياقيام کې دي تلقن دخارج نه دي او نه تلقن دخارج ورته ويل کيږي.

تر ټولو ښه تحقيق آلات جديده دمولانا مفتي محمد شفيع صاحب وګورئ تحقيق اوس واسع سو

په لاؤډسپيکر کې لمونځ هيڅ مشکل نه لري.

يالکه دستني تحقيق: اوس تحقيقاتو داثابته کړل چې روژه نه په ماتيږي.

په معنوياتو روژه نه ماتيږي که ماتي دي نو دنبي کريم صل الله عليه وسلم روژه خو بايد ماته سوي واي ځکه عليه الصلاة والسلام فرمايي چې ماته زما رب هم اوبه راکوي او هم خواړه.

(**قواعده**:)

–: مکروه تنزيهي دسنت مؤکد پر مقابل دي سنت مؤکد که يو څوک پر اسرار پريږدي ګوناه کار دی.

–: خلاف الاولی دمستحب مقابل دي زره واره يي چې ترک کړي هيڅ شي هم نه سته.

دخاښت دلمانځه ترک خلاف الاولی دي

-: ص ۶۱۴ ج ۲ کې دشامي وايي امساک وکړه دلوي اختر په ورځ تر ښوچي اضحيه حلاله وي اوس دغه امساک مستحب دي که يو چا دغه امساک ونه کړي غير مکروه خلاف الاولی دي .

-: مکروه تنزيهي هغه ته وايي چي دليل لري.

-: مکروه تحريمي هغه ته وايي چي دليل لري.

خو دمکروه تحريمي دليل قوي او دمکروه تنزهي دليل ضعيف دي .

-: مکروه تحريمي دواجب په مقابل دي.

-: حرام دفرض په مقابل دي .

-: مکروه تنزيهي دسنت مؤکد په مقابل دي.

-: خلاف الاولی دمستحب په مقابل دي.

-: نفلونه چي هرڅو وکړم اولی دي .

او که نفلونه په ټول عمر ونه کړم خلاف اولی دي.

-: دمکروه تنزيهي په تائيد کې خلاف الاولی راځي خو دخلاف الاولی په تائيد کې مکروه تنزيهي نه راځي.

اللعممم ۹۱ ج ۱ ردالمحتار

-: دمکروه تحریمي منکر او دواجب منکر کافر نه دي خو فاسق دي په عمل کې يي دفرضو سره هيڅ فرق نه سته دفرض دعملي کولو منکر هم کافر نه دي فاسق دي البته فرق يي دادي کي دفرضو دفرضيت څخه انکار کفر دی.

-: په مکروه تحريمي او حرام دواړو کې لايجوز ويل کيږي.

-: په مکروه تنزهي کې لايجوز نه ويل کيږي .

-: مکروه تنزهي دجواز سره جمعه کيږي پيغمبر صل الله عليه وسلم دجواز لپاره کله کله کړي دي

۱۶۵ص / ۱ج

-: اوس نو دغه شي مکروه تحريمي دي او که مکروه تنزيهي که تصريح ورسره راغلي وه تحريمي يا تنزيهي بس هغه دتصريح موافق دي.

خو که مطلق ماده دکره ،يکره،کرها ، مکروه ... الخ ذکر وه دلته مراد مکروه تحريمي دي.

-: إمام ابو يوسف صاحب وايي چي ماډإمام صاحب څخه پوښتنه وکړه چي ستا دکره په ماده څه شي مراد دي.؟

وايي إمام صاحب راته ووېل التحريم .

ج۱/۱۶۵ ردالمحتار.

-: **جائز کله په معنی دحلال راځي کله په معنی دنافذ راځي حلال نه وي صرف دعقد نافذوي.**

حضرت مولانا عبد الحي الکنوي وايي : اما بيع جائز است لکن حلال نيست

په تورو ووايي

-: يو تلافي ده او يو قضاء ده

واقعه ډاکټر عبدالحي صاحب چي خليفه مجاز دحکيم الامت صاحب وو دشيخ الاسلام محمد تقی عثمانی صاحب پير دي

دوي يو ځاي ميلمانه وو په پښو روان سول يو ځاي په لاره کې دمابنام دلمانځه وخت راغلي ډاکټر عبدالحي صاحب تر مخ راووتي فرض او سنت يي وکړل - اوابين - يي ونه کړل دده دعادت خلاف

هلته چي کله ورسيدل ماخوستن چي مسجد ته ولاړي هلته دعادت خلاف تر پخوا په مسجد کې ډير پاته سو

نو چي کله راغلي ملګرو سوال باندي وکړي چي نن ستاسو دعادت خلاف عمل ولي وسو مابنام په مسجد کې لږ پاته سوې او ماخوستن ډير پاته سوې داولي؟

ډاکټر عبد الحي صاحب ورته وويل چي هلته مي چي مابنام انتظار ونه کړي ځکه ملګري راته انتظار وو

معترضه : يو وخت

إمام صاحب او ابو يوسف صاحب په سفر روان وو دسهار په لمانځه کې ابو يوسف صاحب مخکي سو په اول رکعت کې يي سورة الفلق او په دوهم رکعت کې يي سورة الناس وويل

نو امام صاحب وويل چي الله تعالى لره دي حمد وي صار يعقوب فقهاً

راځو خپلي قصي ته

نو ده ورته وويل چي دانډوالانو انتظاروو ځکه مي نفل ونه کړل

دوي ورته وويل چي دلته دي ولي انتظار ماخوستن وکړي؟

ډاکټر صاحب جواب ورکړي چي دهغه نفلو قضآء مي دلته راوړل

دوي ورته وويل چي نفل هم قضآء لري؟

ډاکټر صاحب جواب ورکړي چي قضآء که نه لري تلافي خو لري.

او تلافي دپيغمبر صل الله عليه وسلم څخه هم ثابته ده

دبخاري شريف دحديث شريف مضمون دي چي پيغمبر صل الله عليه وسلم څخه به چي کله تهجد فضاء سو دڅابښت لمونځ يي نه پريښوي

تلافي دي ته وايي مثلاً زه دسهار له خوا نفل کوم لس لس رکعته خو که يوه ورځ راڅخه پاتي سي ماښام شل رکعته بيا کوم همدا شان ذکر وغير ذالک

خو دا داسي نه چي قضآء يي باندي لازم ده.

دياد درس دکاپي کولو حق هيچاته هم ثابت نه دي فلهذا أخذ وکړئ مننه

تمت بالخير

{ په نوازلو کي فتوی }

بسم الله الرحمن الرحيم

🕮 په نوازل (نويو مسائلو) کې به څنګه فتوی ورکول کيږي.؟

دغه مسئله به په صريح الفاظو سړی پيدا کوي که څه هم په خپل باب او خپل موضع کې نه وي راغلي بلکې په بل باب بله موضع کې راغلي وي غرض کوښښ او حق ته رسيدل دي

که بالفرض والتقدير دغه مسئله صريح نه سول پيدا اوس ددغه عالم حال له دوو حالو خالی نه دي

يا به عالم متبحر وي يا به عالم متبحر نه وي

– که متبحر عالم نه وي په ده فرض دي چي لا ادري به وايي سائل ته به دا وايي چي ته ولاړ سه عالم متبحر پيدا کړه او دغه پوښتنه دهغه څخه وپوښته دي به سقوط کوي دځانه به خبري نه ورته کوي.

– او که متبحر عالم وي نو دهغه تعريف موږ مخکي داسي کړي وو چي متبحر عالم هغه څوک دي چي په ماهر استاذ دفقهي شريفي د قواعدو موافق او مطابق يي صحيح تخصص کړي وي او دفقهي شريفي زياته مزاوله يي کړي وي په هرقسم مسائلو کې يي کار کړي وي او دفتوی جهتونه ورته معلوم وي فتوی وي يي ورکړي وي طريقي او قاعدي ښه ورته واضح سوي وي الله تعالی ملکه ورکړي وي نو که دغه تعريف باندي صادق سو دغه عالم متبحر دي په دغه سي ځاي کې عالم متبحر کولای سي چي نظير ورته پيدا کړي يا جزئيه تر کليه لاندي کړي او يانوي استنباط وکړي دتکر په صورت کې تطبيق وکړي که ممکن نه وي خپل په اجتهاد کولاي سي چي يو طرف راجح کړي دغه نو دعالم متبحر کار دي

او په موږ وار واجب داده چي په داسي مواضعو کې لا ادري ووايو.

همداشان عالم متبحر ته داروا ده چي دبل پر مذهب فتوی ورکړي.

(دبل پر مذهب فتوی)

پر بل مذهب فتوی ورکول شرائط لري:

پربل مذهب فتوی ورکول اول شرط يي عدمي دي هغه شرط دادي

– چي په کومه مسئله کې بند راغلی

دخلاصون لپاره به يي خپل په مذهب کې حيله نه وي

مسئله د مکره علی طلاق

دغه مسئله ډيره پيښيدل حتی بعضو علمآء کرامو وويل چي په مذاهبو اربعه وو کې يوازي أحناف دمکره طلاق واقع کوي ځکه(ثلاث جدهن جد وهزلهن جد طلاق،عتاق، نکاح) او دري نور مذاهب دمکره طلاق واقع نه بولي نو راسئ په دغه دريو مذاهبو کې پريوه فتوی ورکړو نو ښه به وي

په دغه مسئله کې دعصر متبحر عالم استاذنا واستاذ العلمآء حضرت مولانا مفتی عبدالرؤف أبو عبد الرحمن الإطمنان صاحب دغه مسئله دښه تحقيق اوتدقيق لپاره شيخ الاسلام حضرت مولانا محمد تقی عثمانی صاحب ته وليکل چي اکراه اوس زياته سوي او خلک غواړي چي فتوی دبل پر مذهب ورکړي د دي سره سره په مذهب کې حيله هم لري موږ چي کوم تحقيق کړي هغه تحقيق داوايي چي په دغه مسئله کې دبل پر مذهب فتوی روا نه ده ځکه خپل په مذهب کې حيله لري شيخ الاسلام حضرت مولانا محمد تقی عثمانی صاحب په دغه وخت کې په سفر هم وو مسئله يي وکتل او شيخ الاسلام حضرت مولانا محمد تقی عثمانی صاحب تقريظ دصحت باندي وکړي مسئله

رامعاد سوه بیا په ډیرو کتابو ولیکل سوه چي اوس هم سته او موجوده ده او ډیره شائع هم سول دغه مسئله بیرته ترلا نبه تحقیق وروسته شیخ الاسلام حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب ته ورواسته ول سول او دا یي ورته ولیکل چي په مذهب کي حیله هم لري فلهذا ز موږ هدف دادي چي دغه کار دعالم متبحر دي چي دبل پر مذهب فتوی ورکړي نو ددي مسئلي دښه وضاحت لپاره موږ مسئله تاسو ته راجع کړل

شیخ الاسلام صاحب دغه خبر ولیکل چي په ټول عمر دبل چا پر مذهب فتوی روا نه ده چي خپل په مذهب کي حیله ولري.

او یوه بله ښه مسئله:

دحج په وخت کي علامه بنوری په معارف السنن کي او شاه صاحب رانقل کړي چي وتر په هغه إمام په سي کول چي په دوو رکعاتو سلام ګرځوي ښنګه دي دوي مبارکانو لیکلي چي سلام دي نه ګرځوي ولاړ دي سي دریم رکعت ته

خو دمذهب ټول کتابونه بیا داسي نه وایي هغه وایي چي مطلقاً إقتدآء نه ده پسي صحیح وعلیه الفتوی وبه یفتی دغه مسئله ډیره ستونزمنه وه دحجاجو حضراتو لپاره البته داحنافو حجاجو لپاره.

اوس دری، یا څلور کاله کیږي چي شیخ الاسلام فتوی ورکړل چي داصحیح حدیث دي چي رسول الله صل الله علیه وسلم وتر په یوه رکعات کړي داصحیح حدیث دي چي رسول الله صل الله علیه وسلم دری رکعاته وتر په یوه سلام کړي دي إمام صاحب پر احوط تللي دضرورت په وخت یي بالکل یو رکعات کولاي سي مطلق یي فتوی ورکړل چي په هر چاپسي یي کولاي سي په دوو رکعاتو هم سلام وګرځوئ په اخر یوه هم بیا راګرځول هم نه غواړي وعلیه الفتوی اوس دمذهب ټول کتابونه وایي چي اقتدآء نه ده صحیح خو شیخ الاسلام عالم متبحر دي دافتوی کولاي سي ضرورت پیدا سو

نو دمکره دطلاق دنه واقع کیدلو لپاره حیله داده چي پرتا باندي یو څوک إکراه راولي الله تعالی دي زموږ اوستاسو ټولو حفاظت وکړي آمین چي پر تا دي مینه (ښځه) طلاق وي چي فلان کار دي نه دي کړي او تا هغه کار کړي وي نو ته په نیت کې بله ښځه ونیسه / ولو که ستا دښځي نوم یي زده وي او درته ووایي چي فلان ښځه دي په تاطلاق وي چي تا فلان کار نه دی کړی ته بله ښځه خپله ښځه نه په هغه نامه په نیت کې ونیسه نه طلاق کیږي چي نکاح موجود نه وي نو طلاق هلته بیا کله موجود یږي نو بله ښځه په نیت کې ونیسه.

ظالم او مظلوم فرق نه لري دهر خوا څخه چي اکراه راغلل نیت ستا معتبر دي

دي ته نو حیله ددتوریي وایي.

او همدارنګه ورسته تر طلاق چي تاته یي درکړي ان شاء الله ووایه دومره اندازه صوت باندي وکړه چي پر خپل نفس یي واوري طلاق نه واقع کیږي.

خلاصه : فلهذا دلته حیله سته نو پر بل مذهب فتوی نه ده روا چي حیله موجوده وي پر بل مذهب هلته فتوی نه روا کیږي.

– دوهم چي دبل پر مذهب فتوی رواکیږي : عموم دبلوی به وي خلک به ډیر په اخته وي خواهش دنفس به نه وي.

– دریم دبل پرمذهب فتوی رواکیږي : دغه فتوی هرڅوک نه سي کولای بلکې عالم متبحر یي کولای سي وجود دعالم متبحر غواړي چي تا ته طریقه واضح کړي

– څلورم دبل پرمذهب فتوی رواکیږي : دهغه مذهب دعالم سره به مشوره کوي.

– پینځم دبل پر مذهب فتوی رواکیږي: دهغه مذهب ټول کتابونه به ګوري دټولو شرائطو سره.

فلهذا دغه شرائط كه موجود شول دبل پر مذهب فتوی جائز ده.

دمفقود په مسئله كې، دعنين په مسئله كې، دمجبوب په مسئله كې، دظفر په مسئله كې،دخيار غبن په مسئله كې، چې ورک وي په جنګو کې

داټول په « حلة الناجزه للحليلة الناجزه » كتاب كې حضرت مولانا حكيم الأمة محمد اشرف علي تهانوي رحمه الله تعالى فتوى وركړل اوس په هغه اكتفاء ده تر قيامته پورې استغناء راغلل.

نو دغه سي خلک دبل پر مذهب فتوی ورکولای سي هرڅوک نه.. ددين څخه به لعب نه جوړوو.

چې الله تعالى او دالله تعالى رسول صل الله عليه وسلم او زموږ فقه شريفه أصول اوقواعد څه وايي هغه رکم به مخته ځو.

مصباح (ص ۴۸۰)

تمت بالخير

{ اصولو دتکفیر }

بسم الله الرحمن الرحيم

اوس راځو اصول دتکفیر ته چي ډیر مهم درسونه دي زده یي ګړئ په یاد یي کړئ

ته چي یو چاته کافر وایي دا خپل اصول لري نو داصول ترزده کولو وروسته په لار درته واضح سي ان شاء الله تعالی.

📖 **(اول اصل)**

– که یوسړی دتواتر څخه منکر سو کافر دي که دتواتر څخه منکر نه وو بیا نه کافر کیږي.

✓ –تواتر خپل په کور کي پر څلور قسمه دي

✓ اول: تواتر بالاسناد.

✓ دوهم: تواتر بالطبقه.

✓ دریم: تواتر بالتعامل.

✓ څلورم: تواتر بالقدر مشترک.

–اول تواتر بالاسناد

– داهغه تواتر دي چي وار دواره درسول الله صل الله علیه وسلم څخه دومره خلک روایت کړی وي چي دهغوي توافق په کذب محال وي او همدارنګه تر دوي وروسته هم.

دا په دګوتو په شمار څو مبارک أحادیث دي

– اول : «من تعمد علي کذبا، فلیتبوأ مقعده من النار» رواه البخاري

– دوهم: (البينه على المدعى واليمين على من انكر)

– دريم : (الولد للفراش وللعاهر حجر)

که له دغه أحاديثو څخه يو څوک منکر سو هغه کافر کيږي

– حکم: منکر يي کافر دي .

– دوهم تواتر بالطبقه

– لکه قران : دقرآن يو ايات داسي نه سي پيدا کولاي چي دومره خلکو رانقل کړی وي چي توافق يي په کذب محال وي بلکې يولک اوڅلور ويشت زره صحابه کرامو ټولو داويل چي دا دالله تعالی کتاب دي وروسته چي زمانه تيريدل همدومره يي خلک زيا تيدل الی يومنا هذا. مثلاً اول وار يومليون وو بيادوه مليونه سول، بيا دري ...الخ .

– حکم: که له دغه قسم تواتر څخه يو څوک منکرسي هم کافر دی.

– دريم تواتر بالتعامل :

– لکه پينځه لمونځونه يو لمونځ يو ځاي ته نه سي پيدا کولاي چي لمونځ درسول الله صل الله عليه وسلم څخه دومره کسانو رانقل کړی چي توافق يي په کذب محال دي لکن تواتر بالتعامل راغلي يو لک او څلويشت زره صحابه کرامو همدغه رکم لمونځ کولو په پسي ميليو، مليادرو، ...الخ اندازه پسي زياتي دله الی يومنا هذا.

– حکم: منکر يي کافر دي

–څلورم تواتر بالقدر مشترک :

– لکه : معجزه درسول الله صل الله عليه وسلم هره معجزه په خبري واحد ثابته ده که ديوي معجزي څخه سړي منکر سي کافر نه دي ځکه ټولي معجزي فردا فردا دنبي کريم

صل الله عليه وسلم په خبر واحد سره ثابت دي يو ،دوه، دري راويانو مبارکانو دغه معجزات نقل کړي وي خو لکن درسول الله صل الله عليه وسلم معجزي څو دي ته يي فرض کړه سل دي اوس يوه معجزه يوه راوي رانقل کړی يوه بل يوه بل خوټول سل ته رسيږي ځکه دمعجزو تعداد سل دي دراويانو تعداد هم سل سو نو سل په نفس قدر مشترک سره شريکان سول چي نفس معجزه ده

– فلهذا حکم دادي چي دنفس معجزي څخه انکار کفر دی،او ديو معجزي څخه انکار کفر نه دي.

ځکه په قدر مشترک سره تواتر ثابت شو چي نفس معجزه ده

– نادره: که سړی دتواتر څخه خبر وو چي دضروریاتو څخه ددين دي او دي منکر سو کافر دي.

– اوکه ناخبر وو منکر سو يو قول وايي کافر دي بل وايي نه دي کافر اصح دادي چي نه دي کافر.

« دوهم اصل دوه شيان دي »

– اول: لزوم دکفر.

– دوهم : التزام دکفر.

په لزوم دکفر چاته تکفير حرام دي چي ورته ووايي.

او په التزام دکفر ورته ويلي سي چي کافر يي.

ردالمحتار (۳ / ص ۵۷)

– که یو سړي وویل چي که ده دغه کار وکړي دی کافر دي یا یهودي، یانصراني دي العیاذ بالله اوس یي هغه کار وکړي څه حکم یي دي.؟

دی وایي چي که وروسته دغه سړی دغه کار کوي او په دي پوه وو چي دغه کار زه کوم نو کافر کیږم بیا هم هغه کار وکړي نو دغه سړی یقیني کافر دي ځکه دلته التزام راغلي.

– او که یي وویل چي نه ما دغه یوه خبر وکړل نه کافر کیږم نو بیا که هغه کار وکړي کافر کیږي نه لکن کفاره دیمین پري لازمه ده.

دغه لزوم دکفر دي نه التزام.

– په لزوم دکفر حکم دارتداد نه جاري کیږي

خو مناسب دادي چي تجدید دایمان، او تجدید دنکاح باید وکړي داحتیاط په خاطر.

– او التزام دادي چي بار بار یي خبر کړي چي کافر کیږي بیا یي هم دي وکړي کافر کیږي

لکه: یو چا ته ووایي چي ږیر سنت دي سنت ته ښکنځل کفر دي دي راولاړ سي ددی سره بیا هم ښکنځل وکړي العیاذ بالله داکفردي ځکه التزام راغلي

– شامي په (ج ۵ / ص ۲۵۷) کې وایي که یو څوک ووایي چي دشاه آغا یادپیرانو رښکي (هغه ټوکر چي ددوي پر قبرو لکه بیراغ راځوړند وي) ماته شفاء راکوي یا زما څخه شر دفعه کوي دغه شخص کافر دي.

– او همدارنګه شامي په (ج۲ / ص ۲۸) کې وایي: که یو چا په زکات کې حرام یو چاته ورکړل دغه ورکوونکي کافر سو که اخیستونکی وویل چي الله تعالی دي وبښه دي هم کافر سو او که دریم کس امین باندي وویل هغه هم کافر سو

- او همدارنګه شامي په (ج ٣ / ص ٣٢٥) کې وايي: که یو چا وویل چي ده ته مسروقه(هغه شي چي دیو چا څخه ورک شي یا یي یو څوک ځیني پټ کړي) معلوم دي کافر سو،اوکه یو چا وویل چي ماته پیریانان داحال وايي هغه هم کافر سو ځکه پیري ته یي عالم الغیب وویل که هغه څوک یي تصدیق وکړي چي ورغلي دي هغه هم کافر دي ددغه ټولو سره دکافر کافر لفظ وايي موږ په ټول مذهب کې تر شامي احتیاط واله کتاب بل لرو هم نه

په دغه ټولو کې لزوم دکفر مراد دي فقط دغه زجري الفاظ دي چي په ګوناه کبیره او مکروه تحریمي کې داخل دي.

دریم اصل واوره

- دده څخه به مقصد پوښتل کیږي یو مسئله راځي چي دملا څخه سړی بد وړي کافر دي دا په هغه صورت کې چي دعلم په وجه وي فقط.

همدارنګه دږیر څخه یي دسنت په وجه بد راځي کافر کیږي.

وما علینا الاالبلاغ المبین

{ اصولو د تکفیر }

بسم الله الرحمن الرحيم

اصول دتکفير شروع دي

سوال: که ديو سړی نه نوي (۹۹) احتماله دکفر وو په کلام کې او يو (۱) احتمال يي داسلام وي

ددغه سړی حکم څه دي.؟

علامه شامي ډير ځايه داخبره کوي چي که دشهيدانو رښکۍ په ځان په سي وځړوي او ووايي چي دغه ماجوړه وي ماته صحت راکوي ، اوياحرامه ډوډۍ په نيت دثواب ورکړي کافر دي ورکونکي او خوړنکي دواړه کافران سول که خوړونکي دعاء وکړل او هغه دريم آمين باندي وويل هغه هم کافر سو.

شامي ردالمحتار (ج ۲ / ص ۲۸)

او همدارنګه شامي په (ج ۳ / ص ۳۲۵) کې وايي: که يو چا وويل چي ده ته مسروقه(هغه شي چي ديو چا څخه ورک شي يا يي يو څوک ځيني پټ کړي) معلوم دي کافر سو،اوکه يو چا وويل چي ماته پيريانان داحال وايي هغه هم کافر سو ځکه پيري ته يي عالم الغيب وويل که هغه څوک يي تصديق وکړي چي ورغلي دي هغه هم کافر دي ددغه ټولو سره دکافر کافر لفظ وايي موږ په ټول مذهب کې تر شامي احتياط واله کتاب بل لرو هم نه

په دغه ټولو کې لزوم دکفر مراد دي فقط دغه زجري الفاظ دي چي په ګوناه کبيره او مکروه تحريمي کې داخل دي.

- شامي په (ج ۵ / ص ۲۵۷) کې وايي که يو څوک ووايي چي دشاه آغا يادپيرانو رښکۍ (هغه ټوکر چي ددوي پر قبرو لکه بيراغ راځوړند وي) ماته شفاء راکوي يا زما څخه شر دفعه کوي دغه شخص کافر دي.

إعتراض دادي چي نوتاسو ولي په هره خبر سړی کافر بولي او ددي سره سره چي دغه مخکي کوم څه ذکر سول دايواصل دي چي که ديو سړی نه نوي (۹۹) احتماله دکفر وو په کلام کې او يو (۱) احتمال يي داسلام وي هغه هم ضعيف

په دغه سړی به حکم داسلام کوئ

نو تاسو ولي په لوي لاس په هره کوچنۍ خبره خلک کافرکوي هغه داحتياط خبرې ته مو نظر وکړي او وروسته بيا چي په چا باندي کفر وايي هغه ته هم نظر وکړئ.؟

- جواب: علامه شامي رحمه الله تعالی په (ج ۳ / ۳۱۶) کې ددغه اعتراض دفعه کړي يوتکفير دي يو کفر يو التزام دکفر دي او يو لزوم

په هغه کفر کې چي اختلاف وي چي په دي کافر کيږي او کنه په هغه کفر کې التزام دکفر نه سته.

اوهغه چي ۹۹ وجهي يي په کفر وي او يوه وجه يي دي اسلام نو تاسو يي په اسلام حمل کړي داهغه وخت چي ته يي تکفير کوي.

اوهغه چي مثلاً مطلق وښوري کافر دي هغه هم لزوم دکفر دي التزام نه دي.

فقط تجديد دايمان او دنکاح غواړي .

يوداسي دي چي ټول په کفر داخل سو مرتد شي

يو هغه دي چي ته يي تكفير كوي په هغه كې داوجه ده چي كه ۹۹ قوله يي په كفر راتلل او يو يي په اسلام وو نو ته به يي په اسلام حمل كوي دغه هغه شرائط غواړي.

اودغه كفر چي تجديد دنكاح به كوي او تجديد دايمان به كوي داپه يوه كلمه هم راځي لكه پيغمبر صل الله عليه وسلم ته بنكنځل وكړي العياذ بالله، يا دسنتو سپكا وي وكړي او نور داسي دا شيان چي په لزوم دكفر كې دي

خو دلته هم تجديد دايمان او دنكاح غواړي

شامي ردالمحتار (ج ۵ / ص ۳۱۶) .

دالتزام او لوزم دكفر بنه بحث تير سوي دتير هفتي په درس كې

دلته څه نور شيان سته چي ډير احتياط به كوئ

دلته په قرآن شريف كې يوځاي راځي:

{ يا أيها الذين آمنوا إذا ضربتم في سبيل الله فتبينوا ولا تقولوا لمن ألقى إليكم السلام لست مؤمنا تبتغون عرض الحياة الدنيا فعند الله مغانم كثيرة كذلک كنتم من قبل فمن الله عليكم فتبينوا إن الله كان بما تعملون خبيرا }[النساء 94]

(دوي خبري سختي ناروا دي)

أول: ديو چا كفر يقيني دي ته كافر نه ورته وايي.

دوهم: او كه يو څوک يي وجه دخلاصون لري ته كافر ورته وايي بيا هم سخت خطأ يې.

قاديانيان دا عقيده لري چي الله تعالى په قرآن كريم وايي يو چا تاته سلام واچه وي ته مه ورته وايه چي مؤمن نه يي

دذکر سوي ايات شريف اصل ترجمه داده چي که په ظاهره چا ايمان راوړي وو باطن يي ته مه پلټه ته مه ورته وايه چي مؤمن نه يي که يوچا درته وويل چي زه مسلمان يم ته دا مه ورته وايه چي ته مؤمن نه يې په زړه که دفلان فلان شي سته

دوي (قاديانيان) وايي چي موږ تاسو ته سلام دراچه وو تاسو به موږ ته کافر نه وايي.

دوهم پيغمبر صل الله عليه وسلم فرمايي: الرقم الحديث ۳۹۱ :- حدثنا عمرو بن عباس، قال: حدثنا ابن المهدي، قال: حدثنا منصور بن سعد، عن ميمون بن سياه، عن أنس بن مالك، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من صلى صلاتنا واستقبل قبلتنا، وأكل ذبيحتنا فذلك المسلم الذي له ذمة الله وذمة رسوله، فلا تخفروا الله في ذمته » رواه البخاري في باب استقبال القبله

پيغمبر صل الله عليه وسلم فرمايي: څوک دغه زموږ لمونځ وکړي او زموږ قبلي شريفي ته مخامخ سي او زموږ ذبيحه خوري دغه مسلمان دي

قاديانيان وايي چي موږ دغه ټول کارونه کوو دوي همدا رکم لمونځ کوي لکه موږ

دوي وايي چي تاسو ولي موږ ته کافر وايي...؟

جواب زموږ دادي چي دغه تاسو يي وايي دغه داسلام جامع او مانع تعريف نه دي

چي«من صلى صلاتنا واستقبل قبلتنا، وأكل ذبيحتنا فذلك المسلم الذي له ذمة الله وذمة رسوله، فلا تخفروا الله في ذمته »

داسلام تعريف نوکوم دي ..؟

جواب: داسلام اصلي تعريف دادي چي ته به په ضرورياتو ددين ايمان لري

پيغمبر صل الله عليه وسلم فرمايي : 34 – (21) حدثنا أحمد بن عبدة الضبي، أخبرنا عبد العزيز يعني الدراوردي، عن العلاء، ح وحدثنا أمية بن بسطام، واللفظ له، حدثنا يزيد بن زريع، حدثنا روح، عن العلاء بن عبد الرحمن بن يعقوب، عن أبيه، عن أبي هريرة، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، قال: «أقاتل الناس حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله، ويؤمنوا بي، وبما جئت به، فإذا فعلوا ذلک، عصموا مني دماءهم، وأموالهم إلا بحقها، وحسابهم على الله »رواه المسلم وكثير كتب الاحاديث.

په حديث شريف کې مې دغه ځاي مطلب دي «ويؤمنوا بي، وبما جئت به» پيغمبر صل الله عليه وسلم فرمايي چي ايماندار هغه دي چي په ما او په هغه څه چي ماراتګ ورباندې کړي ايمان ولري.

دا يو اصل سو اوس که يو سړی راځي داټول مني البته ديوه داسي شي څخه منكر وي چي دضرورياتو څخه ددين وي هغه كافر دي مسلمان نه دي

مثلاً يو سړی دي لمونځ کوي، روژه نيسي بل طرف ته په قرآن خيرږي، قرآن په قاذوراتو کې غورځوي ، قرآن كريم ته بنكنځل كوي، رسول الله صل الله عليه وسلم ته بنكنځل كوي العياذ بالله من ذالک دغه كه زر واره لمونځ کوي روژي نيسي مؤمن نه دي

نو موږ ورته وايو چي قرآن صحيح وايي خو تاسو جهال يئ نه په پوهيږئ دا ستا سي غلطي ده

ځكه ته دضرورياتو ددين څخه منكر يي په صريح ايات شريف کې راځي : { ما كان محمد أبا أحد من رجالكم ولكن رسول الله وخاتم النبيين وكان الله بكل شيء عليما } الأحزاب[40]

پيغمبر صل الله عليه وسلم خاتم الانبياء دي ته خو دصريح آيات شريف څخه منكر يي زر واره چي لمونځ ،روژه،زكات ، حج وكړي په دي نه مؤمن كيږي.

اوس زموږ ټول کتابونه وايي چي مؤول (تأويل کوونکي) کافر نه دي

قاديانيان وايي چي زه ستاسو په أصل درسره ځم زه په ذکر سوي آيات شريف کې تأويل کوم خاتم النبين : معنا ظاهري رسول، واقعي رسول، ښکاره رسول هغه نه سته خو دغه غلام محمد هغه رسول دي بعينه هغه نه دي خو فقط فرق يي دادي چي دده(د غلام محمد) په بدن کې هغه رسول را ښکاره سوي .

جواب يي دادي شاه صاحب وائي چی تأويل په ضرورياتو ددين کې دسړی څخه کفر نه دفعه کوي که په ضرورياتو ددين کې يو سړی تأويل کوي هم کافر دی

مثلاً الله تعالی په قرآن کې فرمايي : { وأقيموا الصلاة وآتوا الزكاة واركعوا مع الراكعين }البقرة[43]

دټولي دنيا علماء کرام او ټول مسلمانان په دي متفق دي چي الصلاة معنی داده کوم يي چي موږ پينځه وخته او په نورو مواقعو کې کوو

که يو څوک وايي چي صلاة دصَلَوَ يا صلا څخه دي چي معنی يي تحريک ته دصلوينو وايي بي ادبي معاف کوناتي ښورول مطلب ډانس کول دصلاة معنی ده په آيات شريف کې دغه ډانس مراد دي العياذ بالله دغه په اتفاق کافر دي تأويل يي وکړي خو تأويل يي په ضرورياتو ددين کې وکړي چي دغه سي تأويلات دکفر سبب دي

خاتم البنيين دغه دضرورياتو څخه ددين دي چي څوک هر قسم تأويل په کې کوي کفر نه ځيني ايسته کيږي مؤول يي کافر دي.

قاديانيا کافران دي دشک شبهي څخه خارج

همدارنګه الله تعالی په قرآن کریم فرمايي: { ولأضلنهم ولأمنينهم ولآمرنهم فليبتكن آذان الأنعام ولآمرنهم فليغيرن خلق الله ومن يتخذ الشيطان وليا من دون الله فقد خسر خسرانا مبينا }[النساء 119]

زموږ ټول کتابونه تر تغيير خلق الله لاندي ليکي چي خالونه وهي، دغابنونو ترماپين فاصله راولي، ږيره خريي، اوداسي نور

لکن اوس يو سړی تأويل وکړي چي دغه شيان نه دي ترلاندي بلکې دغه آيات شريف څخه مراد باطني تغيير دي

اوس دغه سړی کافر کيږي عملي نه اعتقادي

ګوناه خو يي وکړل سخت ګوناه ګار دی فاسق دي خو کافر نه دي اعتقادا

ځکه دا خبره دضروورياتو ددين څخه نه ده

خلاصه: داسول چي قاديانيان مطلقاً کافران دي.

لطيفه: حضرت مولانا عطاء الله شاه بخاري رحمه الله تعالی الباري يو ستر عالم تير سوي يو ورځ ددغه غلام محمد کادياني سره مخ سو – دي دهغه زمان سړی دي – غلام محمد ورته وايي چي زمحمد يم محمد خو تاسو هم منئ اوپه قرآن کې چي کوم خطاب سته ټول ماته سوي عطاء الله شاه بخاري صاحب ورته وويل چي ته خو غلام محمد يي دي ورته وايي چي قطعه کړه نظر له مضاف څخه – مضاف دلته غلام دي – يوازې محمد پاتيږي بس زه محمد يم عطاء الله شاه بخاري صاحب ورته وويل چي داسي ده نو زه عطاء الله يم قطعه که نظر له مضاف څخه – چي عطاء دي يوازي الله پاتيږي – زه الله يم ته کله ما را استولي يي ولي دروغ وايي «« فبهت الذي كفر »» غټ سړی يي بي جوابه کړي خاوري يي په سر سوي

مولانا سرفراز خان صفدر صاحب هم يوه كسه كوي دي ډير حاضر جوابه سړی وو

حضرت مولاناسرفراز خان صفدر صاحب وايي چي زه كوچني وم دده تقرير ته ناست وم نو دجنت او دوزخ بحث په تقرير كې شروع وو دلته يوه په راغبړ كړل چي مولوي صاحب په جنت كې چلم سته.؟ وايي ده ورته وويل چي هو سته خو چلم اور غواړي اور په جنت كې نه سته هغه په ددوزخ څخه ورته راوړي .

بيا وروسته خط ورته راغلی هغه يي خلاص كړي په كې ليكلي دي چي ته كافر يي ته كافر يي ده هم په لوړل آواز دغه ويل چي زه كافر يم زه كافر يم مولانا صاحب وايي چي زه كشر وم ډير سخت ورته حيران سوم چي دي وايي چي زه كافر يم الحمدلله زما پر كفر مطلب چي زه كافر يم په دغه حمد وايم مولانا صاحب وايي چي ده وروسته دغه آيات شريف ووايه: { لا إكراه في الدين قد تبين الرشد من الغي فمن يكفر بالطاغوت ويؤمن بالله فقد استمسک بالعروة الوثقى لا انفصام لها والله سميع عليم }البقرة[256]

وضاحت يي وركړي چي زه دغه سي كافر يم چي په شيطان كافر يم، په بت كافريم وغيره... په دغه ايمان نه لرم يوازې مي ايمان پر مؤمَن به شيانو دي فقط كوم چي زما دين يي راته وايي.

همدارنگه دده په شان كې راځي چي ديو شعيه سره دي يو ځاي سو هغه ته يي وويل چي نوم دي څه دي.؟ هغه شعيه ورته وايي چي نوم مي كلب العلي دي ده ورته وويل چي نو دكلب العلي نوم دي ولي پر ځان ايښي.؟ هغه شعيه ورته وايي چي الله تعالى دحضرت على سپي جهنم ته نه وراچوي نوما هم پر ځان ايښي چي الله تعالى مي دوزخ ته وانه چه وي

دغه شعيه بيا دشاه صاحب څخه پوښتنه وكړه چي ستا نوم څه شي دي شاه صاحب ورته وويل چي زما نوم خنزير الله دي هغه شعيه ورته په تعجب كې سو چي سبحان الله

خنزير الله ستا نوم دي .؟ شاه صاحب ورته وويل چي دحضرت علي كرم الله تعالى وجهه سپي بخښي خپل خنزير نه پخښي ته څنګه انسان يي.

دده مبارک زيارت په ملتان کې دي

دوهمه ډله دپرويزيانو ده:

دوي ځانونه اهل القرآن بولي احاديث مکرمه يو هم نه مني دوي وايي چي دپيغمبر صل الله عليه وسلم په زمانه کې چي دده مبارک خبري منل کيدلي په لحاظ داولی الامر منل کيدلي نو اولی الامر چي ژوندي وي امر يي نافذ دي چي وفات سي بيايي امر چيرى دي

نو دوي وايي چي رسول الله صل الله عليه وسلم چي وفات سو نور دهغه خبري داعتبار وړ نه دي العياذ بالله من ذالک او هر څه چي عمل يي پاته دي هغه قرآن دي بل شي نه دي

دوي هم په اتفاق کافران دي دوي دوې دري ډلي دي ټول کافران دي .

بله ډله شعيه ګان څنګه دي..؟

عبدالشکور اللکنوي صاحب يو کتاب وليکلي په زمانه کې دحکيم الامت کې چي اثنا عشره

دغه ۱۲ ډلي شعيه ګان دايي ټول کافران کړل يو په دوي کې اسماعليه ډله ده هغه خپله شعيه ګان فتوى دکفر باندې کوي ډير سخت ګومراه دي

دعبدالماجد په نامه يو عالم په دغه کتاب سخت ردونه باندي وکړل چي تا کافران کړل داسي نه دي

حکيم الأمت راولاړ سو دعبد الماجد جوابونه يي ورکړل چي دعبد الماجد خبري غلطي دي البته دعبد الشکور صاحب خبري يو څه صحيح دي خو دده په کتاب يي

تقریظ ونه کړي څه دیوبندیانو مبارکانو تقریظونه باندي وکړل خو حکیم الأمت صاحب به ویل چي دوي به ورته وویل چي شعیه ګان دغه خبره کوي دغه خبره کوي نو په دغه اساس کافر دي .

حکیم الأمت صاحب به ورته ویل چي هغه څوک دغه خبر کوي هغه کافر دي په ټولو ولي فتوی دکفر کوي په دوي کې داسي سته چي ددغه عمل څخه بیزاره دي ښکنځل نه کوي اوس څوک داضمانت کولاي سي چي ټول دغه ښکنځل کوي دامعلومات چاته کیږي

دجناب حضرت حاجي شیخ صاحب بیان

داسي طریقه مختاره کړئ اوس یو څوک ماته وایي چي شعیه ګان دام المؤمنین په باب غلطي خبري کوي دصحابه کرامو دصحابیت څخه منکر دي او داسي نور بس که دغه خبره چا کول هغه کافر دي او په هر شعیه داسي فتوی را ایستل چي کافردي تریو حده محاله ده په دي باب کې زه دحکیم الامت تابعداري کوم.

دزیات تفصیل لپاره انعام الباري (ج ۱ / ص ۳۲۱ – ۳۳۴)

او بزازیه علی هامش هندیه (ج ۶ / ص ۳۲۱ – ۳۲۶)

خو انعام الباري ډیر ښه تفصیل کړي عملي کفر هرې ګوناه کبیري ته وایي

اوس زموږ دزمانې بعضي حضرات ډیره عجله کوي دکفر په مسائلو کې مثلاً په ټلیفون داسي زنګ یانعت ثبتول چي دالله الله ویل په کې وي یا درود په ثبتول چي قفل یي خلاصه وې دغه ته شرح دفقه الاکبر اونور کتابونه دکفر لفظ ورته وایي داټول کفر عمل مراد دي یعني ګوناه کبیره که په غلط نیت یي داسي کړي وي

حتی په حرام کي یي نه راوړي

شامي ردالمحتار په (ج ۵ / ص ۳۰۶) تر احیاء الاموات مخکې توري دي که استاذ شاګرد ته په والله اعلم تنبیه ددي ورکول چي درس خلاص سو نو مکروه تحریمي دي یعني دغه عمل ګوناه کبیره ده.

او که دعلم تفویض الله تعالی لره کوي دا خو بیا مستحسن کار دي

پاملرنه: که کوم ځاي غلطي راغلي وي دهغه نسبت ما لره دي کیداي سي چي زه به په هغه پوه سوي نه وم

دیاد درس دکاپي کولو حق هیچاته هم ثابت نه دي فلهذا أخذ وکړئ مننه

والسلام

فهرست

چاپ ېي ازاد دي

ان شاء الله تعالی د سراجي درسونه به هم ډير ژرخپاره سی

د دعا درخواست دي .!

تاريخ : ۰۹/۰۸/۱۴۴۴ ہ ق مطابق ۱۰/۱۲/۱۴۰۱ ہ ق ساعت ۹:۳۰ بعد ظهر دقيقی ورځ چهارشنبه

